د افغانستان د خپلواکی د سلمی کالیزی په ویاړ

# د افغانستان لومړنی اساسی قانون

## ته یوه کتنه

### قانونپوه داکتر محمد طاهر بورگی

دیجیتال جوړښت: محمد قاسم آسمایی

خپروونکی: د راه پرچم نشرات

**د کتاب پېژند لیک:**

عنوان: **د افغانستان لومړنی اساسی قانون ته یوه کتنه**

لیکوال: **قانونپوه داکتر محمد طاهر بورگی**

لمړی چاپ: **د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه ۱۹۹۵**

دیجیتال جوړښت: **محمد قاسم آسمایی اکتوبر ۲۰۱۹**

خپرونکی: **د راه پرچم نشرات**

قانونپوه دوکتور بورگي

# دافغانستان لومړني اساسي قانون ته يوه کتنه

۱۳۷٤

روی جلد چاپ اول کتاب

در مورد طرح دیجیتال کتاب

میر عبدالواحد سادات

## اثر ارزشمند پیرامون نخستین قانون اساسی افغانستان

به تعقیب نشر دیجیتالی نخستین قانون اساسی به مناسبت صدمین سال احراز استقلال، به همت حقوقدان سابقه دار جناب محمدقاسم آسمایی، اکنون ایشان کتاب پر ارزش (د افغانستان لومړنی اساسی قانون ته یوه کتنه) تألیف روانشاد قانونپوه داکتر محمدطاهر بورگی حقوقدان شهیر کشور را به شکل دیجیتال، آمادۀ نشر در کهکشان انترنیت ساخته است.

از دید این قلم پرداختن به معرفی هرچه گسترده تر نخستین قانون اساسی به دلایل فراوان حایز اهمیت اصولی و استثنایی میباشد و چه نیکو که فرهنگی نستوه و فرهیخته آسمایی گرانقدر این مهم را در صد سالگی استرداد استقلال انجام میدهد.

اولین بُعد اهمیت موضوع در احوال جاری ازین حقیقت تلخ ناشی میگردد که پاشنۀ آشیل افغانستان، کماکان فقدان دولت مقتدر ملی و حاکمیت قانون میباشد و متأسفانه همچنان دشمنان تجدد و ترقی با قانون و حاکمیت آن خصومت مي ورزند و در راستای استقرار شریعت شمشیر میزنند و یا به بیان واضح تر، اخلاف ملای لنگ و حبیب الله کلکانی تنها "مشروعه" میخواهند و مشروطه را مردود و قانون را سوغات غرب میخوانند. مبرهن است که حل و فصل این منازعۀ تاریخی بدون پرداختن به ابعاد نظری موضوع و درک دقیق

و همه جانبه از ضرورت دولت ملی قانون محور و عدالت گستر میسر نمي گردد.

قانون و حاكميت آن در واقع راه گذار به مدنيت ميباشد و در جهان معاصر حاكميت قانون پل وصل با جهان متمدن ميباشد و افغانستان با تأسیس نخستین دولت ملی كه با انفاذ اولین قانون اساسی تعريف ميگردد، برهبری دوكتور حقوق شاه امان الله، این پل وصل تاریخی را بنا نهاد.

متأسفانه بعد از سقوط نهضت امانی برای ساليان متوالی و تا ختم حاكمیت خانوادۀ "مصاحبان" بنابر كینه ورزی با شاه امان الله و نهضت مترقی امانی، زمینه های معرفی و پرداختن به نخستین دولت ملی و ارزشهای متعالی اولین قانون اساسی افغانستان، بسیار محدود بود و این تعصب سایه تاريك را در شناخت نسل های بعدی و جنبش های روشنفكری بوجود آورد كه عواقب دردناك آن تا اكنون محسوس است.

در سير و تطور تاريخ تكامل موسسۀ دولت در افغانستان، اساسگذاری نخستين دولت ملی بر مبنای قانون اساسی ميتواند به حيث موضوع تدقيق و تحقيق پژوهشگران قرار گيرد، آنچه در اصول و در تجربۀ جهانی به حساب ( دولت - ملت و ملت - دولت ) مطرح است و با قرارداد وستفاليا ( ١٦٤٨ م ) معيارهای دولت ملی را معرفی مينمايد، در افغانستان در وجود نخستين قانون اساسی مسجل گرديده است.

البته زمينه های تاريخی و ذهنی آن با ريفورمهای امير شيرعلي خان و بعد از شمس النهار و طی مشروطيت اول و دوم و انديشه های سراج الاخبار به رهبری آزاديخواه بزرگ محمود طرزی ميسر

گردید. درین ارتباط تلاش پر اسرار امیر عبدالرحمن که با خون و آهن منجر به استقرار دولت مقتدر مرکزی و دورۀ آرام سلطنت امیر حبیب الله و پیاده نمودن یکتعداد ریفورم ها زمینه های عینی گذار به دولت ملی را مساعدت نمود.

بدینرو در تاریخ افغانستان دوکتور حقوق شاه امان الله نه تنها محصل استقلال سیاسی و بانی نهضت مترقی و تجددخواهی امانیه و همچنان اساسگذار نخستین قانون و مبتني برآن اولین دولت ملی در تاریخ ما میباشد.

با مطالعۀ این اثر مستند و مستدل، خواننده درك مینماید که در بحث پرجدل گذار از «مطلقیت» و مشروط ساختن اختیارات لامحدود حکام، که راه را به سوی مشروطیت هموار نماید، ضرورت انفاذ قانون مطرح میگردد تا در وجود قانون، حدود اختیارات حاکم و هم حقوق اساسی اتباع، تعریف و تسجیل گردد و قانون اساسی جایگاه قدرت را مشخص و مهار ساخته و قوه های متشکلۀ دولت را تعریف نماید؛ چنانچه ارسطو قانون اساسی را تبین کننده جایگاه دستگاه های دولتی دانسته است.

قانون اساسی معرف هویت ملی و بازتاب ارزشهای متعالی استقلال، حاکمیت ملی، تمامیت ارضی، بیرق ملی و... میباشد که راه را برای تعریف ملت شدن مساعد میسازد.

بدینترتیب تصویب قانون اساسی، حد فاصل با فکر قرون وسطایی و حاکمیت مستبدانه فردی و خانوادگی میباشد که در مبارزه تاریخی علم و جهل و جدل تاریخی سنت و تجدد، جایگاه مردم را از موقف رعایا و رعیت بسوی شهروند شدن تعریف میکند که قانون حامی آن و همچنان شهروند آگاه بحقوق خود پاسدار قانون میباشد.

برای نسل جوان و بزرگ شده در سال های فقدان دولت و قانون، بسیار جالب خواهد بود که افغانستان حدود يك قرن قبل با انفاذ قانون اساسی و تأسیس دولت ملی در ردیف کشورهای پیشتاز قاره آسیا قرار میگیرد و حتی از لحاظ محتوی بر قانون اساسی ایران آنوقت ارزشهای متمدن تری داشته است، چنانچه در طرح اولی قانون اساسی، در صفحهٔ ششم این کتاب میخوانیم که قید مذهب وجود نداشت و در واقع بخاطر درج بودن مذهب رسمی در قانون اساسی ایران، مذهب حنفی را در قانون قید نمودند.

کتاب مورد بحث ما، در سال ( ۱۹۹۵ م ) از طرف ( د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه) به نشر رسیده است که در یکصدوپانده صفحه و بداخل ده فصل منطبق به عناوین نظامنامه اساسی:

مقدمه، حقوق اتباع افغانستان، وزیران، مأمورین، شورای مشوره و شورای دولت، محاکم، دیوان عالی، امور مالی، اداره ولایات و احکام متفرقه، تمام موارد و احکام قانون اساسی را مورد بحث و معرفی قرارداده است.

آنچه اهمیت کتاب را مشخص و در ردیف مأخذ معتبر قرار میدهد، رعایت اصول تدقیق و تحقیق و ذکر دقیق ماخذ با اعتبار از مورخان نامدار، جامعه شناسان و حقوقدانان است که تا بیست اثر را به شیوه تحقیقی در صفحات ( ۱۱۳ و ۱۱٤ ) درج نموده است.

مطالعهٔ این اثر به ما كمك مینماید تا با اصول اساسگذاری اساسات دولت مدرن در شرایط يك قرن قبل در افغانستان آشنا گردیم که چگونه قانون اساسی برای اولین بار نوعی تفکيك و تعریف ابتدایی از ارکان ثلاثهٔ دولت مینماید و برای نخستین بار محاکم بشکل ثلاثه و آزاد تعریف (صفحات: ۷۸، ۷۹، ۸۲ و ۸۵ ) و قدرت و اداره

دولتی در وجود وزیران و مامورین و مرکز و ولایات ( صفحات ٤٣ و ٤٩ )، بلدیه ها ( شاروالی ها )، ( صفحه ٩٩ ) تنظیم امور مالیه و تنظیم بودجه ( صفحه ٨٨ ) و شورای دولت و مجلس مشوره ( صفحات ٦٧ و ٥٢ ) توضیح گردیده است.

این اثر سودمند بیان میدارد که چگونه واضعان قانون اساسی در احوال یك صدهٔ قبل توانسته اند، اصول قانونگذاری را رعایت و موارد تخنیکی تشریح و تفسیر قانون، تعدیل قانون و حالات استثنایی منجمله برقراری حکومت نظامی را مسجل نمایند.

از طریق مطالعه این کتاب میتوان به ارزشهای والای آشنا گردید که نخستین قانون اساسی به مردم افغانستان به ارمغان آورده است:

تعریف از آزادی و انواع آن، لغو بیگار ( صفحه ٣٧ )، لغو کنیز و مصادره ( صفحه ٤٧ )، آزادی مطبوعات و تنظیم قانون آن ( صفحه ٣٣ و ٣٨ ) و...

بدینترتیب به دقت متوجه میشویم که نخستین قانون اساسی افغانستان نه تنها آرمان های مدرنیته و مترقی را بازتاب داده است و در عین حال با روح دین مقدس اسلام و جوهر آن که عدالت میباشد، تطابق کامل داشته است.

البته این امتزاج خلاق محصول دانش و تجربه بزرگان وارد در علوم دینی، بشمول بزرگترین و متبحرترین علمای دین و فرزانگان آگاه از مسایل دنیایی و معاصر غرب میباشد.

بنابر درك دقیق از عقب مانی جامعه و عدم درك درست از افادهٔ قانون، چنانچه در صفحه ( ١٤ ) این کتاب میخوانیم، آگاهانه افادهٔ نظامنامه، بر گزیده میشود.

اینکه شرارت پیشه گان همانند ملای لنگ که در یك دست قرآن کریم و بدست دیگر قانون اساسی را گرفته و از مردم سنتی پکتیا سوال میکرد که کدام را قبول دارید؟ آشکارا دسیسه استعمار انگلیس و به اساس فیصله مدرسه دیوبند انجام یافته است.

از مطالعه این کتاب خواننده متوجه میگردد که شاه امان الله برخلاف تصور عام، جوان بی تجربه و ناوارد نبوده و چنانچه با سهمگیری در مباحثات لویه جرگه ثابت نموده است که بر مجموع موارد آشنایی مبسوط دارد و از وضع منطقه و جهان و تغیرات بین المللی وقوف زیاد داشته و عالم و عامل با قوهٔ عالی نطق و بیان میباشد.

همچنان شاه امان الله بمثابه بزرگترین نماد نوگرایی و مدرنیته از احساس و ارادهٔ والا بخاطر تحقق اهداف ملی و مترقی برخوردار است و با پیشنهاد بخاطر غیرمسوول خواندن پادشاه مخالفت مینماید.

زنده یاد داکتر محمد طاهربورگی در کتاب خود به نکات ظریف تاریخی نیز اشارات دارد و منجمله مکث بر این حقیقت که برخلاف اروپا تغیرات در افغانستان از بالا و به اساس ارادهٔ حاکمان انجام میگیرد و چنانچه در صفحه ششم کتاب میخوانیم که چگونه وکلای مردم در لویه جرگه با درج، «تضمین آزادیهای اتباع» مخالفت مینمایند و آنرا خلاف شرع میخوانند!!!

آماج این نبشته، معرفی اثر پرارزش زنده یاد قانونپوه داکتر بورگی میباشد و با وجودي که نقد کتاب مطرح نیست، اما نمیخواهم در یك مورد عدم همنوایی خود را با دوست بزرگوار و همسلك و همکار دانشمند و مشفق ما، با خوانندهٔ عزیز شریك نسازم که در صفحهٔ چهارم متذکر شده اند:

«... زمونږ د هیواد اساسی قانون، د ملت د غوښتنی او مطالبی په اساس منځ ته را نغی، بلکه دا دپادشاه یوه شاهانه هدیه وه چی اعلیحضرت دا هدیه خپل ملت ته ورکوله او ملت دا هدیه مستردوله او نه یی منله»

درین ارتباط چنانچه قبلاً متذکر شده ام، باید با مسئولیت تکرار نمایم که مردم افغانستان به شهادت تاریخ از اول با ریفورم ها مخالفت نکرده اند و بی هراس از اشتباه میتوان گفت که هرگاه دسایس الحیل استعماری انگلیس وجود نمي داشت، نهضت امانی و ریفورم های وضع شده، علی الرغم اشتباهات اراکین و مسئولان تداوم میافت و افغانستان با سقوط مواجه نمیگردید.

منحیث حسن ختام، در حالیکه مطالعۀ این اثر ارزشمند را در معرفی نخستین قانون اساسی به منوران و همسلکان پیشنهاد مینمایم، برای کساني که با روانشاد مؤلف آشنایی ندارند، عرض میگردد که بیوگرافی شان در اخیر کتاب وجود دارد.

به احترام به حق دوستی و آشنایی باید عرض نمایم که:

زنده یاد قانونپوه داکتر بورگی از شخصیت های نیك، صادق و سابقه دار و حقوقدان شهیر افغانستان، استاد فاکولته حقوق و علوم سیاسی پوهنتون کابل، مؤلف، مترجم و نویسندۀ مقالات زیاد ادبی و حقوقی میباشد که تعداد از آثار شان منحیث مواد درسی و مأخذ مورد استفاده محصلان قرار داشت.

قابل یاآوری است که زنده یاد بورگی شخصیت ارجمند ملی و وطندوست در شرایط دشوار تا سال ( ۱۹۹۲ م ) در شورای قانون اساسی و انستیتوت تحقیقاتی و علمی وزارت عدلیه جمهوری افغانستان مصدر خدمات شایسته بوطن گردیده است. با حرمت

# د مطالبو فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| لومړی فصل: مقدمه | ۱۷ |
| دوهم فصل: د افغانستان د اتباعو عمومی حقوق | ۳۳ |
| دریم فصل: وزیران | ٤۹ |
| څلورم فصل: مامورین | ٦۱ |
| پنځم فصل: د مشوری مجلس او د دولت شوری | ٦٦ |
| شپږم فصل: محاکم | ۷۸ |
| اووم فصل: عالي دیوان | ۸٦ |
| اتم فصل: مالي امور | ۸۸ |
| نهم فصل: د ولایاتو اداره | ۹۳ |
| لسم فصل: متفرقه مواد | ۱۰۲ |
| ماخذونه: | ۱۱۳ |
| د مؤلف لنډه پیژندنه | ۱۱٥ |

## سریزه

څه د پاسه اویا کاله کیږي چې موږ اساسي قانون لرو. په دې اوږدې مودې کې زموږ په اساسي قانون کې هیڅ یو علمي اساسي بدلون نه دی راغلی. البته اساسي قوانین په هرې یوې پادشاهی یا د هرې رهبرۍ، په بدلون کې نوی شوی، نوم یې تغییر موندلی، اساسي نظامنامه، اساسي قانون اصولنامه شوې او اصولنامې ته قانون ویل شوی دی؛ مواد او احکام یې وړاندې وروسته شوي او څه انشایي، ذوقي تغییرات پکې راغلي او بعضاً حتی مطالب یې هم اوښتي دي، **مگر په دې تیرې اوږدې مودې کې هیچا خپل هیوادوال د اساسي قانون له مطالبو سره آشنا نه کړل. په دې موده کې د هیواد د اساسي قانون په برخه کې نه کوم درسي کتاب ولیکل شو، نه کومه علمي رساله او نه کومه شرحه خپره شوه او نه کومې محکمې په خپلې فیصلې کې پر اساسي قانون استناد وکړ.**

دا مطالب خپله په ټولنه کې د اساسي قانون موقف او له اساسي قانون سره د هیوادوالو د علاقې اندازه ښیي. دا خپله د دې ښکارندوی دی چې رعیت او حکومت، له ادارې لاندې اولس او اداره کوونکی، د آزادو حرفو خلك او د دولت په تشکیلیدو کې شامل مامورین، قضات، څارنوالان او حتی د حقوقو د پوهنځی استادان قانون ته په کوم نظر گوری او له هغه سره څومره علاقه لري؟

له یوه قانون سره علاقه لرل، په دې اړه لري چې هغه قانون ته څومره ضرورت لیدل کیږي او دا قانون کوم درد دوا کولی شي؟ د حقوقي ستونزو د حل لپاره چې قانون ته مراجعه نه کیږي او حقوقي ستونزې له نورو لارو حل کیږي هلته قانون دوه توته ارزښت نه

لري. د دې عکس مګر د دنیا په هغو هیوادونو کې چې اساسي قانون د ملت د جدي له شوره ډکې غوښتنې په اساس منځ ته راغلی، اساسي قانون خپله خلکو د اولس پرګنو مینځ ته راوړی، ملت په وچ زور خپل اساسي قانون له مطلقه حکومت څخه اخیستی دی. په دغسې ټولنو خلك له خپل اساسي قانون او د خپل زیار له ثمر او محصول سره علاقه او مینه لري او په درنه سترګه ورته ګوري. دوی په خپلو اساسي قوانینو په لسګونو درسي کتابونه، رسالي او شرحی لیکلی دي. په تعلیمي مؤسساتو کې اساسي قانون، په مختلفو سویو، تدریس کیږي. محکمې پر اساسي قانون او نورو فرعی قوانینو خپلې متکي فیصلې هرکال خپروي. په پوهنتونونو، حقوقي انستیتوتو او حقوقی مجلاتو او جرایدو کې د اساسي قانون مطالب تحلیل او څیړل کیږي. په علمي فرهنګی، اجتماعي او تولیدي مؤسساتو کې، د مؤسسې د حقوقو او وظایفو په اړوند د اساسي قانون د احکامو د نصوصو او تفاسیرو په رڼا کې د مسألې د حل اصولي او قانونی لارې لټول کیږي او هغه حل محترم بلل کیږي. ټولې خواوې په دې حل درېږی او له هغه عدول، لویه ګناه ګڼل کیږي.

زموږ د هیواد د اساسي قانون او د نورو هغو هیوادونو د اساسي قوانینو ترمنځ له دې لنډې مقایسې وروسته لومړی د خپلو اساسي قوانینو له نقش سره، د بهتری آشنایی په منظور د ۱۳۰۳ هـ ش کال اساسي نظامنامه مطرح کړو. په لومړۍ برخه کې به د لومړی اساسي قانون یا اساسي نظامنامې نقش او په دوهمه برخه کې به د نوموړی اساسي نظامنامې محتویات مطالعه کړو.

دا چې دا کار په خپله نوع کی لومړی اقدام دی، څرګنده خبره ده چې نیمګړتیاوی به ولري، خو دا چې د داسې یو له نظر لویدلی مهم حقوقي اساس برخه کې په اخلاص وطنوالو او د اساسي قانون

علاقمندانو ته د یوی تحقیقی هڅې ثمره وړاندې کیږي امید دی چې د مطالعې وړ وګڼل شي او کومې نیمګړتیاوی چې متشبث مطالعه کوونکی ته په نظر ورځي هغه په یو بل اثر کی تکمیل کړي. په دې توګه به دا مهم له نظر لویدلی ملی سند د اولس د صحبت او جروبحث موضوع شي او په راتلونکیو اساسي قوانینو کی به ګټه ورڅخه واخیستلی شي. دا رساله په دوو برخو کې بشپړه شوې ده.

## لومړۍ برخه

## د اساسي نظامنامې نقش او څرنګوالی

**اساسي نظامنامه:**

**زموږ د هیواد لومړی اساسي قانون، د ملت د غوښتنې او مطالبې په اساس منځ ته رانغی، بلکه دا د پادشاه یوه شاهانه هدیه وه چې اعلیحضرت دا هدیه خپل ملت ته ورکوله او ملت دا هدیه مستردوله او نه یې منله.**

کله چې اعلیحضرت امان الله، د سریع پرمختګ او ترقۍ لیوال، د «ځوان افغان» ممثل، د پلار له شهادت څخه وروسته، د انګلیس دولت په مقابل کې د افغانستان استقلال اعلان کړ، د سلطنت واګې یې په لاس کې ونیوې، ټول ملت یې په شور او شوق ترشا ودرید. په جلال آباد کې، د شهید امیر له حادثې سره سم جوړ شوي سلطنت استعفا وکړه او د اعلیحضرت تره او مشر ورور یې له دولتي اراکینو سره خپل بیعتونه کابل ته راولیږل.

استقلال د افغان ملت شاه ځلمیو د خپلو تورو په زور لاس ته راووړ او د دې بري په نتیجه کې اعلیحضرت د غازي د لوړ لقب افتخار وګاټه او د ملت محبوب شو. غازي محبوب اعلیحضرت د خپل ملت د فرد فرد د زړونو په تخت کې ځای ونیو او د دې محبت په سیوري کې ملت نه یوازې د غازي پادشاه هر یو امر د مرشد د حکم په شان په پټو سترګو مانه، بلکه د ده د فاسدو مامورینو فساد، رشوت، ظلم او تیری یې هم په سړه سینه زغامه.

لنډه موده وروسته د اعلیحضرت د سریع بدلون هڅې، د ده بې تجربه ګۍ د ملت له عنعناتو او شئوناتو د ده عدم آګاهي او یا هغو ته لږ

ارزښت ورکول بالاخره د ده د مامورينو بې احساسه او فاسد کردار د دې سبب شو چې د ملت محبوبيت له ده ورو ورو په بيزارى او کرکه بدل شي او نور نو څوك د ده خبرې په پټو سترګو ونمني او ښو خبرو ته يې هم په شك وګوري.

په ۱۳۰۳ هـ ش کې کله چې اعليحضرت د حقوقي ريفورم او د قوانينو لوى لست، او د اساسي قانون مسوده لويې جرګې ته د تصويب لپاره وړاندې کړه، د ملت نماينده ګانو د اساسي قانون د مسودې له مطالعې مخ واړاوه.

همداسې يو اساسي قانون ډير پخوا د فرانسې ملت له خپل پادشاه څخه په وچ زور واخيست. هغه وړيا نه و. د دې قانون په اخيستلو کې ډيرې وينې تويې شوى، مګر کوم وخت چې اعليحضرت دا قانون خپل ملت ته مفت او وړيا د يوې هديې په توګه وړاندې کاوه، ملت هغه د يوه وچ تشکر په بدل کې هم نه اخيست.

د لويې جرګې ګرځوونکى او د هيواد د ترقۍ د آرزوګانو ليوال پادشاه مکرراً په څو څو وارې د ملت له استازو دا وغوښتل، چې له هرڅه لومړى يو وار د اساسي قانون لوستلو ته غوږ کيدي او بيا په دې اړوند که کوم ملاحظات له دوى سره وي، هغه بيان کړي. د ملت د نمايندګانو ټينګار په دې و، چې هغه قوانين چې له شريعت او فقه سره ارتباط لري، لکه د فاميل حقوق، د ميراث حقوق، د جزا حقوق، د تجارت حقوق يا هغه قوانين چې د دوى په ژوند مستقيم او عميق اثر لري، لکه د نفوسو (د عسکري مکلفيت) قانون بايد ولوستل شي. نور قوانين د اساسي قانون په شمول، د ملت نماينده ګانو په سلطنتي امورو، سياسي او اداري ايجاباتو او مملکتي لوازمو پورې مربوط ګڼل او په صراحت يې ويل چې دوى په دې مسايلو کې مداخله وړ او مناسب کار نه بولي.

اعلیحضرت چې تصمیم نیولی و، هرومرو به خپل اساسي قانون د ملت د غاړې امیل کوي، د ملت د استازو په دلایلو یې لاس له خپله عزمه وانه خیست او امر یې وکړ چې ضرور به د اساسي نظامنامې قرائت ته غوږ ږدي (لویه جرگه ۱۳۰۳، ۱۳٤ مخ ) د اعلیحضرت له دې اکید امر څخه وروسته چاته د مخالفت مجال پاتې نه شو. اساسي قانون قرائت او پر احکامو یې بحث شروع شو. بحث په هغو برخو وشو چې احکامویې له شرعي مطالبو سره تماس درلود. دا د عمومي احکامو برخه وه، چیرته چې آزادي او نور بشري حقوق تسجیل شوي وو. د اساسي قانون په نورو برخو کې، هلته چې د پادشاه، د حکومت، د شورى، د محاکمو او د اداری صلاحیتونه او وظایف تنظیم شوي وو، پر هغو اساساً بحث ونه شو. په دې اړوند به دلته څو مورده، د نمونې په توگه وگورو او وبه وینو چې د ملت استازو په دې ارتباط څه وړاندیزونه لرل.

د اساسي قانون د طرحې په دوهمه ماده کې راغلي وو: «د افغانستان دین د اسلام مقدس دین دی... » په دې ماده کی د ملت د استازو په ټینگار، د ایران د اساسي قانون په استناد، مذهب هم مشخص او ولیکل شو چې: «رسمي مذهب یې حنفي دی».

د اساسي قانون نهمو او لسمو مادو ته هم چې د افرادو شخصي آزادی یې تضمینولی، د انتقاد گوتې ونیولې شوې. اعلیحضرت دا مطالب توضیح کړل او دایې و ښودل چې دا آزادی په هیڅ توگه د شرعي احکامو مغایر نه دي.

د مامورینو د ترفیعاتو په برخه کې یو بل استازی، چې په شرعي علومو او تقوی کې وتلی معروف شخصیت و، پیشنهاد وکړ چې د شوری د وکیلانو لپاره دې هم همداسې یوه نظامنامه جوړه شي چې وکیل د ښو اجراآتو په مکافات کی وکولای شي د کلي له شوری څخه

د دولت شورى ته ترقي او ترفيع وکړي.

اعليحضرت دا پيشنهاد په دې دلايلو رد کړ چې د ملت وکيل بايد د اولس په خدمت کې وي د ملت رضائيت او اعتماد بايد ځان ته جلب کړي نه د علاقه دار او حاکم رضائيت او اعتماد. که يو وکيل د خپلې ترفيع لپاره د علاقه دار او حاکم نظر ته اميد ولري نو دى به چيرته د هغوى او د نورو مامورينو اعمالو ته د انتقاد ګوته ونيولى شي.

دا وروستى ذکر شوى مطلب د ملت د استازو د سياسي پوهى او له مشروطه او اولسواکه حکومت سره د اولس د علماوو د آګاهى اندازه په وضاحت سره ښيى. په هغو مطالبو کې چې د جرګې غړو پوهه لرله، لکه د خصوصي حقوقو په ساحه کې، د فاميل او د جزا د حقوقو په برخه کى يا د عسکرى مکلفيت په قانون کى، دوى دقيق استدلال کاوه؛ پادشاه ته يې قناعت ورکاوه او په طرحو کى يى تعديلات راوستل، مګر د عمومي حقوقو په ساحه کې چې د دوى پوهه په کلياتو او عمومياتو منحصره وه، لکه، اساسى حقوق، د قواوو تفکيك يا د قواوو توازن، دوى نه غوښتل بحث وکړي او که بحث يې کاوه او برخه يي هم اخيسته په هغه کى پاته راتلل. لکه د وکيلانو د ترفيع لپاره پيشنهاد.

د اساسي قانون په موادو او احکامو د لويې جرګې د غړو مختلف استدلالونه، که څه هم اوس د هغې زمانې او حتى د نن ورځې د حقوقي ذهنيت د پوهيدلو لپاره ډير د اهميت وړ دى مګر دلته محدود ذکر شوى موارد هم به موضوع تر يوه حده رڼا اچولى شي.

دا چې اعليحضرت په دې ټينګ و، چې هيواد يې بايد اساسي قانون ولري علل يې البته معلوم وو او هغه دا وو:

۱- اعليحضرت د شهزاده ګى له دورې، د خپل زمان د محدودو

د گوتو په شمیر، درباریانو په څیر، د جهان او خصوصاً د شرق د سیاسی، اجتماعي، کلتوري اوضاع سره، په عمومي توګه لږ او ډیر آشنا و. دی د نشراتو له لارې، په روسي امپراطوری د جاپان په پرمختګ او بری خبر شوی و. دی د ایران د استبدادي او مطلقه سلطنت په رنګیدو او هلته د مشروطی په راتګ خبر و. ده د اولسواکی هلی ځلې په ترکیه، هند او روسیه کې تعقیبولی. ده د فرانسی، آلمان، ایتالیا د خلکو له اجتماعی، سیاسی، نظامي او کلتوري ژوند څخه ډیرې خبرې اوریدلی او غرب ورته ایډیال، مودل او الګو ښکاریده. که څه هم دی غرب ته نه و تللی د غرب قصو دی په غرب مین کړی و او په اصطلاح غرب زده شوی و. ده د شهزاده ګۍ له زمانی آرزو لرله، چې که چیرې یوه ورځ د پلار په ځای کښیني او پادشاه شي او مشر ورور یې د خپلې مشرۍ په اتکا د ده د آرزو خنډ نشي دی به له خپل هیواد څخه په لنډه زمانه کې یو غربي هیواد جوړ کړي. هلته به دا د مرادخانی، شوربازار او چنداولو تورې، تنګې، کږې وږې، کوڅې او دا په سنجونو جوړ شوي د ختو کورونه نه وي هلته به د اروپا به څیر لوی، ارت، مستقیم پاخه سرکونه او په عمومي او خصوصي ثابتو نقشو په اساس په لویو باغچو کې به د پخو خښتو شایسته تعمیرونه ولاړ وي. ده آرزو لرله چې د ده د هیوادوالو خوراك، پوشاك به د اروپایانو په څیر وي او د دفتر او دیوان په کارونو کې به د مدرن جهان په دود لوی ریفورم او بدلون راغلی وي. د دې ټولو بدلونونو لپاره یو نوي قانوني نظام ته ضرورت درلود. همدا وجه وه چې کله شهزاده امان الله د سلطنت واګې لاس ته راوړې د قانون جوړولو ته یې جدي توجه وکړه او په دې کار کې له ده سره د ده خسر او استاد، خدای بخښلي محمود طرزی، او د هغه ترکی پوهانو دوستانو هم لویه مرسته وکړه. د نظامنامو (قوانینو) طرحې په ډیر دقت د شرعي

احکامو له مطابقت سره سمي جوړې شوی. د عمومي جزا په قانون کې د حدودو، د قصاص او دیت رعایت وشو او یوازی تعزیرات، غیرمقدرې جزاګانی د دولت له خوا تنظیم شوی. په هغو برخو کې چې دقیق، تفصیلی شرعی احکام موجود نه وو، لکه د تعمیراتو د جوړولو، د صنایعو د تشویق او د مهاجرینو او ناقلینو موضوعات هلته قوانین جوړ شول.

همدارنګه د مشروطه خواهی د ایډیالونو په اساس د اروپایي هیوادونو په پیروی، د اساسي قانون مسوده هم جوړه شوه، چې په هغې کې د بشر حقوق، د پادشاه واك، د حکومت، د شوراګانو، د محاکمو، د ادارې او نورو مهمو مؤسساتو لپاره صلاحیتونه او وظایف وټاکل شول. خو د مشروطی د اصولو په اساس د سلطنت صلاحیت مشروط او محدود نه شو، د سلطنت مقام غیرمسؤول او د ټول واك خاوند پاته شو، مګر دا هغه څه وو چې ټول ملت او حتی د امیر حبیب الله خان د زمانی تندرو مشروطه خواهان، چې څو څو ځله یې د پادشاه د وژلو بند او بست هم کړی و، په دې ټولواکی راضی وو او کوم اعتراض یې پر هغه ونه کړ.

دا اساسي قانون برسیره په ټولو خلاګانو د ترقي غوښتونکی پادشاه لپاره په جهاني کورنۍ کې یو مهم سند و. دې قانون د ده هیواد د مدرنو او د اساسي قانون خاوندو هیوادونو په صف کې ودراوه. د اساسی قانون په تصویب کې هغه مهم ټکی چې پادشاه پرې ټینګار کاوه. دا وو.

۲- اساسي قانون تر ډیره حده د پراګراماتیکو احکامو یوه مجموعه وه. په دې معنی چې د دې قانون ډیر احکام زموږ د هغې ورځې له ضرورت څخه زیات وو، مګر بیا هم دې احکامو د آینده انکشاف جهات ښودل او پادشاه امید درلود، چې د ټولنې د سریع

پرمختګ په وجه، دا احکام یوه ورځ د جامعی د افرادو له مدني، سیاسي احتیاجاتو سره مطابقت وکړي. دا او شاید داسي نور دلایل به هم وو چې اعلیحضرت د اساسي قانون په قرائت او تصویب ټینګار کاوه.

په دا بلې خوا کې، چې لویې جرګې اساسي قانون نه مانه، هم ښکاره دلایل موجود وو:

۱ ـ لویه جرګه د اساسي قانون په اهمیت نه پوهیده. دوی اساسي قانون ته کوم ضرورت نه درلود. لویې جرګې د هیواد اداره او د اداری څرنګوالی د سلطنت صلاحیت باله. په اولس کې دا مفکوره وه، چې: «امور مملکت خویش خسروان دانند» و او یا دا چې:

«د دنیا واړه غمونه به شاهان خوري
د دوهی ملنګه ته ولی دلګیر یې»

د جرګې استازو ته د اداری په چارو کی مداخله ناوړه بریښیده. دوی ځان رعیت باله او د خدای (ج) اطاعت، د رسول (ص) او د اولوالامر اطاعت یې خپل فرایض بلل. دوی مشروطه او داسي دولت، چې حدود او صلاحیت یې د قانون په اساس تعیین شي، نه پیژانده.

هغه زمانه په خپل ځای، همدا څو کاله پخوا کله چې محترم جناب حضرت صاحب، د تنظیمي مشرانو له خوا، د یو کال لپاره د مؤقتی حکومت رئیس وټاکل شو او یوکلنه دوره یې پای ته ورسیده، دوی په مؤقتی ریاست قناعت نه درلود او ویې فرمایل چې په اسلام کې د دولت ریاست په زمان مقید نه دی.

سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله د اعلیحضرت امان الله خان د سلطنت په اولو کلو کې صدراعظم و، په صراحت مشروطه، ضد مشروعه بلله او هغه يې د مسلمانانو په خلاف د جهاني کفر او استعمار يوه دسيسه گڼله او د شوربازار له محترمو حضرت صاحبانو څخه يې په تاکيد غوښتل، چې له ده سره يوځاى د اعليحضرت ذهن د دې دسايسو په باره کې، روښانه کړي. (دا مطلب خداى بخښلي غبار د هغه مکتوب له مخې بيانوي چې سردار حضرت صاحبانو ته ليږلى دى ). ملت د پيړيو په اوږدو کې صرف داسې يوه ټولواکى پيژندله چې د ملت ټولې چارې به د ټولواك په لاس کې وې.

څوک به چې پادشاه شو، تر څو به چې دى ژوندى و، ټولې اجرائيه يې تقنيني او قضايي چارې به د ده په واک کې وي. ده کولى شول دا ټولې چارې خپله انجام کړي او يا څوك ورته وگماري. واکمنى نه د زمان له حيثه او نه د اختياراتو له پلوه محدوديتونه نه پيژندل. د ده په چارچلند يوازې د ده وجدان او ديانت اغيزه لرله او بس.

د لويې جرگې په استازو کې د پخوانيو مشروطه خواهانو غړي هم موجود وو. د نورو استازو برعکس دوى د اساسي قانون په اهميت پوهيدل او د اولسواکۍ او د مشروطه حکومت د راوړلو لپاره او د مطلقه حکومت د ړنگولو په لاره کې يې ډيرې هلې ځلې کړې دي. دوى څو ځله د امير حبيب الله خان د وژلو قصد په دې کړى و، چې هغه په خپلې ټولواکى کې څوک نه شريک کاوه او له مطلقه حکومت څخه يې لاس نه اخيست. د ده شاهانه خاطر حتى د سراج الاخبار، له تضرع ډك غږ څخه هم رنجه کيده. ده دا ناله چې «بيا كه مسلمين به تو اميد كرده چاره كن» نه شوه منلى. همدا و، چې يووار د امير د زوکړې د جشن په شپه، د شوربازار په تنگ بازار کې، د مشروطه خواهانو تند مزاجه غړى، عبدالرحمن لودين، پر هغه د تومانچې

ډزې وکړې. بل ځل د مشروطه خواهانو پرې سرې مسلحی ډلی یا حزب غوښتل د ده واکمني نسکوره کړي، خو د دوی سرې پانی او لست، د دوی له منځه پادشاه ته ورسیده او د پادشاه د قهر او غضب په اور کې ډیر مشروطه خواهان وسوځیدل. ځیني اعدام شول، ځینې حبس شول، ځیني وبخښل شول او ځینو مکافات هم واخیستل.

د مشروطه خواهانو شمیر هسې هم زیات نه و. د دوی لویه برخه په دربار پورې مربوط د سیاست هغه علاقمندان وو، چې په معارف کې يې هم نفوذ کړی و او ځینې پکې د حبیبیې د مکتب معلمین او هغه متعلمین وو چې تازه شپږم صنف ته رسیدلي وو. دې ټولو ډلو، درباریانو، د درباریانو متعلقینو، معلمینو او متعلمینو په اولس کې نفوذ نه درلود. دوی د همسایه هیوادونو له نشراتو سره آشنا او د دې نشراتو په وسیله د جهان له اوضاع څخه باخبره وو. مگر دوی د خپل هیواد او د خپل اولس له عنعناتو، شؤوناتو، د هغوی له ضروریاتو او غوښتنو بیگانه وو، دوی جهان، په سطحي ډول د جرایدو له مخې پیژانده، مگر دوی ته د هغوی د جوامعو د انکشاف علل په عمیق ډول څرگند نه وو، موږ دا پره پر هغوی نه شو اچولی؛ نن ورځ هم زموږ په هیواد کې د عمیق شناخت وسایل نشته او په هغې زمانې کې دا لا نور هم محدود وو.

کله چې د ملت یو استازی د کابینې په څو وزیرانو، د معارف او د داخلې د وزیر پر چارو انتقاد وکړ او دا انتقاد د مرحوم غلام محی الدین انیس په شهادت په ځای هم و، مگر خپله اعلیحضرت د ملت د استازی د په حقه انتقاد په مقابل کې راپورته شو او د خپلو وزیرانو د حمایې لپاره يې وویل: چې د ده وزیران ده ته مسؤول دي نه د ملت استازو ته.

## دوهمه برخه

### د اساسي نظامنامی محتویات:

اساسي نظامنامه د غربي هیوادونو له اساسي قوانینو یوه اخیستنه وه. د دې اساسي قانون په تسوید کې ترکي حقوق پوهانو خصوصاً بدري بیگ لوی سهم درلود. د دې نظامنامی مطالب په بعدي اساسي قوانینو کې تر ډېره حده اقتباس شول. په دې اساس دا نظامنامه زموږ د هیواد د اساسي قوانینو تهداب تشکیلوي او له مطالبو سره یې آشنایی ضروري ښکاري، چې دلته به د لوستونکو د مطالعې لپاره تقدیم شي.

د مخه تر دی چې د اساسي نظامنامې محتویات وڅېړل شي لازمه ده چې خپله د اساسي نظامنامې نوم ته یوه څرگنده کتنه وشي.

د لومړي اساسي قانون د نامه په ارتباط، چې اساسي نظامنامه بلل کیږي، دا سوال ذهن ته راځي چې ولې د قانون له نامه ډه ډه شوې او د نظامنامې نوم د قانون د نامه پرځای استعمال شوی دی؟ د دې خبرې ځواب د امان الله خان له حقوقی ریفورم څخه ۸ کاله پخوا د سراج الاخبار جریدی د خدای بخښلي محمود طرزي په یوه مقاله کې لیکل شوی دی، ښه څرگندیږي او بیځایه به نه وي چې د هغې مقالې یوه برخه را واخلو. (سراج الاخبار، ۳ شماره ٦ـ۸، قوس ۱۲۹۲.) دی لیکي:

«قانون، نظام، حدود، شرع، دستورالعمل، آئین، سررشته، توزك او... هغه الفاظ دي چې تقریباً یوه معنی لري.»

د دې الفاظو مقصد دا دی چې کارونه او چارې د قاعدې او اصول لاندې

په ښه وجه ترتیب او انتظام شي. قانون یوه یوناني کلمه ده چې له

سم، سیخ، صاف، بند پر بند نیونو اخیستل شوی او دا چې د قانون کتابونه هم فقره په فقره او بند په بند لیکل شوي نو له دې امله هغو ته قانون وایی.

قانوننامه یا نظامنامه، د وخت او زمان له احتیاجاتو سره سم د ملك او دولت د امن او امان لپاره وضع او لیکل کیږي، تر څو د خلکو د حرکاتو او افعالو د اجرا لپاره یوه سمه ټاکلې لار او د حکومت د چارو د ضابطې لپاره یو دستورالعمل وي.

زموږ په گران هیواد کې د «قانون» کلمه له ډیرو زمانو را په دیخوا یوه منفوره کلمه تلقی شوی او هرچا له هغې ویره لرلې او مخ یې ورڅخه اړولی دی. د دې کار یوازینی سبب هغه اعتقاد دی چې قانون د شرعې ضد گڼل شوی دی او که چیرې کوم قانون وضع او کومه قانوننامه لیکل شوی هم وي هغه قانون نه، بلکه دستورالعمل یا نظامنامه بلل شوی. محمود طرزی خپلو خبرو ته ادامه ورکوي او لیکي:

«اوس چې حقیقت ته وگورو خبره دا ده چې دا ټولې کلمې په یوی نقطې کې را غونډیږي چې هغه د عمومي جمهورو کارونو سموالی ترتیب تنظیم او انضباط دی.

مقصد دا دی چې کومه کرکه چې د قانون له کلمې په زړو کی پرته ده، تر یوې اندازی رفع شي او پوه شي چې د قانون، دستورالعمل، د نظام، سر رشتې او ټولو مطلب یو دی او هغه هم د حقوقو ساتنه ده».

مرحوم محمود طرزی په دی ارتباط په ډیر تفصیل موضوع څیړي خو موږ دلته په همدې خبری اکتفا کوو چې هغه د خلکو د اذهانو د تنویر لپاره په دې برخه کی ډیری هلی ځلی وکړی خو په دې موفق نه شو. د یو دوه قانوني طرحو په استثنا په دې برخه کې څه نوی

بدلون راشي او دا وسيع قانوني ريفورم د اعليحضرت امان الله خان په دوره کې راغی خو بیا هم د خلکو د ذهنيت د احترام په خاطر د قانون له نامه ډه ډه وشوه او د دې دورې قوانين د نظامنامو يا نظاماتو په نامه ونومول شول.

د نظامنامې د کلی انتخاب یوه بله وجهه هم لري او هغه دا ده چې زمو ږ هيواد د اروپا قوانين په غيرمستقيم ډول د ترکيې له لارې را اخيستی دی. ترکان په حقوقي برخه کې زياتره له اطريش، آلمان او سويس سره په ارتباط کی وو، د دی هيوادونو په حقوقو کی د نظام Ordnyng کلمه ډيره معموله ده. هغوی د مدني اجراآتو قانون ته

Ziuilprozessordnung (Z.P.O.10)

د جزايی اجراآتو قانون ته Straffrozeprovdmung ( Stpo )

او د... نظام ته Konkuroddnung وايی.

همدارنگه د نظام د کلمې په آخره کی د «نامه» توری علاوه کيږي چې له نظام څخه نظامنامه او له قانون څخه قانوننامه جوړوي. په سويس او آلمان کې مدني قانون ته د مدني قانون کتاب ويلي کيږي، لکه

(. B G.B ) يا ( Z. G. B ) Zurilegesetrbuch

bargerlichesgesetrbuch له دې پورته جريانه دا څرگنديږي چې د قانون کلمې ته نږ دی کلمه نظام او د قانوننامی يا د قانون کتاب ته نږدي مطلب نظامنامه ده.

**د اساسي نظامنامی مطالب:**

۱- مقدمه له لومړۍ مادې تر اوومې مادې
۲- د تبعی عمومی حقوق له اتمې مادې تر ۲٤ مادې.
۳- وزیران له ۲٥ مې مادې تر ۳٥ مادې.
٤- مامورین له ۳٦ می مادی تر ۳۸ مادی.
٥- د مشوری مجالس او د دولت شوری له ۳۹ مادې تر ٤۰ مې مادې.
٦- محاکم له ٥۰ می مادی تر ٥٥ مادی.
۷- عالي دیوان له ٥٦ می مادې تر ٥۷ مادی.
۸- مالي امور له ٥۸ می تر ٦۲ مادی.
۹- د ولایاتو اداره له ٦۳ مې تر ٦۷ مادی
۱۰-متفرقه مواد له ٦۸ مادی تر ۷۳ مادی پوری.

# لومړی فصل

## مقدمه

په مقدمه کې له لومړی مادې تر اوومې مادې دا لاندی مطالب راغلي دي:

۱ ماده: استقلال او ( واحدوالی او غیرقابل تجزیه توب ).
۲ ماده: دین.
۳ ماده: پایتخت.
٤ ماده: د پادشاه تعهد له ملت او د ملت تعهد له پادشاه سره.
٥ ماده: پادشاه د دین خادم او حامی او د افغانستان د ټولی تبعی پادشاه دی.
٦ماده: د وزیرانو مسؤولیت او د پادشاه عدم مسؤولیت.
۷: ماده: د پادشاه اختیارات.

اوس نو چې د دې برخې له عناوینو سره آشنا شوو، نو خپله د موادو مطالبو ته به لنډه کتنه وکړو:

**لومړی ماده:** استقلال او ( واحدوالی او غیرقابل تجزیه توب):

**«د افغانستان علیه دولت په خپلو داخلي او باندنیو چارو کی د ټول استقلال لرونکی دی او د هیواد ټول محلات او قطعات د ملوکانه امر او ارادی لاندی د یو واحد وجود په شان تشکیل کیږي او هیڅ یو حیثیت د مملکت په اجزاوو کی نه تفریق کیږي ».**

د دی حکم مطلب په بل عبارت دا دی چې د افغانستان دولت یو

خپلواك دولت دی چې بشپړ داخلي او خارجي استقلال لري، د اداری له نظره د یوی مرکزی اداری خاوند او د پادشاه تر ارادې لاندې دی.

دا اداره يو موټی او نه بیلیدونکی، غیرقابل تجزیه ده، چې د اساسي نظامنامی په دري عبارت کی د «يك وجوده گی» اصطلاح راغلی ده. دا خبرې د دې ښکارندويی کوي چې د افغانستان دولت د فدرال یا کنفدرال سیستم نه پیژني او په مرکز کې په غیرقابل تجزیه سیستم ولاړ دی.

دا سیستم د افغانستان يو عنعنوي پخوانی سیستم و او کوم نوی شی نه دی او دا اصل تر نن ورځې زموږ، په هیواد کې يو منل شوی اصل دی. د «يك وجوده گی» اصطلاح په بعدي قوانینو کې د «واحد او غیرقابل تجزیه، یا «يو موټی او نه بیلیدونکی»»، په عباراتو راغلی چې په مفهوم کې کوم بدلون نه راولي. د ثور له کودتا څخه را په دې خوا د مختلفو ملحوظاتو له مخې دا هڅې رواني وې چې فدرالیزم یا کنفدرالیزم ته لار خلاصه کړي. دا هڅی کیدای شي مختلفی منشی ولري. د هغو خلکو یا نظامونو هڅې دی چې زموږ، د هیواد ضعف یا تجزیه غواړي، د هغو بې احساسه او د قدرت د لیونیو هڅې وې چې غواړي که څه هم د یوې لنډې زماني د څو ورځو لپاره وی نوم یې د یوه دولت د رئیس په حیث د تاریخ په پاڼو کې درج شي او یا هم کیدای شي چې د دې پلویان هغه څوك وي، چې له خپل هیواد سره مینه او په سطحي ډول له جهان سره آشنایی لري. دوی پوهیږی چې متحده ایالات، فدرال آلمان او فدرال سویس ټول فدرال نظامونه لري او د دې نظام له برکته دوی په مخ تللي دي او په دې نه پوهیږي چې دا سیستمونه څرنګه هلته منځ ته راغلي او څرنګه یې وده کړې ده. دا سیستمونه په دی هیوادونو کې لږ تر لږ يوه دوه سوه کلنه سابقه لري. د دې هیوادونو ترڅنګ داسي هیوادونه هم لیدل کیږي چې په خپل مرکزي سیستم کې د فرهنګ او پرمختیا د سطحې له نظره له دوی بیرته پاتی نه دي، لکه په غرب کې فرانسه او په شرق کی جاپان. خپله مرکزي سیستم یا فدرالی سیستم د پیشرفت او پرمختګ

يا بيرته پاته کيدو عامل نه دی. د پرمختګ او بيرته پاته کيدو عوامل نور دي چې د هغو د څيړنو ځای دلته نه دی. علاوه له دې فدرالی سيستم نظر مرکزي سيستم ته ډير معضلات لري، چې که هغه په حوصله مندی، ګذشت او دقيق نظر حل او فصل نشي هره لحظه ټولنه له يوه تصادم سره مخامخ کوي، لکه د مرکزي دولت او د فدرال دولت د صلاحيتونو او وظايفو ويش. کوم قوانين بايد مرکزي دولت جوړ کړي او کوم قوانين فدرال دولت؟ کوم ماليات بايد مرکزي دولت واخلي او کوم ماليات فدرال دولت. کوم مسايل بايد د مرکزي دولت په محاکمو کې فيصله شي او کوم د فدرال په محاکمو کې.

زموږ هيواد د خپل موجوديت په اوږدو کې د مرکزي سيستم خاوند و. اساسي نظامنامې هم همدا سيستم ومانه او وروسته هم تراوسه همدا سيستم را پاته دی. په هيواد د فدرالی سيستم تحميل کول به دا مثال ولري چې څوك د چا سالم زړه ورڅخه وباسي او پرځای يې يو ناروغه زړه ورواچوي چې هغه هم وجود ردوي او له حرکته پاته کيږي.

په دې لومړی ماده کې د خارجي استقلال کلمه يو روڼ ستوری و. چې په هيواد کې له اوږدی مودی وروسته وليد. مګر دا روڼ ستوری هم يوازی د هيواد د سواد خاوند د سياست علاقمندانو ليدلی شو. نور ملت د استقلال په ګټلو پوه نه شو، ملت په دې اوږدی مودی کې د خپل استقلال د فقدان او د نه لرلو احساس نه و کړی. که دوی د خپلی آزادی د سلبيدو احساس کړی وای هرومرو د هغې د اخيستلو لپاره را پورته کيدل. څو واری چې انګريزان مخکی تر دی چې د دوی هيواد ته د دوی د وطن د نيولو لپاره را ننوتلي وو. ملت له هغو سره د غزا او جهاد په نامه سخت جنګيدلی او له خپلې خاوري څخه يې شړلي وو. دلته د دوی په هيواد کی دوی نه کوم انګريزی حاکم ليده

او نه کوم انګریز مشاور یا مامور. د هیواد حاکم او د هغه مامورین ټول افغانان وو. همدې افغانانو د دولت چارې اجرا کولی. علاوه له دې افغانانو لیدل چې د انګریز استعماري دولت که په هندوستان یا په نورو د دوی تر تسلط لاندې هیوادونو کې حکومت چلوي، هلته د دوی حاکمان دي. هلته د دوی سپاهیان دي، هلته د دوی قاضیان حکم کوي او انګریزان د هغه هیواد د ځمکې د سر او له ځمکې لاندې دارایی ګانې ورځخه وړي، مګر د ده په هیواد کې پرته له ځینې افغانانو د شنو سترګو او زړو ویښتانو خاوند هم نه لیدل کیږي او نه یې دارایی څوك ورځخه وړلی شي. دا لا څه چې انګریزان د افغانانو ټولواك (امیر عبدالرحمن او امیر حبیب الله خان) ته هرکال ښې ډیرې روپۍ هم ورکوي او په هغو روپیو له اسلحې پرته بل څه نه اخیستل کیږي.

افغان ملت د دې خبرې شاهد و، چې په ۱۹۱۵ کال کې کله چې د انګریزانو او جرمنیانو ترمنځ جګړه روانه وه، د جرمنیانو او متحدینو یو لوی هیئت کابل ته راځي او دلته د پادشاه د میلمه په حیث لږ او ډیر یو کال تیروي، انګریزان د دې هیئت د استوګنې په سبب ډیر په ویره کې دي او امیر صاحب ته ډیر عذرونه کوي، ډیرې روپۍ ورته مني او نورې ډیرې وعدې ورسره کوي چې دا هیئت زر بیرته ولیږي. مګر امیر صاحب دا هیئت خپل میلمانه بولي او د افغاني اصولو په اساس یې ترهغه عزتمنه پالنه کوي چې هیئت خپله غواړي خپل هیواد ته ستون شي او امیر صاحب یې خپلو هیوادو ته د په خیر بیرته رسید و تدابیر نیسي.

نور خارجي مأمورین خو لا څه حتی د خارجي هیوادونو سفیر هم

په کابل کې نه لیدل کیږي. د انګریز سفیر چې هغه هم مسلمان و او له خلکو تجرید شوی و، چې یوه ورځ هغه امیر عبدالرحمن خان ته

شکایت وکړ چې زه خپل ورور هم نشم لیدلی. امیر ورته ویلي وو چې همداسی ښه ده زه نه غواړم چې ته دلته په کابل کې دربار جوړ کړې.

افغان ملت لیده چې زموږ، تجارتی نماینده گی په مشهد، په بخارا او په هند کې دي او دوی نه یوازي تجارتي، بلکه سیاسي چاری هم اجرا کوي نو افغان ملت دا حق درلود چې د استقلال د فقدان احساس ونه کړي. صرف یو عده باسواده له سیاست سره علاقمند افغانان په دې پوهیدل چې موږ په دې اوږدې مودې کې خارجی استقلال نه درلود او د استقلال له اعلان وروسته او د یوې خونړۍ جگړې په نتیجه کې له ۱۹۱۹ م وروسته لاس ته راغی.

**۲ - ماده** - د افغانستان دین:

**د افغانستان دین د اسلام مقدس دین دی ( او رسمي مذهب یې حنفي دی). د نورو ادیانو اهل: «هندوان، یهودان چې په افغانستان کې دي، په دې شرط چې آسایش او عمومي آداب اخلال نه کړي، له تأمین لاندې نیول کیږي»**

د دې حکم مطلب د افغان اولس لپاره نوی نه دی. دې حکم د افغانانو پر زړه د پیړیو راهیسي د تائید مهر کیشود. دا مطلب چې (رسمي مذهب یې حنفي دي) د جلال آباد په طرحه کې موجود نه و. مگر د پغمان په لویه جرگه کې په دی موضوع د ملت د استازو ټینگار وشو او وویل شول چې د ایران د اساسي قانون په څیر باید رسمي مذهب معین شي. د طرحی دا تعدیل په لویه جرگه کې په اتفاق ومنل شو، او په وروستیو اساسي قوانینو کې دا مطلب را واخیستل شو.

دا چې دا (۲) ماده یعنی د افغانستان دین نن ورځ هم د هیوادوالو د مباحثاتو د علاقې وړ موضوع ده ایجاب کوي چې د هغې زمانی د

هیواد د لویو اشخاصو نظریات، چې په لویه جرگه کې په دې ارتباط وړاندې شوي دي، په لنډ ډول له نظره تیر کړو.

کله چې د جلال آباد د لویې جرگې د اساسي نظامنامې د دوهمې مادې دا متن «د افغانستان دین د اسلام مقدس دین دی، نور ادیان د اهل هنود، یهودیانو چې په افغانستان کې دي، په دې شرط چې آسایش او عمومی آداب اخلال نه کړي، هم له تأمین لاندې نیول کیږي.» ولوستل شو په دې ماده یو سلسله اوږده بحثونه وشول او تعدیلات هم پکې راوستل شول.

مولوي عبدالواسع په دې ماده اعتراض وکړ او وی ویل: « په دې ماده کې باید د عمومي آدابو له لفظ څخه وروسته شرعي فارقه علامات زیات شي څو د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ د پخوا په شان ظاهري فرق او امتیاز موجود وي» *(لویه جرگه ۱۳۰۳، ۱۲۶ مخ.)*

د دې مولوي په مقابل د وکیل فیض محمد، مولوي فضل ربی، غلام مجتبی مستوفی او شخصاً د اعلیحضرت له خوا د هندوانو د حمایې او د تعصب د ترکولو په خاطر دلایل وویل شول. په دې ارتباط د ډیرو اشخاصو له خوا د یو بل د قناعت لپاره دلایل وړاندې شول څو د اعلیحضرت په دې فیصلې د ټولو توافق راغی او هغه دا و: «کوم څه چې اعلیحضرت د قشقی د نخښې کیښودلو، او دا چې هندوان د مسلمانو د جذباتو د مراعات په سبب باید سپین دستار ونه تړي دا صحیح دی، موږ، هغه منو او یوازی په اساسی نظامنامه کې باید دا د فارقی علامې لفظ زیات شي.»

پر دوهمې مادې مباحثه په دې ځای ختمه شوه او پر مذهب هم څرنگه

چې پاس اشاره ورته وشوه، خبرې وشوی او د ډیرو علماوو او نورو شخصیتونو له خوا دا وړاندیز وشو چې په دې ماده کې د نفاق د

مخنیوۍ لپاره باید د ایران د اساسي دستور په شان چې د «شیعه» لفظ یې علاوه کړی، یو لفظ علاوه شي.

یو بل وکیل وویل: په دی ماده کی باید د قادیانی یا احمدیه د مذهب په شان د مذاهبو مخنیوی وشي. مولوي فضل ربی وویل: قادیانیان د ختم نبوت منکران دي او کافر یی وبلل او زیاته یې کړه چې هغه څوك چی قادیانیان مسلمان بولي هغه هم کافر دی، نو حاجت دې ته نشته چې نور الفاظ د جدید الظهورو مذاهبو د اخراج لپاره راوړل شي. خو نورو وکیلانو په دې ټینګار وکړ چې د سنت او جماعت یا د حنفي مذهب لفظ باید راوړل شي.

وروسته له اوږدو خبرو اعلیحضرت داسې یو نظر وړاندې کړ چې د لویې جرګی موافقه پرې راغله او هغه دا و «په اساسي نظامنامه کې داسې باید ولیکل شي چې د افغانستان دین اسلام او رسمی مذهب یې حنفی دی او د جزا په عمومي نظامنامه کې د باطله ادیانو لپاره چې نوي را پیدا کیږي او په افغانستان کې د تبلیغ او د خپل مسلك د خپرولو خیال لري د شریعت په اساس مجازات وټاکل شي ». *(لویه جرګه، ۱۳۰۳، ۱٥٤ مخ.)*

**۳ ماده** ـ پایتخت د کابل ښار له نورو سره مساوي دی:

**«د افغانستان پایتخت د کابل ښار دی. او د افغانستان د مملکت ټول اهالي د حکومت په نظر یو برابر دي، د کابل اهالي نسبت نورو افغانیه ښارو او قصباتو ته هیڅ امتیاز نه لري »**

کابل د هیواد د پایتخت په صفت سربیره پر دې چې له اقتصادي، تجارتي او فرهنګي نظره وړاندې دی، مګر دا د دې معنی نه لري، چې دا ښار دې له نورو ښارونو ممتاز او د کابل اولس دې د نورو ښارونو او محلاتو په نسبت لوړ او برتر وي. په بیرته پاته هیوادونو

کې پایتختونه نسبت نورو ښارو ته پرمخ تللي وي، مګر په منکشفو هیوادونو کی، لکه متحده امریکا، سویس، آلمان پایتخت له نورو ښارونو کوم توپیر نه لري او حتی بیرته پاته هم دی، لکه بن د فدرال آلمان پایتخت چې له ډیرو جهاتو له میونیخ، فرانکفورت، کلن، هامبورګ او نورو ښارونو سره برابري نشي کولی. په دې هیوادونو کې یو متوازن انکشاف روان دی او حتی هغه کیږي چې د کلي او ښار توپیر له منځه ولاړ شي او تر ډیره حده دا توپیر له منځه تللی هم دی.

زموږ په هیواد کې کابل که څه هم پایتخت او لوی ښار دی مګر دا د شهرت کوم وصف نه لري او زیاتره د کلیو یوه مجموعه ده. د مختلفو قومونو او مناطقو خلك، د خپلو اجتماعي ستونزو د رفع کولو لپاره، په ځانګړو برخو کې راټول شوي او منطقه یی او قبیله یی سیمی یی جوړی کړی دي. مثلا د پکتیا او ننګرهار خلك په شیرشاه مینه، نورمحمد شاه مینه، رحمن مینه کی د زاړه ښار اوسیدونکي په څلورمی او دریمی کارتې کې، هزاره ګان په جمال مینه، کارته، سخي دشت برچی، قلعه شاده، تایمنی او وزیر آباد کی، د شمال خلك په خیرخانه کی او داسی نور. دا خپله ښئي چې د تاریخ په اوږدو کی دولت د پلار وصف Vater Staat نه دی موندلی چی اتباع د خپلو اجتماعي، اقتصادي ستونزو د رفع لپاره پری را ټول شوي وي، او دولت له کوم منظم شهري پلان سره سم دا ښار جوړ کړی وي.

برسیره پر دې وروستیو خبرو کابل د هیواد د مرکز په صفت دری کاله پخوا نظر نورو ښارو ته د صحي، تعلیمي، فرهنګي، سیاسي، تجارتي، مدني مؤسساتو د موجودیت له کبله وړاندې و، او د هیوادوالو هڅې دا دي چې کابل کې استوګنه اختیار کړي او کابلی شي.

له دریو کالو را په دې خوا په کابل کې د مجاهدینو رقیبو ډلو د جنگونو په سبب دا وضع بدله شوه او په هغو کابلیو کې چې د تیښتې توان و، صرف سرونه یې له کابل څخه وایستل او د خپلو ابا او اجدادو منقول او غیرمنقول شته او دارایی یې سرنوشت ته وسپارل.

نن ورځ د هیواد پایتخت نشته او هر چېرته چې کومه ډله ټوپك والا دی هغه د هغی منطقی پایتخت دی او د ډلې قوماندان یې، ټولواك. د مجاهدو ډلو د رقابت او د خارجي قدرتونو د مداخلې په اثر د کابل او د ټول هیواد آینده په تیاره کې او مجهوله ده.

کله چې په ۱۳۰۱ هـ ش کال کی دا دریمه ماده تصویب کیده، اعلیحضرت امان الله خان د پایتخت په برخه کې ډیرې آرزوگانی لرلی. اعلیحضرت امان الله خان غوښتل چې د خپل هیواد لپاره د جهاني پایتختونو په شان عصري ښار جوړ کړي. څرنگه چې لوی پطر د نوی روسی امپراتوری مؤسس، د نوی روسی لپاره سنت پترزبورگ یعنی د پطر مقدس ښار جوړ کړ، خو هغه بیا د انقلابیانو په دور کې لنینگراد ونومول شو. امان الله خان هم د دارالامان د ښار اساس په ډیرو علمي پخو اصولو کیښود. دې ښار که څه هم د سنت پترزبورگ په شان د مقدس ضمیمه نه لرله خو د امان د کور له نامه سربیره، د امن او صلحې د کور مفهوم هم افاده کاوه.

دا ښار داسې یو بی پلانه او بې نقشې ښار، د زمکې او د تعمیراتو د خاوندانو، ټیکه دارانو او د مامورینو د آزمندانه غوښتنو نه مولود و، بلکه د دې ښار اساس له وطن او اولس سره د مینې او د علمي اصولو پر بنسټ کیښودل شو. د دی ښار د سروی او نقشو لپاره د فرانسوي او جرمني متخصصینو پنځوس کسیزه ډله توظیف شوه. د دارالامان او تاج بیك له قصرونو بیا تر آسمایی غره او تر پغمانه دا ښار نقشه شو.

په ۱۳۰۲ هـ ش کال کې یوه نظامنامه د «دارالامان د ښار د ابنیه و د نظامنامی» په نامه تصویب شوه. د نظامنامې په اساس د هغو خلکو لپاره چې هلته د کورونو د جوړولو علاقمند وو، ډیر تسهیلات په نظر کې نیول شوي وو. د تعمیراتو یو مدیریت چې د خلکو لپاره یې په مناسب قیمت د تعمیر وسایل تهیه کول، خلکو ته یې د دوی په خوښه د ښار جوړولو له شرایطو سره سم د تعمیراتو نقشې ورکولی، د دوی د کورونو ترمخ سرکونه یی له نقشی سره سم ایستل، برق او د نل اوبه یې ورته ایستلی، بدرفت یې له کانالیزاسیون سره تاړه، او له دې قبیله ټول ښاري ضروري احتیاجات، مارکیټونه، عمومي باغونه، مکاتب او نور عمومي مؤسسات په مختلفو سویو د کورونو مسافت او موقعیت په نظر کې نیول شوی و.

د اعلیحضرت دا آرزوګانې ترسره نه شوې، یوازې د تاج بیك قصر د افغانستان د پادشاه د استوګنې لپاره او د دارالامان قصر د پارلمان لپاره او څو نور محدود کورونه د قصر په شاوخوا کې جوړ او د ریل یو خط له باغ علم ګنج، د شاه دو شمشیره (رح) د زیارت له حصی، د دارالامان تر قصر پوری وغځول شو.

کله چې د هیواد په ترقی مین غازي دا انګریز دشمن پادشاه د «لاتی توب» په اتهام چې معنی به یې ( لارد ) یعنی انګریزي توب یا کافري وي، له قدرت څخه د انقلاب له لارې را وغورځول شو، د هغه ټول کارونه محکوم او د ښار نوم یې هم له دارالامان څخه راواړول شو. څرنګه چې د روسی انقلابیونو پترزبورګ په لنینګراد بدل کړ، سقوي انقلابیونو هم پر دارالامان د دارالحبیب نوم کیښود.

**٤ ماده** ـ د پادشاه تعهد له ملت او د ملت تعهد له پادشاه سره:

**«د اعلیحضرت همایونی د فوق العاده خدماتو په بنا چې د ترقی او**

**تعالی، د افغان ملت د استقلال په لاره کی یی ابراز کړی دی، د افغانستان نجیب ملت تعهد کړی چې د افغانستان سلطنت به د افغانانو د دی ترقی غوښتونکی پادشاه اولاد ته د وراثت په اصولو د اعلیحضرت پادشاهی او د ملت د اهالی په خوښه انتقال کوي او ملوکانه ذات د سلطنت په اړیکی د جلوس په وخت کی د اشرافو او د اولس پرمخ تعهد کوي چې د شرع شریفی او د دی نظامنامی په اساس به اوامر اجرا او حکومت کوي، د افغانستان استقلال به رعایتوي او خپل وطن او ملت ته به صداقت کوي»**

د ملت تعهد پادشاه ته او د پادشاه تعهد ملت ته کوم نوی مطلب نه دی، د افغان ملت دایم خپلو پادشاهانو ته وفادار او پادشاهان خپل ملت ته صادق او افغاني پادشاهانو سره د پادشاهی هغه دبدبه او طنطنه نه وه، کومه چې د افغانستان په گاونډیانو کی ده، افغانان څرنگه چې له فرمانبرداری څخه تښتیدل هماغسی د حکمفرمایی شیفته گان هم نه وو. میرویس نیکه چې څرنگه کندهار او شاوخوا سیمی یی د صفویانو له تسلط څخه آزادی کړی، څو چې ژوندی و، د یو سپین ږیري په صفت د خلکو ترمنځ واوسیده او د اولس رهبري یی په صداقت، شجاعت او درایت ترسره کړه. او حاضر نه شو چې د سلطان، پادشاه یا امیر نوم پر ځان کیږدي.

د شیر سرخ په لویه جرگه کی د قومي مشرانو له اوږدو مذاکراتو وروسته چې ځوان احمد خان د پادشاه په حیث انتخاب شو، څرنگ چې د بابا له نامه څخه، چې ملت ده ته ورکړی و، ښکاري، ده د پلار په حیث د ملت په مینځ کې ژوند کړی او د اولس د رهبری وظیفه یې په مینه او صداقت او درایت انجام کړی ده. د ملت د شرف او حیثیت د ساتونکي سپاهي په شان یی ژوند کړی. احمد شاه بابا له خپل یوه زوی تیمورشاه پرته نور خپل پنځه زامن له دولتي کارو او

حتی د خلکو له سترګو لري ساتلي وو. څو د فرمانروایی سودا یې په سر کی پیدا نشي او ځان او ملت د رقابتونو په اور کی ونه سوځي.

د احمد شاه بابا دا تشویش بیځایه هم نه و. د تیمورشاه له مړینې وروسته د سلطنت او فرمانروایی مینی د احمد شاه بابا د لمسیو او د هغوی د خپلوانو ترمنځ ریښی وځغلولی، خارجي قدرتونو هم هلته لاس را اوږد کړ، هغه څه چې احمد شاه بابا په هغه تشویش درلود پیښ شول؛ د قدرت او سلطنت شیفته ګان یو د بل غاړې ته ور ولویدل. کله به یو او کله به بل پر تخت کښیناست او د بزکشی د میدان په څیر کله به یو ځان د حلال دایرې ته ور ورساو او کله بل.

د ډلي هر یو رهبر به چې د خپلو برېخو یا د نن ورځې په اصطلاح د خپل حزب یا تنظیم په مرسته د سلطنت پر تخت کښیناست، د افغانستان خلکو به هغه ته بیعت کاوه او پادشاه د ټولو هغو حقونو خاوند کیده چې د دی نظامنامی په ( ٤، ٥، ٦، او ٧) مادو کی ذکر شوی دی. پادشاه د یو مسلمان فرد په صفت په دی مکلف و چې د شریعت مطابق حکم وچلولی شي او د هیواد استقلال د خارجي قوتونو په مقابل کی وساتي. کله به چې یو پادشاه له دی اصولو انحراف وکړ نو ټول ملت به د ده مخالف شو او د هغه په مقابل کې به یی قیام وکړ. دلته به بیا د پادشاه د پلویانو او د ده د رقیب ګوند د جګړو خبره، چی هغه صرف د تاج او تخت پر سر نه وه، بلکه دلته پادشاه او ټول ملت له یو بل سره مخامخ کیدل. لکه چې شاه شجاع انګریزانو راووست او ټول ملت ورته راپورته شو او یا دا چې د روسانو د نفوذ او مداخلې په اثر ټول ملت قیام وکه.

**٥ ماده** - پادشاه د دین خادم او حامي او د افغانستان د عمومي اتباعو پادشاه دی:

**«حضرت پادشاهي ذات د اسلام د مبين دين خادم او حامي او د افغانستان د عمومو اتباع پادشاه دی ».**

د اساسي نظامنامی دا حکم هم کوم نوی مطلب نه دی. د پیړیو په اوږدو کی د افغانستان هر یوه پادشاه ځان د اسلام د دین خادم او حامي ښوولی او پر ټول ملت یی پادشاهي کړې ده.

**٦ ماده** - د وزیرانو مسؤولیت او د پادشاه عدم مسؤولیت:

**«د مملکت چاری د دولت د وزیرانو په ذریعه، چی د شاه په ارادې انتخاب او تاکل کیږي اداره کیږي او هر یو وزیر د خپلو متعلقه چارو مسؤول پیژندل کیږي، له دې سببه همایونی ذات غیرمسؤول دی»**

د اساسي نظامنامی دا ماده کوم نوی مطلب نه افاده کوي. دې مادی کوم حق یا صلاحیت له پادشاه او اجرائیه قوی کم کړی او ملت ته پی سپارلی نه دی. د هیواد د اجرائیه چارو صلاحیت هغو وزیرانو ته وسپارل شو چې د پادشاه له خوا گمارل کیږی او ملت د پخوا په شان د هغوی په تعیین کې کوم صلاحیت نه لري. دا وزیران د پخوا په شان له خپلو اجراآتو پادشاه ته مسؤولیت لري. د وزیرانو د عزل او موقوفي صلاحیت د پخوا په شان، د دی نظامنامی د (۷ او د ۳۱) مادو د احکامو په اساس له پادشاه سره دی او ملت په هغه کې کوم حق نه لري.

وزیران د پادشاه په اراده تعینیږی، د پادشاه په اراده اجراآت کوي له خپلو اجراآتو پادشاه ته مسؤول دي او د پادشاه په اراده عزل او موقوف کیږي او پادشاه هم یو غیرمسؤول ذات دی، دي وسیعو اختیاراتو او صلاحیتونو د اساسي قانون د خاوند پادشاه او د یوه مطلقه پادشاه له اختیاراتو سره کوم توپیر نه درلود. د اعلیحضرت امان الله دا اختیارات او د امیر حبیب الله خان او امیر عبدالرحمن

خان د اعلیحضرت د پلار او نیکه په اختیاراتو کې کوم فرق نه و. منتهي توپیر په دی کی و، چی اعلیحضرت د اساسي قانون په اساس مطلقه پادشاهی کوله او هغوی بې له کوم قانونه سلطنت کاوه. هغوی ته هم د هغوی همکاران له خپلو اجراآتو مسؤول او دوی غیرمسؤول وو او اعلیحضرت امان الله خان ته هم د ده نژدی همکاران ده ته مسؤول وو او دی غیرمسؤول و.

خپله امان الله خان هم د دی وسیعی اختیاراتو په عدم هماهنگی او عدم مسؤولیت واقف و او په همدی ارتباط یې په لویه جرگه کی وفرمایل:

»دا د غیرمسؤولیت لفظ د شوری مجلس او وزیرانو زما د میل او غوښتنی خلاف زیات کړی دی. حال دا چې زه ایماناً او وجداناً او عقیدتاً د سلطنت او مملکت په اجراآتو کی ځان غیر مسؤول نه گڼم او انصافاً وایم کله چې د وزیرانو او مامورینو عزل او نصب، تنزیل او ترفیع زه کوم ضرور باید د هغوی په بدنامۍ او نیکنامی کی زه ځان اوله درجه مسؤول وگڼم. له خدایه شاکر یم چې زه یې یو عیش پرست، لټ او تنبل نه یم خلق کړی، چې خپله په کور کې کښینم په لهو، لعب او ساعت تیریو مشغول شم او په دی متسلي اوسم چې د مملکت چاری می وزیران اجرا کوي. نه خدای شاهد دي ( و کفی بالله شهیداً ) چې زه په هر وزارت کی هسی کار کوم چې یو جدي او فعال وزیر یې کوي. له دې کبله دا د غیرمسؤولیت لفظ دلته بې معنی دی او په دې لفظ زه ځان د خالق منان د امانت له دې درانه بار څخه نشم ایستی، دا ځکه چې زه مرگ لرم او خدای به له ما د

حشر په ورځ پوښتنه کوي.

د اعلیحضرت دا بیانات که څه هم د ده له سپیڅلو احساساتو نماینده

گی کوي مګر دا بیا هم د ده د مطلقه حکومت په ماهیت کې بدلون نشي راوستلی او هغه په مشروطه حکومت نشي تبدیلولی.

٧ **ماده** ـ د پادشاه اختیارات:

**«د پادشاهي د نوم ذکر په خطبو کې او د سکی ضرب د پادشاه په نامه او د منصبونو د رتبو تعین له خاص قانون سره سم او د نشانونو ورکول او د صدراعظم او د نورو وزیرانو د هیئت انتخاب او تعیین او د هغوی عزل او تبدیل او د عمومیه نظاماتو تصدیق او د مرعیت اعلان، او د شرعیه او نظامیه احکامو محافظه او اجرا او د افغانستان د عسکري قواوو عمومي قوماندانی او د حرب او مصالحې اعلان علی العموم د معاهداتو عقد او د قانونیه مجازاتو عمومی یا خصوصي عفوه یا تخفیف د جلیلیه پادشاهي له حقوق شمیرل کیږي.»**

د دې مادې حکم هم د هغو مادو د احکامو له جملې څخه دی چې د پادشاهانو همیشه ګی حقوقو یې په اساسي قانون کی تسجیل کړی دي. د دې مادې په ارتباط د یادولو وړ ده چې پادشاه د صدارت واګې هم په خپل لاس کې واخیستی او په دې اړوند یې لویې جرګې ته دا دلایل وړاندې کړل:

«ځینی حضرات به ووایی چې په دې نظامنامه کې د صدراعظم نوم نشته، نو زه دا په عرض رسوم چې زه خپله یو ځوان سړی یم او د خپل ملت او مملکت خدمت ته فوق العاده شوق او محبت لرم، او همداسی یوه رجال چې د مملکت د داسې دروند بار تحمل وشي لرلی و نه پیژنم او هم نه غواړم چې زما او د ملت ترمنځ یو سد او حایل موجود وي. له دې کبله څو چې کولی شم، ما دا کار د امارت پر وظایفو سربیره پر خپله اوږه اخیستی دی. څرنګه چې فعلاً دا کار په

لویه جرگه کې له تاسې سره کوم، د عظمی صدارت حیثیت لري او هغه چارې چې د مجلس له فراغت څخه وروسته د شپې، سحر او مازیگر اجرا کوم د پادشاهی وظایف دي.

زه له خدایه شاکر یم چې ډېر مامورین زما په همدې خیال او مسلك عمل کوي او د مملکت د چارو په انجامولو کې ډېر شوق لري، چنانچه د دولت د شورې عمومي رئیس صاحب د خارجه وزارت چارې د وکالت په توگه او د شورې چارې د اصالت په ډول ایفا کوي»،

د اعلیحضرت دا بیانات په لویه جرگه کی د هغوی د پاکو ملي احساساتو ښکارندوی دي. مگر د حقوقو له نظره چې د حکومت او سلطنت چارې دواړه د یو غیرمسؤول شخص په لاس کې دي، دا خپله د یو مطلقه حکومت ثبوت او له مشروطه حکومت سره متضادی دی.

## دوهم فصل
## د افغانستان د اتباعو عمومي حقوق

د اساسي قانون له ( ۸ مى مادى تر ۲٤ مى مادې.) مجموعا په ۱٦ مادو کې دا لاندى مطالب ثبت شوي دي:

۸ ماده: تابعيت.

۹ ماده: شخصى آزادى.

۱۰ ماده: د شخصى آزادى مصؤونيت.

۱۱ماده: د مطبوعاتو آزادي.

۱۲ ماده: د شرکتونو د تشکيل حق.

۱۳ ماده: د عرض او شکايت حق.

۱٤ ماده: د تدريس آزادي.

۱٥ ماده: پر مکاتبو د حکومت نظارت.

۱٦ ماده: په حقوقو او وظايفو کى د اتباعو مساوات.

۱۷ ماده: د مامور استخدام.

۱۸ ماده: د مالياتو او محصولاتو اخيستنه.

۱۹ ماده: د ملکيت حمايت او د استملاك جواز.

۲۰ ماده: د مسکن مصؤونيت.

۲۱ ماده: په محاکمو کې عمومي دادخواهي.

۲۲ ماده: د بیگار او مصادری منع.

۲۳ ماده: د غیرقانوني اخاذی عدم جواز.

۲٤ ماده: د شکنجې او د جزا د نورو انواعو منع.

اوس نو چې د دې برخې له عناوینو سره آشنا شوو، نو له محتوا سره به یې هم په لاندې کرښو کې آشنا شو:

**۸ ماده** ـ تابعیت:

**«ټول هغه اشخاص چې د افغانستان په مملکت کی دي بې له دیني او مذهبي تفریقه د افغانستان تبعه ورته ویل کیږي. د افغانیه تابعیت د وصف مطابق د خاصي نظامنامی حاصل یا اضاعه کیږي».**

په دې حکم کی دوه عمده مطلبه لیدل کیږی، یو دا چې چاته د افغانستان تبعه ویل کیږي؟ او بل دا چی تابعیت څرنګه کسب یا څرنګه ضایع کیږي؟ لومړی مطلب کوم نوی مطلب نه دی، مګر دویم مطلب یو نوی مطلب دی چی په یوې نظامنامی کی چې د نفوسو تذکره او د پاسپورت اصل او د تابعیت قانون نومیده په ۱۳۰۳ کی نشر او په ۱۵ مادو کې (له ۹۰ مادی نه تر ۱۰۵ مادی) تنظیم شوی و.

**۹ ماده** ـ شخصي آزادي:

**«د افغانستان ټول اتباع د خپلې شخصي آزادی مالك دي د نورو آزادي اخلال او نه ضایع کوي».**

د قانون له دې حکم څخه پخوا د افغانستان اولس یو سلسله شخصی آزادی لرلی. لکه د شغل او کار د انتخاب آزادي، د منقولو او غیرمنقولو اموالو د خرید او فروش آزادي، د تجارت آزادي، د

مالدارو کوچیانو د تګ راتګ آزادي، حتی له هیواد څخه خارج ته د زده کړې او تحصیل لپاره د تګ او را تګ آزادي؛ امنیتي او عنعنه یی آزادي، بې له کوم اعلان او بې له غږ او غوږه، له پیړیو راهیسې په هیواد کې د یوه طبیعي حق په صفت موجودی وي او د بداهت په سبب څوك دی حقوقو ته متوجه کیده هم نه. کله چې د شخصي آزادی حق، د اروپایی هیوادونو د انقلابي دست آورد په حیث تقلید او په قانون کی تسجیل شو، د افغانستان تبعه د شخصي آزادي مالك او د آزادی حدود یی د نورو آزادي وبلله، یو سلسله سؤتفاهمات او سؤتعبیرات یې راوپارول.

په همدی ارتباط د لویې جرګې یو استازي، یو مولوي وویل: « د آزادی له لفظ څخه مقصد دلته د شریعت او د حکومت د فرمایش مطابق فقط د افغانستان د عمومو افرادو شخصي او ذاتي آزادي ده، لیکن په عوامو کې داسی افواه ده، چې له آزادی مطلب د ادیانو، د نامشروع اعمالو، د رقص او سرود، ملاعبو او نواهیو او د ناوړو اعمالو آزادی دي.

د مولوي صاحب د دې خبرې په مقابل کی اعلیحضرت یوه مفصله بیانیه ورکړه او په موضوع یې رڼا واچوله. دا چې د لویې جرګې استازي له زړه په دې کابینی قانع شول یا نه، ښکاره نه شوه خو په وروستیو اساسي قوانینو کې دا ماده تعدیله شوه. د مثال په توګه د ۱۳٤۳ په اساسي قانون کی دا ماده په ۳۶ مادی کی داسی ثبت شوه: «آزادي د انسان خدای ورکړی حق دی. دا حق د نورو له آزادی او عمومي ښیګړو ته چې قانوني ښودلی دي نوری پولی نه لري ».

**۱۰ ماده** ـ د شخصي حریت مصؤونیت:

**« شخصي حریت د هر راز تعرض او مداخلی څخه مصؤون دی.**

**هیڅوك بي له شرعي او د نظاماتو له امر څخه توقیف او نه مجازات کیږي. په افغانستان کې د اسارت اصول بالکل موقوف دي. ښځه او نر بل هیڅوك د اسارت په دود استخدام کولی نشي.»**

د دې مادې لومړۍ جمله یوه نوې او ډیره مفیده جمله وه چې په بعدي اساسي قوانینو کې اقتباس شوه، د لسمې مادې د لومړۍ جملې په باب د هغې زمانې د یو عالم، د لویې جرګې استازې مولوي محمد حسین خان داسې وویل: «د راشده خلفاوو له دورې وروسته د علماوو او د پادشاهانو ترمنځ فاصله او لیرې والی له دې کبله منځ ته راغی چې د حق د کلې په څرګندولو بې له شرعی تحقیق او محض د مغرضانو په افترا بې له کوم قانوني ثبوته به خلك مأخوذ او محبوسیدل دا چې د پادشاهانو په حضور کې به رښتیا ویل کیدای نشو، د صادقې عقیدې خاوندانو به په جبري توګه د سلطنت له چارو فاصله نیوله او لیرې کیدل او له پادشاهانو سره به یې په زړه کې کرکه او نفرت درلود او حتی د هغوی ډوډۍ به یې حرامه ګڼله او د عزت ژوند یې غوره کړی و. له ۱۳۰۰ کاله وروسته د ملت هغه حقوق چې مستبدو پادشاهانو د ځان اختیارات شمیرل، غازي اعلیحضرت په خپله خوښه او رضا بې له جبر او اکراه بیرته ملت ته ور وګرځول. په نظامنامه کې یې دا اعلان کړل چې څوک بې له شرعي تحقیق او د دولت د مقننه نظاماتو خلاف توقیف او محبوس کیدای نشي.

که د اسلامي مقدس تاریخ څخه تیر شي او یو نظر اروپا ته واچوي نو څه به ووینې؟ یوې خواته پادشاهان خپل مخالفین که څه هم د دولت خیر غوښتونکي دي، خپل دښمن بولي او بندیانوي یې او بلې خواته آزادي غوښتونکي خلك ډلې جوړوي چې دا د ملت د وینو د تویولو موجب ګرځي. د انګریزانو په وطن کې د تایمز د سین په غاړه قوم خپل پادشاه ته دا عریضه وړاندې کوي چې هیڅوك بې له

قانوني تحقیق څخه باید توقیف نشي. پادشاه خپله جوغه د هغوی پښو ته ورغورځوي او وایی: «ماته یوازی همدا را پاته دي هغه هم درواخلی!»

لېده یی دا چې تر څو په لکهاوو انسانان ونه وژل شي، پادشاهان له استبداد او له دې اختیاراتو لاس نه اخلي. څومره د شکر او امتنان ځای دی چې غازي اعلیحضرت هغه اختیارات چی پادشاهانو هغه د خپل د سر په قیمت ساتلي دي هغه وړیا ملت ته ورگرځوي او پر هغو صلاحیتونو قناعت کوي چې شریعت اولی الامر ته ورسپارلي دي... ». *(لویه جرگه، ص۱۵۵)*

په دی اړوند د لویی جرگی د یوه وکیل، د غلام حیدر د دایزنگی د هزاری، بیانیه پر موضوع، د هغه زمان د اسیرانو په اندازی او کوم څه چې له دوی سره شوي وو او بیا اعلیحضرت غازي د افغانستان ترقی غوښتونکی پادشاه له هغوی سره څه وکړل، ښه رڼا اچوي، چې د هغه بیان او پر هغو اوضاعو پوهیدل به له گټې خالي نه وي. ده وویل: «دا چې پخوا له دی تر لسو زرو نارینه او ښځینه مسلمان، له هزاره، جدیدی، شغنانی، بدخشی، چارسده او نورو طایفو د کنیز او غلام په نامه د ملت د نورو ورونو په کورونو کی، قید وو اوس چې موږ په زړو ژبو د غازي اعلیحضرت له مرحمت او نوازش څخه تشکر وکړو نشو کولای چې دا حق ادا کړو چې دوی د خپل سلطنت په ابتداء کی دا نارینه او ښځی لومړی له خپله حضوره، بیا له خپله حرمه او بیا د ملت د ورونو له نورو کورنیو آزاد کړل؛ داسی چی د نجیب اسلامیه ملت هیڅ یو فرد د غلام او کنیز په نامه پاته نشو. د دی خلکو مال او ملك، چې دا دیرش څلویښت کاله ضبط و، بیرته یې څښتنانو ته ور وگرځاوه او هغوی یې د هستۍ او ثروت څښتنان کړل... ».

د دې مادې دويمه جمله د اسارت اصول، که څه هم د امير حبيب الله خان په زمانه کې اسارت منع شوی و، پخوانی اسيران آزاد شوي وو، مګر د اعليحضرت امان الله خان په زمانه کې پخواني اسيران يعنی غلامان او مينځې آزادې شوې چې ډېرې يې د شاهي خاندان مينځی او غلامان وو. د اعليحضرت دی اقدام هغه ته ډېر محبوبيت ور وباخښه.

**۱۱ ماده** ـ د مطبوعاتو آزادی:

**«مطبوعات او داخلي اخبار له خاصي نظامنامی سره سم آزاد دي. د اخبار نشرول يوازی د افغانستان د حکومت يا د افغانستان د اتباعو حق دی. د خارجه مطبوعاتو په برخه کې د افغانستان عليه دولت ځينی قيود او شرايط ايښودلای شي».**

دا ماده د بشر له حقوقو اقتباس شوې. د اتباعو د افکارو او علم د انکشاف او هم د حاکمه قدرت د کنترول لپاره يوه ډېر مفيد او ضروري حکم شميرل کيږي. همدارنګه دا حکم د عدالت، قانونيت او مصؤونيت يو ښه تضمين دی مګر له بده مرغه د دی اصل رعايت په بيرته پاته هيوادونو کی نه کيږي. په دی هيوادونو کې دا اصل په اساسي قوانينو کی را اخيستل کيږي، مګر په عمل کی حکمروايان د دې اصل تحمل نشي کولی. په دی هيوادونو کې کله چې د حکومت په خوښه د دې اصل پر بنا ځينی نشرات منځ ته راغلي ډېر ژر هغه حکومت له منځه وړی او يا يې بی اثره کړی دي.

د اساسي نظامنامی د ۱۱ مادی په اساس په ۱۳۰۳ هـ ش کال کی د مطبوعاتو نظامنامه په ۱۸ مادو کې نافذه شوه، له هغې زمانې بيا تراوسه د ډېرو عواملو پر بنا چې مهم يې بيسوادي او د سواد په وسايلو کی نقص دی، مطبوعاتو په هيواد کی انکشاف ونه شو کړی

او حتی نن ورځ په دې برخه کې له خپلو ګاونډیانو څخه هم ډیر بیرته پاته یو.

۱۲ **ماده** ـ د شرکتونو د تشکیل حق:

**«د افغانستان اتباع له موضوعه نظاماتو سره سم د تجارت، صنعت او زراعت لپاره هر راز شرکتونه کولی شي ».**

دې مادې نوی حق ټولنې یا افرادو ته نه ورکاوه. له پیړیو را په دیخوا دا حق د دې خاورې اولس ته، د اسلام له زمانی او حتی له هغې پخوا هم موجود و. دا حق چی په هغه بداهت په دی خاوره کی موجود و، په اروپا کې له ۱۸ پیړی وړاندې له بورژوازی انقلابه مخکی چا نه پیژانده. هلته د مقیدو صنفي تشکیلاتو له کبله د یوی حرفی خاوند پخواني غړي بلې حرفی خاوند ته نشو تلای او پرته له اشرافو او روحانیانو چا نشو کولای چې د عقاری ملکیت حق ولري، یو آهنګر نشي کولی زرګر شي او یو بزګر نشو کولی د کومې ټوټي ځمکی یا باغ څښتن شي. د اروپا د علماوو د پیړیو پیړیو مجاهداتو په اثر خصوصا د تنویر او روشنفکری په دوره کی د آزادی، برابرۍ او وروروِلی د اصل په سوري کې ذهنیتونه روښان شول او ټولنه د دې اصل تحقق ته تږې وه، کله چې دا حق دوي لاس ته راوو‌ړ، هغه یې د انقلاب دست آورد وباله او په خپلو قوانینو کې یې تسجیل کړ. مګر زموږ په هیواد کې دا حق د هغه د بداهت په سبب د خلکو د علاقې وه ګرځیدای نشو. که چیری د دی حق تسجیل په اساسي قانون کی په حُسن نیت تاویل شي، نو د دې مثال به داسې وي چې څوك چاته د آزادی هوا د استنشاق تعارف وکړي. مګر په سؤنیت د دې مادې تاویل او تفسیر داسې کیدای شو چې خلك ډاریدل چې په تجارتي او مدني معاملاتو کې د قانون له لارې پخوانی آزادی ته محدودیتونه را نشي.

**۱۳ ماده** ـ د شکایت او عرض حق:

**«د افغانستان اتباع په انفرادي یا ټولینزه توګه که چیرې د مامورینو یا نورو له خوا شریعت یا د دولتي نظاماتو څخه مغایر حرکت یا رفتار ویني، دولتي اداراتو ته عرض کوي. که چیری مرجوعه حکومتي ادارې د هغه بازخواست نه کوي او عرض یی نه اوري، له ترتیب سره سم دی د هغه مافوق ته استغاثه وکړي، که چیرې هیچا بازخواست ونه کړ، پادشاهي حضور ته عرض کولی شي».**

دا حق د بشر له طبیعي حقوقو څخه دی، چې په شرق کې له زرګونو کلو راهیسي د خلکو د داد خواهی او د پادشاهانو د داد ګیری قصې په خاصو او عامو مجالسو کی موجودی دي.

زموږ په هیواد کې له عادلو حکمرانانو، لکه میرویس او احمدشاه بابا سربیره هغه پادشاهان، لکه امیر حبیب الله خان چې په عدالت کی یې ډیر شهرت هم نه درلود، دې مطلب ته توجه کړې او له هغې زمانی د حکامو دستورالعمل او د حکامو قانون موجود دي، او هغه همداسی چې عدالت خواهی او بازخواست ته توجه شوې ده.

**۱٤ ماده** ـ د تدریس آزادي:

**«د تدریس چارې بالکل آزادی دی. د معارف له عمومي نصاب سره سم د افغانستان هر یو تبعه عموماً په عمومي او خصوصي توګه، د تدریس لپاره مأذون او مجاز دی. مګر اجنبي اشخاص د هغو افرادو په استثنا چې د تعلیم لپاره استخدامیږي، د افغانستان د مملکت په داخل کې د مکتبونو د افتتاح او اداری اجازه نه لري.»**

په دې ماده کې چې د افغانستان یوې تبعی ته، د معارف د عمومي نصاب سره سم د مکتب د تأسیس حق ورکړ شوی دی او خارجیانو

ته دا حق نه دی ورکړ شوی، دا د هیواد لپاره یو مفید او خیر اندیشانه حکم دی، مگر یو نوی ابتکار یا یو داسې نوی حق نه دی چې پخوا دی موجود نه وي. پخوا له دې هم د سواد او د علم علاقمندانو خپله یا د خپلو والدینو له خوا ملایانو ته لیږل کیدل او یا په شخصي کورونو کې به د خپلوانو، خویشانو، دوستانو او آخوندانو له خوا په دیني او ادبی رشتو کی په عربی، دری او پښتو تدریس کیده. د تدریس د مخالفت لپاره کوم حکم موجود نه و، مگر د مستبدو حکمروایانو له داره او دا چې په پراخه توگه د علم له زده کړې سره علاقه نه وه موجوده، په دې خصوصي حلقو کی انکشاف ونه کړ. کله چی اعلیحضرت د اساسي نظامنامی د ۱٤ می مادی له حکم سره سم خصوصي مکاتب تشویق کړل. دی مکاتبو کوم انکشاف ونه کړ حتی رسمي دولتي مکاتب چې هلته د تعلیم ټول وسایل وړیا وو او حتی د تحصیل په لوړو صنفونو کې، ډوډی، کالي او جیب خرڅ هم ورکول کیده، بیا هم مکاتبو مطلوب انکشاف ونه کړ. د دې عدم انکشاف عمده علت له تحصیل سره د خلکو عدم علاقه او له تحصیل سره د اجتماعي او اقتصادي شرایطو د عدمی علاقی علت د دوی عدم ضرورت کې نغښتی و. د جامعی قریب عموم اکثریت چی بزگران او کوچیان وو، د مکتب په تحصیل کی اجتماعي او اقتصادي گټه نه لیدله او حتی د دوی آني اقتصادي گټو کې یی نقصان هم راووست. د کلي د لیک او لوست چارې د مسجد د ملا په وسیله اجرا کیدی او دی وضعې تر ډیرو کلونو ادامه لرله خو چې خلکو د مکتب اجتماعي او اقتصادي گټې په خپلو سترگو ولیدی، دا هغه وخت و چې یوه ډله د مکتب فارغ التحصیلان په دولتي ماموریتونو وگمارل شول او دا امر د مکاتبو د انکشاف سبب شو، خصوصاً په هغو سیمو کې چې اقتصاد یی ضعیف و، خلکو د مکتب خواته زیاته هڅه وکړه.

په اروپا کې د تحصیل له انکشاف سره سم، تجارت، صنعت او تخنیك

هم انکشاف وکړ او ډیر د تعلیم خاوندان یې جذب کړل، مګر زموږ په هیواد کې دی برخو کې کوم بدلون رانغی او ټول د تعلیم خاوندانو د دولت ماموریت ته مخه کړه او مکتب او تحصیلي مراجع یوازې د دولت د مامورینو د تربیې مراکز شول. په ۱۳٤۹ هـ ش کال کې د مامورینو په قانون کې دا شرایط زیات شول چې یوازې هغه څوك مامور کیدای شي چې د ۱۲ صنف (بکلوریا یا معادل د بکلوریا) تعلیم یا له هغه پورته تحصیل کړی وي. د ثور انقلاب نظر خپلو انقلابي ابتکاراتو ته دا حکم په اول کال کې مات کړ، مګر ډیر ژر خپلې اشتباه ته متوجه شول او دا حکم یې بیرته نافذ کړ.

**۱٥ ماده** ـ پر مکاتبو د حکومت نظارت:

**«د افغانستان ټول مکاتب د حکومت تر نظارت او تفتیش لاندې دي. حکومت ټول هغه اسباب او تدابیر چې د افغانستان ټولو اتباعو د ملیه او علیه تربیې لپاره د اتحاد او انتظام پر سیاق وي، په دقت به نظر کې نیسي، مګر تعلیمیه اصول چې د اهل ذمه افرادو په مذهبي او اقتصادی امورو پورې اړه لري، نه اخلالیږي »**

دا ماده د حکومت له مفیدو تدابیرو څخه وه چې که چیرې خصوصي مکتبونه منځ ته راغلي وای پر هغو د حکومت تفتیش او نظارت یو ضروري امر ګڼل کیده.

داسي یو حکم پخوا له دې موجود نه و او عامه افکارو هم له هغه سره کوم مخالفت نه درلود. له همدې کبله دی حکم نه کوم شور او نه کوم عصیان مینځ ته راووړ.

**۱٦ ماده** ـ په حقوقو او وظایفو کې د اتباعو مساوات:

**«د افغانستان ټول اتباع د شریعت غراي محمدي او د دولت د**

**نظاماتو په حضور د مملکت په حقوقو او وظايفو کې مساوي حق لري»**

د اساسي نظامنامی دا حکم يو نوی مطلب نه دی. د اسلام په حقوقو کې او پخوا له هغه په تعاملي حقوقو کې دا يو پيژندل شوی اصل دی دا چې په عمل کې دې اصل ته څومره اعتنا شوې ده، دا يوه بيله موضوع ده.

**۱۷ ماده** ـ د مامور استخدام:

**«د افغانستان ټول اتباع د خپل لياقت او اهليت په اندازه په ټولو ماموريتونو کې د دولت د احتياج به اندازه استخدام کيږي ».**

د دولت د مامور په استخدام کی دوه عمده مطلبه ليدل کيږي. د مامور اهليت او استخدام ته د دولت ضرورت. دولت د ضرورت مطابق مامورين د اتباعو له مينځه مقرر وي. د هغوی قوميت، مذهب، اجتماعي موقف ته نه گوري او دی ته گوري چې د ماموريت کانديد د هغه کار لياقت او اهليت ولري. دولت اتباعو ته د ماموريت چوکۍ نه پيدا کوي، بلکه د ماموريت چوکۍ ته تر ټولو لايق او اهل شخص پيدا کوي. په ماموريت کې د اهليت او قابليت اصل د هغو اصولو له جملی څخه دي چې په اسلامي ټولنې کې لوړ مقام لري. د اسلام د عروج په زمانی کی د دی اصل دقيق رعايت شوی او په غير اسلامي هيوادونو کی هم تر هغی زمانه چی کار لايقو او اهلو خلکو ته سپارل شوی هغه هيواد پرمختللی او په جهانی کورنی کې يی ممتاز مقام لرلی دی. برعکس هلته چی د اهليت د اصل رعايت نه دی شوی هغه هيواد او حتی امپراتور په لنډه موده کی سقوط کړی دی. لرې به نه ځو؛ د اعليحضرت د سقوط عمده علت هم د همدې اصل عدم رعايت و او د شوروي لويی امپراتوری هم په همدې سبب چې د کار

او اهليت اصل ته اهميت نه ورکاوه او په ظاهري حزبي تعهد ولاړه وه، وشړيده. د دموکراتيك آلمان د جمهوريت يو معين کوم وخت چې دواړه آلمانه يوځای شوي نه وو، يوه ورځ وويل: کله چې موږ انقلاب وکړ، زموږ ډير پوهان او عالمان، چې په کاپيتاليستی او امپرياليستي نظام کې روزل شوي وو، غرب ته ولاړل او هغه څوك چې پاته وو او غرب ته نه ولاړل موږ پر هغو اعتماد نه شو کولای، موږ خپله هم چې عالي تحصيل نه درلود، د کارگرانو او بزگرانو اولاد وو، حيران وو چی څه وکړو؟ ده وويل: زه خپله ولډنگ کار وم او زموږ وزير صاحب په هغه وخت کی قفل جوړوونکی و، خو حزب تصميم ونيو چې موږ بايد خپل ځان ورسوو. موږ، د دوو مياشتو، بيا د شپږو مياشتو بيا دوه کلن کورسونه جوړ کړل او له دې شعار لاندی چې: «کار وکړه، زده کړه وکړه او له انقلاب څخه دفاع وکړه، په کار مو شروع وکړه او د تحصيل له نظره مو هم ځان داکتری ته ورساوه».

د شرقي آلمان د دې لوړ رتبه مامور د بياناتو په اساس دوی پر هغو علماوو او متخصصينو چی متعهد نه وو په بل عبارت کمونست نه وو اعتماد نه کاوه او په لنډه زمانه کې يی علماً ځان ورساوه او دې او وزير صاحب دواړه د کورسونو له لارې داکتران شول. مگر د دې طريقی نتيجه نن ښه څرگنده ده چې دوی اوس د غربي آلمان د اوږو بار دي او هغه کاپيتاليستی آلمان د دوی له سره په ملياردو مارکه قربان کړل او اوس هم مصارف ورته کوي چې په خپل څنگ کې يې ودرولی شي. دا مطلب دلته د تذکر وړ دی چې په سوسيالستی هيوادونو کې دا اصل چې د ماموريت لپاره اهل خلك لټول کيږي نه رعايت کيږي، بلکه هلته د افرادو لپاره ماموريت پيدا کيږي. همدا وجه ده چې په لومړئ ډله هيوادونو کې د ماموريت تشکيل د ضرورت مطابق او محدود دی او په دويمه ډله هيوادونو کې د بيکاری د رفع کولو لپاره تشکيلات ډير وسيع دي.

۱۸ **ماده** ـ د ماليې او محصول اخيستل:

**« مقرره ماليات او محصولات د مخصوص نظامنامو سره سم د افغانستان د اتباعو لپاره د هغوی د ثروت او اقتدار په تناسب تعيين شوي او اخيستل کيږي.»**

ماليې او محصول له قديمه موجود وو، مگر د دې دورې د قوانينو په اساس د مالياتو او محصولاتو په اخيستلو کی ډير تسهيلات راغلل. جنسي ماليات، د خريداری غلی حواله، د هيواد رباطونو ته د آذوقي اجباري رسول، د ماليه ورکوونکو او د دولت ترمنځ د خان او ملك وساطت، د قريه داری تشکيل، د هغو مواشيو ماليات چې شميرل شوي نه دي، د بازار د حرفو له خاوندانو د مختلفو ټکسونو اخيستل او داسې نور لغو شول. د ځمکې نغده ماليات وټاکل شول. ماليه ورکوونکو د مالياتو دفاترو ته بې د خان او ملك له وساطت ورتلای شو او خپله ماليه يې تاديه کوله او دولت خپل احتياجات په نغدو پيسو د خلکو په خوښه او رضا له هغوی اخيستل. د مالدارانو حيوانات هرکال شميرل کيدل او د شمير له مخې ماليه اخيسته کيده. د دې کار لپاره د محصول مواشي نظامنامه جوړه شوه.

همدارنگه د صنايعو د تشويق، د زراعت د مالياتو د تحصيل لپاره قوانين جوړ شول د مالياتو د تنظيم لپاره د (دفتري اصولو مکتب ) او د حکامو د تربيې لپاره د (حکام مکتب) تأسيس شو. دا د هغه معقولو او ښو ريفورمونو له جملې څخه وو چې خلك په راضي شول او د دولت عوايد هم له ۸۰ مليونو افغانيو څخه ۱۸۰ مليونو افغانيو ته لوړ شول.

۱۹ **ماده** ـ د ملکيت حمايه او د استملاك جواز:

**«په افغانستان کې هر څوك له خپل مال او ملکه چې په تصرف کې**

**يې دي په امن کې دي. يو ملك چې د عمومي منافعو په مقصد د دولت په کار شي د مخصوصی نظامنامی سره سم لومړی د هغه قيمت څښتن ته تاديه کيږي او بيا ملکيت اخيستل کيدای شي.»**

د عامه منافعو لپاره د ملکيت حمايه او د استملاك جواز: د يوه عادلانه قيمت په مقابل کې له استملاك څخه وړاندې د ملکيت خاوند ته ورکول يو بشري حق دی چې په اروپا کې په ۱۸مې پيړۍ کې د خلکو نصيب شو، خو په اسلام کې دا حق لا پخوا رعايت کيده. زموږ په هيواد کې د دې حق رعايت د پادشاهانو په سلطنت کې کيده او په مستبده حکومتونو کې دا حق چا نه پيژانده. د اعليحضرت امان الله خان په زمانه کې د دې حق رعايت کيده او حتی خپله اعليحضرت د خلفای راشدين د زمانې په پيروی په څو مواردو کې د مدعی عليه په صفت محکمې ته حاضر شو.

**۲۰ ماده** ـ د مسکن مصؤونيت:

**« مسکن او د افغانستان هر يو تبعه له هر راز تعرض څخه مصؤون دی او هيڅوك د حکومت له خوا بې د نظاماتو له احکامو د چا کور ته جبراً يا بې اجازې ننوتلی نشي»**

دا د بشر د حقوقو له جملې څخه يو حق او رعايت يې د انسانيت د رعايت محك دي، په اسلام کې دا حق د بشر د حقوقو له پيژندلو د مخه پيژندل شوی و او رعايت يې د مسلمانانو فريضه ګڼل شوې وه. مسلمانان له دې چې منع شوي وو چې بې له اجازې د چا په کور ورننوزي مګر په دکتاتوری او استبدادی حکومتونو کې د دې بشري اسلامي حق رعايت نه کيده.

**۲۱ ماده** - په عدلیه محاکمو کې عمومي دادخواهی:

**«په عدلیه محاکمو کې عمومي عرض او داد د شریعت او د حقوقي او جزایی محاکمو له اصولو سره سم فیصله کیږي.»**

په دې حکم کې د حقوقي او جزایی مسایلو رسیده ګي د عدلیه او د عدلیه محاکمو له صلاحیت څخه شمیرل شوي دی، حقوقي مسایل دلته د مدني یا د وجایبو د حقوقو په مفهوم راغلی دي. او د اداري مسایلو د قضایاوو رسیده ګي په دې برخه کې شامل نه دی. همدارنګه دیوان عالي له دې برخې وتلی دی.

د یادولو وړ ده چې په ۱۳۰۰ هـ ش کال د اعلیحضرت په اراده مولوي عبدالواسع کندهاري تمسك القضات په دوو ټوکونو کې، په حقوقي او جزايي برخو کې په دري ژبې ترتیب او تهیه کړ.

**۲۲ ماده** - د مصادری او بیګار منع:

**«مصادره او بیګار بالکل منع ده. مګر کوم کار او تکالیف چې د محاربې په زمانه کې پیښیږي، د مخصوصي نظامنامې سره سم له دې قاعدی استثنا دی.»**

دا ماده د بشر د حقوقو له جملې او د انساني ټولنو د تکامل ښکارندوی دی.

په اسلام کې دا اصل پیژندل شوی مګر په اسلامي هیوادونو او نورو بیرته پاته غیراسلامي هیوادونو کې د دې اصل رعایت په عمل کې نه دی شوی. تر نن ورځې په مختلفو نومونو، لکه اشر، یا حشر یا داوطلبانه کار اجباري کارونه اجرا شوي او د منقول او غیرمنقولو اموالو مصادره د تأمین په نامه شوې ده.

**۲۳ ماده** ــ د غیرقانوني اخاذیو عدم جواز:

**«د دولت د تنظیماتو څخه بهر له هیچا څه شی نه اخیستل کیږي.»**

دا حکم چې د زوروړو خصوصاً د هغه چا د تیري مخه نیسي چې د دولت په چوکی ناست او د دولت قدرت ورسره دی. د اجتماعي ټولنې لپاره یوه ډیر مفید حکم دی. غیرقانوني اخاذی، چې حق، ناحقه او ناحقه، حق گرځوي، د فساد د نشر او د اجتماعي عدم مصؤونیت لوی عامل دی. اسلام دا عمل شدیداً منع کړی. په ضعیفو او فاسدو حکومتونو کې دا شنیع عمل زیات شوی او په قوي او د ټولنې خادمو دولتونو کې د دې عمل مخه نیولی شوې ده. سعدي داسې وایی:

چو پادشاه ز باغ رعیت خورد سیبی

غلامانش کشد درخت از بیخ

عمده عامل د غیرقانوني اخاذی د حکمدار رویه ده. که ده د رعیت له باغه یوه منه واخیستله، نوکران یې د خلکو باغونه بیدیا کوي. له دی علاوه د مامور انتخاب او کنترول د هغه د اعمالو او دارایی ډیر مهم دی. حضرت عمر (رض) به د ښو له منځه ښه سړی په ماموریت گماره د ماموریت په ابتدا کې به یې دارایی ثبتوله، او بیا به یی اعمال تر کنترول لاندې وو او په آخره کې به یې بیا هم دارایی له ابتدایی دارایی سره مقایسه کوله. دا اصل که څه هم زموږ د هیواد په قوانینو کی شکلاً پاته شو مگر عمل پرې ونه شو.

# دریم فصل
# وزیران

اساساً وزیران د هیواد د اداری د حقوقو په تاریخ کی یو نوی فصل دی. د شیرعلی خان د سلطنت په دوره کې د یو سلسله ریفورمونو په ترڅ کې د کابینې هیئت هم جوړ شوی و او سید نورمحمد شاه یې صدراعظم یا لومړی وزیر و. پخوا له دې په هیواد کې کابینه چا نه پیژنده، پادشاه به یو دوه وزیران درلودل او کله به یې چې خوښه وه له هغوی سره مشوره کوله. د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې د شیرعلی خان د سلطنت رویه تماماً ترك شوه.

د اعلیحضرت امان الله خان په دوره کې د شیرعلی خان دورې ته نه یوازی مراجعه وشوه، بلکه د غربي قوانینو د اقتباس له لارې دې ته نور هم انکشاف ورکړل شو. په اساسي نظامنامه کې یو فصل د وزیرانو لپاره تخصیص شو چې د دې فصل د مطالبو عناوین دا دي:

۲۵ ماده: د حکومت اداره.

۲٦ ماده: د وکیل اختیارات.

۲۷ ماده: د کلنیو اجراآتو بیان، د استقلال له جشن څخه یوه ورځ پخوا.

۲۸ ماده: د صدراعظم تاکل.

۲۹ ماده: د وزیرانو مجلس.

۳۰ ماده: د وزیر اجراآت.

۳۱ ماده: د وزیر مسؤولیت.

۳۲ ماده: له پادشاه نه د تحریری امر اخیستل.

۳۳ ماده: وزیر او حاکم.

۳٤ ماده: د وزیر د وظیفی تعطیل.

۳۵ ماده: د اساسي تشکیلاتو نظامنامه.

**۲۵ ماده** ـ د حکومت اداره:

**« په افغانستان کې د حکومت اداره د وزیرانو هیئت او مستقلی اداری ته سپارل شوی ده. د وزیرانو د هیئت اجتماع د ملوکانه ذات تر ریاست لاندې ترسره کیږي او که شاهانه ذات تشریف نه درلود، صدراعظم د ریاست وظیفه اجرا کوي او که صدراعظم هم نه و، د وزیرانو له جملې د لومړي وزارت وزیر د ریاست دنده انجاموي.»**

د دی مادی لومړۍ جمله چې د حکومت د اداری وظیفه د وزیرانو هیئت او مستقلې ادارې ته تفویضوي، د شکل له مخې یوه نوې ماده ده او له اروپایی حقوقو اقتباس شوې ده. له اولې جملې وروسته نور د دې نظامنامی مطالب د ٦ او ۷ مادې په ارتباط د حکومت اداره پادشاه ته سپاري. پادشاه د وزیرانو د هیئت د مجلس ریاست کوي. پادشاه هم د دولت رئیس دی او هم د حکومت رئیس ( صدراعظم ) هم د وزیرانو د هیئت یو غړی دی، نه د حکومت رئیس. د صدراعظم او د وزیرانو د تقرر او عزل صلاحیت هم د پادشاه په واک کې دی او دوی یوازې پادشاه ته سوال او ځواب ورکوونکی دي. په داسې حالاتو کې واضح خبره ده چې د جلب منفعت او دفع ضرر د حکم په اساس په مجالسو کې اساساً هیڅ پر وزیر د پادشاه د نظره مخالف کوم نظر نشي ورکولی. په داسی حالاتو او شرایطو کې که وزیر یا مستقل رئیس نه غواړي چې خپل مقام له لاسه ورکړي نو دی مجبور

دی چې د پادشاه نظر تائید کړي او د هغه د نظر لپاره معقول او منقول دلایل پیدا کړي او هوښیار وزیر به لا هغه وي چې د پادشاه په خصوصیاتو پوه او پخوا له دې چې پادشاه خپل نظر ویلی وي دی یې په زړه پوه وي او د هغه له زړه خبره وکړي. د مستقل نظر او فکر خاوندان په داسې مجالسو کې ډیر پاته کیدای نشي. د دې خبرې د ثبوت لپاره په هر دکتاتوري او مطلقه نظام کې په سلګونو مثالونه موجود دي. لرې به نه ځو دلته به یوې غیر مشخصې حادثې او بیا یوې مشخصې واقعې ته چې خپله د اعلیحضرت په دوره کې پیښه شوې اشاره وکړو:

په پخوانیو قصو کې راغلي چې یوه پادشاه یوه ورځ د شعر ویلو هوس وکړ او یو فرد یې په زیات زحمت داسې جوړ کړ چې:

« چشم یارم به سرب میماند»

ده ګمان کاوه چې ده یوه شهکاری کړې ده او کله چې یې شاعران واوري نو ده ته به د خدای بلا آفرین او تحسین ووایی. نو ملك الشعرایې راوغوښت او دا مسره یې ورته ولوسته. ملك الشعراء چې د ژوندي وجدان څښتن و، د ده د مسرې توصیف یې ونه کړ او په ډیر ادب یې وویل چې شهنشاه، شعر ویل د ناتوانه خیال بافو خلکو کار دی او دا کار تاسې غوندې د قدرت خاوند خلکو لپاره مناسب نه دی. پادشاه چې د ملك الشعراء خبره له خپل خیال سره مخالفه ولیدله نو په غوسه شو او امر یې وکړ چې ملك الشعراء دی طویلې ته بوزي.

له ډیرې مودې وروسته شاه په ډیر تکلیف د هغې مسرې بله مسری هم جوړه کړه او ګمان یې داسې و چې اوس نو دا مکمل شعر شو، که ملك الشعراء دا واوري نو ارومرو یې ستایی. ملك الشعراء یې

راوغوښت او هغه ته وویل دا دی ما د هغې مسرۍ دویم فرد هم جوړ کړ، زه یقین لرم چې اوس به دی خوښ شي او هغه داسي دی:

« چشم یارم به سرب میماند»

سفیدی آن به ترب میماند »

ملك الشعراء سمدلاسه پادشاه ته وویل: «اعلیحضرته زه بیرته طویلې ته ځم.

د اعلیحضرت امان الله خان د زمانی تاریخی واقعه هم همدې قصې ته ورته یوه حادثه ده: په یوې جلسی کی عبدالرحمن لودین اعلیحضرت امان الله خان ته وویل: «اعلیحضرت په خپل یو بیان کې ځان یو انقلابي پادشاه وباله. نو دا خبره دا ایجابوي چې دی د دولت په اداره کې انقلاب ومني. لس کاله کیږي چې اعلیحضرت د صدارت وظیفه شخصاً خپله اجرا کوي په داسې حال کې چې انقلاب دا غواړي چې د اعلیحضرت پرځای یو مسؤول څوك د صدارت وظیفې ته وګمارل شي. په هغه مجلس کې مرحوم عبدالرحمن لودین ته نه اعلیحضرت او نه بل چا جواب ورکړ. مګر د هغې ورځې په سبا د هغه د خبرې ځواب د دلګشا په مانۍ کې ورکړ شو. عبدالرحمن خان لودین دلګشا ته ور وغوښتل شو او ورته وویل شول چې دی باید د دولت له ماموریت څخه استفاده [استعفا] وکړي. عبدالرحمن خان لودین د کابل د ګمرکاتو رئیس و.

په پورته کرښو کې مطلب د اعلیحضرت امان الله خان او یا د هغه بل نامعلوم شهنشاه انسانی ضعف ته د ګوتی نیول نه و، بلکه دلته خبره د نظام د یو حکومتي یا دولتي نظام ده. په هغه نظام کې چې ټول قدرت د یوه شخص په انحصار کې وي، خواه دا شخص یو فرد وي، یوه کورنۍ وي یا یو حزب او ډله وي، نتیجه یې یوه ده او هغه

مطلقیت، دیکتاتوری او د نظر تحمیل دی د حاکم له خوا پر محکوم او محکوم دلته ملت دی.

په داسي ټولنو کي د عبدالرحمن خان لودین په شان د صراحت لهجي خاوندان استثنایي اشخاص دي اونور عموم درباریان او د حضور مقربین د قدرت د خاوند نظر ته ګوري. په داسی ټولنو کي حتی ایدیولوژی هم د رهبر د نظر تابع ده، آدولف هیتلر د ناسیونال سوسیالیزم (نازی) رهبر به ویل: مهمه موضوع د کمونستانو د فلسفي په باره کي فلسفه نه، بلکي رهبري ده. کله چي تاسي رهبری ته ورسیږی په ټولنه کي داسي خلك ډیر دي چي ستاسي له نظریاتو نه فلسفه جوړه کړي.

په هغو ټولنو کي چي دولتي رهبري په یوه نظام کي چي د ملت له خوايي څارنه کیږي، د کنترول لاندي رانشي او یا د عظمت غوښتونکو اشخاصو له خوا هغه حقوقي نظام مات او یوه بي قید او شرط او بي کنتروله دکتاتوري ورڅخه جوړه نشي تاریخ شاهد دی چي دی دکتاتوریو لومړی خپل ماحول او بشریت تباه کړی دی او بیا دوی هم همغي کندي ته ورلویدلي دي. مثالونه یي ډیر دي، لکه ناپلیون، هتلر، لنین او داسي ډیر نور لوی واړه د آسیا او اروپا او د نور جهان دکتاتور رهبران.

**۲۶ ماده** ـ د وکیل اختیارات:

**« وکیل چي د یو وزیر په غیاب کي تعینیږی عیناً د هغه وزیر اعتبارات او حقوق لري »**

د دي مادی حکم یوه حقوقي قاعده ده او کوم نوي مطالب له ځان سره نه لري. په دي حکم کي یوازي دي مطلب ته اشاره باید وشي چي اختیارات په بل مفهوم سره صلاحیتونه د حقوقو له کلمي سره یوځای

استعمال شوی او له حقوق نه دلته منظور هغه امتیازات دي چې د وزارت د مقام اجرا کوونکی ته تخصیص شوي دي.

**۲۷ ماده** ـ له جشن څخه یوه ورځ پخوا د یو کال د اجراآتو بیان:

**«هرکال د استقلال له عمومي جشن څخه وړاندې په یوه خاصه ورځ چې د شاهانه ذات له خوا ټاکل کیږي د شهریاري ذات تر ریاست لاندې یو عالي دربار منعقد کیږي. دا دربار د دولت له مامورینو، له مشرانو او اشرافو چې د شاهانه ذات له خوا انتخاب شوي وي جوړیږی. دې مجلس ته هر یو وزیر او مستقل مدیر خپل یو کلن اجراآت او خدمات علناً بیان او توضیح کوي».**

دا حکم یو نوی حکم و، چې په پخوانیو نظامونو کې یې سابقه نه لرله. دا سنت په بعدي حکومتونو کې کله آرام او کله له وسیعو تبلیغاتو سره یوځای د مدرنو جمعي وسایلو په ذریعه تعقیب شو. دا چې جمعی وسایل راډیو، تلویزیون او نشرات ټول د حکومت په لاس کې وو، له خس نیکی څخه غرونه جوړ شول او په غرو بدیو سترګی پټې شوي دي.

**۲۸ ماده** ـ د صدراعظم او د وزیرانو ټاکل:

**«صدراعظم او نور وزیران د قرین الشرف پادشاه له خوا انتخاب او ټاکل کیږي.»**

دا حکم د اساسي نظامنامي د (٦، ٧، ٢٠، ، ٣١،٢٥ او ٥٦ ) مادو په ارتباط څرنګ چې پخوا هم وویل شول، د سلفو مطلقه حکومتونو د ادامې موئید دی. په پخوانیو مطلقه حکومتونو کې هم صدراعظم او وزیران یا د دوی معادل پادشاه ته نږدی خدمتګاران د پادشاه په خوښه ټاکل کیږي او صرف هغه ته مسؤول وو او اوس هم د اساسي

نظامنامې د دی حکم په اساس پخوانی مطلقه سنت د قانون په اتکا مشروعیت موندلی دی. اولس او ملت د دوی په انتخاب، تعین یا تائید کی کوم اختیار یا صلاحیت نه لري او دوی صرف د پادشاه د اداري تابع دي.

**۲۱ ماده** ـ د وزیرانو مجلس:

**«د وزیرانو مجلس د دولت د مهمو داخلي او خارجي امورو مرجع ده. د وزیرانو د مجلس مذاکرات او هغه قراردادونه چې تصدیق ته ضرورت لري، د اعلیحضرت همایوني له امضا وروسته اجرا کیږي.»**

دا حکم یو نوی مطلب افاده کوي پخوا له دې په هیواد کې د وزیرانو د مجلس په نامه کوم مجلس نه و. یوازي د امیر شیرعلی خان په دوره کې د نولسمې پیړۍ په دوه نیمایی کې لومړی ځل یوه کابینه جوړه شوه چې د سید نورمحمد شاه تر صدارت لاندې د حربیې وزیر، د خارجی وزیر، د داخلی وزیر، د مالیې وزیر، د خزاینو وزیر او د پادشاه سرمنشی حضور پکی وو.

د امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان په دورو کې دا رویه ترك شوه، او بیا په اساسي نظامنامی کی په منکشف شکل دا مفکوره بیرته راواخیسته شوه او تر نن ورځې کله چې د وزیرانو د مجلس په نامه او کله د وزیرانو د شوری په نامه دا حقوقي نهاد یاد شو. د وزیرانو د مجلس په اختیاراتو او صلاحیتونو کې چې د پادشاه له امضا څخه وروسته د اجرا وړ کنل کیږي، تغییرات راغلل چې دی ته به په خپل ځای اشاره وشي

**۳۰ ماده** ـ د وزیر اجراآت:

**«وزیران په خپل وزارت پورې مربوط امور تر هغې اندازې چې د دوی د خپلو اختیاراتو په برخه کې دی اجرا کوي او له هغه پورته کوم څه چې اعلیحضرت ته راساً تقدیمېږي، د هغوی حضور ته وړاندې کیږي او هغه څه چې د وزیرانو د مجلس د لایحې له تفصیل سره سم د وزیرانو په مجلس پورې اړه ولري، د وزیرانو مجلس ته تقدیم او القاء کوي، د وزیرانو مجلس د وزیرانو د مجلس د خاصې نظامنامې له احکامو سره سم په تقدیم شوو موادو بحث او مذاکره کوي او خپله رایه څرګندوي او امضا کوي.»**

د نظامنامې دا حکم هم یو نوی مطلب دی چې د وزیرانو په ورسپارل شویو وظایفو او اختیاراتو کې یې یو ښه تنظیم راوستلی؛ څه وظایف یې شخصاً د دوی صلاحیت ته سپارلي او څه نور یې د یو خاص قانون په اساس د وزیرانو د مجلس له صلاحیت څخه ګڼلي دي او په ځینو مواردو کې یې هر یو وزیر مکلف کړي چې هغه مطالب د تصمیم لپاره د دولت او د حکومت رئیس ته تقدیم کړي. دا رویه په وروستیو نظامونو کې د یوې ښې رویې په حیث تعقیب او د مثبتو ریفورمونو په وسیله انکشاف ورکړ شو. په وروستیو قوانینو کې عمده تغییر د دولت او د حکومت د ریاست تفکیک و، چې د وزیرانو مجلس یا د وزیرانو شوری د حکومت د رئیس یا صدراعظم تر ریاست لاندې دایریدله او د دولت رئیس په دې مجلس یا شوری کی شرکت نه کاره.

**۳۱ ماده** ـ د وزیر مسئولیت:

**«هر یو وزیر د دولت په عمومي سیاست کې له نورو سره په ګډه او د خپل وزارت په امورو کی په خاص ډول د اشرف ملوکانه په حضور مسوول ګڼل کیږي.»**

دا حکم هم یو نوی حکم او له غربي حقوقو د ترکیې له طریقه اقتباس شوی دی. د دې مادې اختلاف له غربي حقوقو سره په دې برخه کې دی چې دلته وزیر یوازې پادشاه ته مسؤول گڼل شوی او په غربي مودل کې وزیر په انفرادي ډول او په مشترك ډول له کابینې سره پارلمان د ملت نماینده گانو ته مسؤول دي. زموږ ، په بعدي اساسي قوانینو کې دا ماده تعدیل شوی او د شکل په لحاظ وزیر او کابینه د ملت نماینده گانو ته مسوول گڼل شوی ده.

**۳۲ ماده** - له پادشاه څخه د تحریری امر اخیستل:

**«په هغو امورو کی چی د حضور شاهانه له خوا پر وزیر یا نورو مامورینو ته شفاهی امر ورکول کیږي د هغو تحریری احکام دې د همایوني په امضا واخیستل شي.»**

دا حکم هم له نورو احکامو څخه دی چې له دې پخوا یې سابقه نه لرله. د پادشاه امر به فوراً اجرا کیده، هیڅ یو وزیر یا مامور په دې مکلف نه و، چې د پادشاه د امر د اجرا لپاره دې د هغه تحریري امر واخلي. اغلباً به د پادشاه اوامر شفاهي وو او چا د هغه تحریري سند مطالبه نشوای کولی. دلته چې وزیر او مامور په دې مکلف کیږي چې د پادشاه په شفاهي امر حکم قناعت ونه کړي او د حکم د اجرا لپاره له هغه تحریري سند وغواړي، معنی به یې دا نه وي چې پادشاه د خپل امر د اجرا مسؤولیت په خپله غاړه اخلي. د اساسي قانون د متعددو احکامو په اساس چې پورته ذکر شوي دي، پادشاه غیرمسؤول او د امورو د اجرا مسؤولیت په صراحت سره وزیرانو او مامورینو ته راجع دی، نو دا حکم به اغلباً د دې لپاره وضع شوی وي چې د وزیرانو د ناوړو اجراآتو مخه په دې ډول ونیسي چې کار به کړی دی وزیر او ادعا به کوي چې ماته اعلیحضرت شفاهی امر کړی و او دا چې اعلیحضرت د دولت وسیع چارې پخپله غاړه

اخیستی هغه ته به هم مشکل وي چې د دی خیال وساتلی شي چې کوم امر ده کړی او کوم امر ده نه دی کړی، نو بهتره داسي لیدل شوی چې د کار اجرا کوونکی وزیر یا مامور به د خپل ځان د مسؤولیت رفع کولو لپاره باید د اعلیحضرت تحریري امر ولري. داسې یو حکم په بعدي اساسي قوانینو کې له نظره غورځول شوی دی.

**۳۳ ماده** – وزیر او محاکم:

**«د دولت کوم وزیر که د هغوی د ماموریت د وظیفه مخې له محاکمې لاندې راځي د هغوی محاکمه دیوان عالي ته راجع کیږي. د هغوی محاکمې اصول د خاصې نظامنامې سره سم حل او فصل کیږي. د وزیرانو نورې شخصیه دعوی چې د هغوی له ماموریت او وظیفې بهر دي د نورو رعایاوو په شان عدلیه محکمو ته مراجعه کوي»**

دا حکم دوه ساحې لري یوه د حقوقي مسایلو هغه ساحه چې د وزیر د رسمي وظیفې له حدودو خارج وي. هلته دی د یوه عادي فرد او تبعې په حیث عدلیې محاکمو ته مراجعه کوي او لیږل کیږي، لکه د یوې ټوټې ځمکې رانیول یا پلورل یا د یو دین مطالبه یا تادیه یا په جزایي حقوقو کې چې د ده له رسمي وظیفې خارج وي، خو په هغو مواردو کې چې یو اتهام وزیر ته له هغو جرایمو ناشي وي چې د ده په وظیفې پورې اړه ولري، لکه له خپل مقام څخه سوء استفاده، د عامه شتو حیف او میل، اختلاس او داسې نور په داسې مواردو کې وزیر یوې خاصې محکمې ته راجع کیږي چې هغه عالي دیوان نومیږي او په موقتي ډول او عندالاقتضا منځ ته راځي او د وظیفې له انجامولو وروسته بیرته ړنګیږي.

دا چې عالي دیوان به څو وارې جوړ شوي او څو کسه وزیران یا

مامورين به هلته محاکمه شوي وي، په دې ارتباط غبار ليکي: « د لسو کلو په موده کې چې د اعليحضرت امان الله خان د سلطنت وروستې موده وه، هيڅ يو وزير، والي او حاکم محاکمه او مجازات نه شو او بازخواست په کلي دول متروك شو. د لويو مامورينو انتخاب د پادشاه په شناخت او اعتماد پورې اړه لرله...»

کله چې د امانيه و دورې په آخرو کلو کې د اعليحضرت له شاوخوا لايق او د کفايت خاوند خلك لرې شول وزيرانو او د لوړو رتبو له مامورينو اولس ناراض شو او د ملت پر انتخاب شوی نماينده، غلام محی الدين آرتی په لوړ آواز نارې کړې: «اعليحضرته، تر څو چې د تاسو دا مشهور بالفساد وزيران محکمې او دار ته کش نشي هيڅ يوه اصلاح په مملکت کې نشي راتلای.»

**۳۴ ماده** - د وزير د وظيفې تعطيل:

**«په هغه وزير چې د عالي ديوان له خوا اتهام راځي، د محاکمې د نتيجې تر معلوميدو او د دوی تر برائت د وزارت له وظيفې معطل پاته کيږي.»**

دا حکم هم يو نوی حکم و او له غربي حقوقو يو په ځای اقتباس و او د متهم په نفع او هم د محاکمې د منصفانه او بې غرضانه جريان په گټه و. اما په عمل کې د نظامنامې د انفاذ په دوره کې هيڅ يو وزير يا د لوړې رتبې مامور عالي ديوان ته راجع نشو او حتی په دې اوسنی دوره کې عالي ديوان کله داير نه شو خو بيا هم د دې حکم محتوی د مامورينو په قانون کی چی وروسته له دې نافذ شول د استفادې وړ وگرځيده.

**۳۵ ماده** - د اساسی تشکيلاتو نظامنامه:

**«د وزارتونو اندازه او د هغوی د دوایرو تشکیلات او وظیفی یی د اساسي تشکیلاتو په نظامنامی کی توضیح شوی دي »**

دا نظامنامه چې د هیواد په عمومي تشکیلاتو کی یی کلی تغییر راووړ، یو په ځای ریفورم او د غربي اروپا له حقوقو یو نیك اقتباس و، چې د ۱۳۰۲ د جوزا په اوله په دوو بابو ( اداري هیئت او عدلیه او نظامیه قوه ) او په ۲۴۳ مادو کې نافذه او د جوزا په ۱۵ په هماغه کال د وزیرانو د عالي مجلس د تحریراتو د اداری په مطبعه کې دا نظامنامه خپره شوه. د دې نظامنامی عناوین دا وو:

لومړی باب اداري هیئت:

لومړی فصل: مرکزي اداري هیئت ( له ۱ مادی تر ۸۰ مادې ) د حربیی وزارت، د خارجی وزارت، د داخلی وزات، عدلیي وزارت، د مالیې وزارت، د معارف وزارت، د تجارت وزارت، د دولت شوری، د طبیه مستقل مدیریت.

دوهم فصل: د ولایاتو اداره: ( له ۸۱ مادی تر۱٦۲ مادي) نایب الحکومه گی، د ولایاتو د شوری مجالس، لویی حکومتی، حکومتی، علاقه داری، کلي او کوچی قبایل، د سنجش دیوان، عسکری حکومت.

دریم فصل: د ملکي مامورینو محکمه او علی العموم عسکري محاکم ( له ۱٦۳ مادی تر ۱۸۸ مادی )

# څلورم فصل
# مامورين

د مامورينو تر عنوان لاندې دا درې مادې له ۳۶ مادې تر ۳۸ مادې پورې تسجيل شوي دي.

٣٦ ماده: د مامور حقوق

٣٧ ماده: د مامور وظايف.

٣٨ ماده: د مامور اطاعت.

وروسته له دې چې د دې عنوان له مطالبو سره په کلي ډول آشنا شو، دا دى دلته به د دې عنوان هره يوه ماده په ځانګړي توګه مطالعه کړو.

٣٦ ماده - (د مامور حقوق ):

**«بالعموم مامورين د مخصوصى توضيح شوي نظامنامې سره سم، چې لايق او مناسب وي، تعينيږى او هيڅ يو مامور، څو له وظيفي مستعفى شوى نه وي او يا د سوړفتار له امله په جزا محکوم شوى نه وي او يا هم د دولت يو ضروري امر پرته تبديل او موقوف کيږي نه، او هغه مامورين چې حسن سلوك او د خپل خدمت استقامت وښيى د رتبې او ماموريت او مستمرۍ استحقاق لري.»**

په دې ماده کې په ماموريت پورې مربوط مسايل دريو پرنسيپونو ته حواله کيږي چې هغه: د اهليت اصل، په ماموريت کې د دوام اصل او د ترفيع او د مستمري اصل دي. هغه د اهليت خاوند مامور د ترفيع او مستمرى مستحق ګڼل کيږي چې ښه سلوك او په خدمت کې

استقامت لري. دا د قانونیت او کودیفیکاسیون له نظره د هیواد په اداره کې یو بې نظیره ریفورم او د اداری د لویو اصلاحاتو له جملې یو ښه نظري پروګرام دی چې په هغه کی ډیره توجه د اداري عمده عامل ته چې هغه انسان دی، د اهلیت خاوند انسان، د لیاقت څښتن مامور او د هغه د حقوقو د تضمین لپاره شوی دی. دا د ریفورم او اصلاحات د قانون له مخی، تر لاس لاندې مامور د لوی آمر د نوکر - باداری له مناسباتو، چې د هغه تقرر او ترفیع او عزل د لوی آمر په مزاجي حالاتو پوری تړلی و، آزاد وي او هغه د داسې یوه قانون تابع ګرځوي، چې په ابجکتیف یعنی آفاقي ډول د قانون جوړوونکی له خوا د یوې سالمي اداری په چوکاټ کې، د فعالو او لایقو مامورینو لپاره، چې د اداری له میکانیزم سره متناسب حقوق او وظایف ولري، ترتیب او وضع شوي وي. په دې ډول ټولو بې عدالتیو، وران کاریو، منطقه پرستیو او قوم پرستیو د خویش خوریو او هوسرانیو مخه نیوله کیږي. د اسلام د صدر د خلفای راشدین په دوره کی او هم د اسلام د محدودو حکمرانانو په زمانه کې دا ډول ګټور اداري احکام د مامور او د اولس د مناسباتو د تنظیم لپاره موجود وو. *(په دې برخه کی دی د لیکونکی مضمون د حقوق او زنده ګی په مجلی کی: شماره، جوزا او سنبله ۱۳۶۹ ولیدله شي )*

وروسته د صدر له دورې د مامور سرنوشت د مقرر کوونکی د ارادی او مزاج تابع شو. د امیر عبدالرحمن خان د دارالانشاء د دفتر د ۵۲ کسو مامورینو نوکر منشانه عریضه د دوی د کار د ساعاتو د تخفیف په منظور چې هلته یی ځان غلام د نعمت، کمترین غلام، کمینه غلام، غلام نمك پرورده نه دی ښودلی او امضای کړی دی، او هغوی ته له انساني کرامت څخه لری جواب ورکړل شوی و. د دې ادعا ښه شاهد ده *(ودې لیدل شي افغانستان در مسیر تاریخ ٥٤٤ مخ )*

د ماموریت د مسایلو تنظیم د ډیرو ګټورو موضوعاتو له جملی و، چې وروسته له دې تاریخه په همدې چوکاټ کې دا ګټور سنت، چی د دولت له ښو اقتباسونو Rezeption د اروپا له حقوقو څخه و ادامه پیدا کړه او انکشاف یی وکړ، مخصوص نظامات چی په دی ماده کی اشاره ورته شوی، او د مامور او اداری مناسبات د قانون په چوکاټ کی تنظیموي، او په مرور د زمان په هغو کې څه تغییرات راغلي په لاندې ډول دي:

١. د مامورینو د رخصتی نظامنامه په ١١ مادو کی، چې د ١٣٠٢ هـ ش کال د حمل په ١٢ تاریخ کې د وزیرانو د عالی مجلس د تحریراتو د اداري په مطبعه کې طبع شوې ده.
٢. د زراعت د مامورینو نظامنامه چې د تجارت په وزارت پورې اړه لرله او د ١٣٠٢ هـ ش کال د جوزا په ١٣ مه نافذ او همزمان د حربي فنونو په مطبعه کی طبع شوې ده.
٣. د وزارتونو د مامورینو د مدیریتونو نظامنامه په ٣٠ مادو کی چې د وزیرانو د عالی مجلس د تحریراتو د اداری په مطبعه کې د ١٣٠٢ کال د چنګاښ په ٢٥ مه طبع شوی ده.
٤. د ملکي مامورینو د استعفا نظامنامه په ٨ مادو کې، چې د ١٣٠٢ هـ ش کال د دلو په ١٥ مه د وزیرانو د عالی مجلس د تحریراتو د اداري په مطبعه کې طبع شوی ده.
٥. د مامورینو د جزائیه محاکماتو د اصولو نظامنامه په ٣٣ مادو کې د ١٣٠٢ هـ ش کال د حوت په ٢٠ مه نافذ او د وزیرانو د عالی مجلس د تحریراتو د اداری په مطبعه کې طبع شوی ده.
٦. د حکامو او د متعلقه مامورینو د وظایفو د تفریق تعلیماتنامه په ٥ مادو کی، چی د ١٣٠٥ کال د دلو په اول د شرکت

رفيق په مطبعه کې طبع شوی ده.

**۳۷ ماده** - د مامور وظايف:

**«د مامورينو وظايف په مخصوصه نظامنامه کې تعيين او تفريق شوي، هر يو مامور د مخصوصو نظامنامو سره سم مسؤول ګڼل کيږي».**

له هغه ځايه چې حقوق يې له وظايفو او صلاحيت يې له مسؤوليت څخه نامفهوم دی مخصوصی مربوط نظامنامې چې په ٣٦ مادو کې ذکر شوی دی، د مامورينو مسايل او د مامورينو مناسبات له ادارې سره تنظيموي.

**۳۸ ماده** - د مامور اطاعت:

**«ټول مامورين له رتبی سره سم د دولت د نظاماتو مطابق د خپل مافوق آمر د امر په اطاعت مکلف او مؤظف دي او که چيرې د مافوق آمر له خوا د دولت د نظاماتو خلاف د کوم کار په اجرا اصرار ورته کيږي ماتحت مامورين دی د وزارت مرکز ته اطلاع ورکړي او که چيری مرکز ته اطلاع ورنه کړي او د قانون خلاف کار اجرا کړي، هغه هم مسؤول ګڼل کيږي».**

دا حکم تر لاس لاندې مامور د مافوق مامور د آمر په اطاعت مکلف کوي، مګر دا يو مطلق اطاعت او د مافوق آمر ارادی ته تسليمی نه ده، بلکه د دولت له نظاماتو سره مطابق يو اطاعت دی. د دې لپاره چې بيوزلی تر لاس لاندې مامور له مافوق آمر سره مقابل نشي او ستونزی ځان ته پيدا نه کړي مجبور دی چې د آمر، خلاف قانون امر هم اجرا کړي مګر مکلف دی چی همزمان د وزارت مرکز هم په دی موضوع خبر کړي، چې دا خبر ورکول د دې ثبوت کيږي چی

دی له دی خلاف قانون امر سره موافق نه و او د ده اراده په دې کار کی دخیله نه وه، نو موضوع يې د صلاحيت خاوند مرکز ته خبر ورکړی چې له دی خلاف قانون کار څخه یی بی خبره پاته نشي او مقتضی تجويز ونيسي. په بعدي قوانينو کې د اطاعت اصل په خپل ځای پاته شو مگر د وزارت مرکز ته د خبر ورکولو په برخه کی تغییر راغی. دا تغییر داسې دی چې تر لاس لاندې مامور مکلف دی چې آمر په دې پوه کړي چې د هغه امر له قانون سره خلاف دي او که آمر بیا هم په خپل امر ټينگار کاوه نو تر لاس لاندې مامور له خپلو اجراآتو چې د آمر په تحريري ټينگار تعميل شوی، مسؤول نه گڼل کيږي او مسؤوليت يې آمر ته راجع دی.

## پنځم فصل
## د مشورې مجلس او د دولت شورى

تر پورتني عنوان لاندې له ۳۹ مادې نه تر ٤۹ مادې پورې په اساسی نظامنامی کی ۱۱ کلي مطلبه، په لاندی ډول تسجیل شوي دي:

۳۰ماده: د دولت شورى او د مشاورى مجالس.

٤۰ماده: د دولت شورى او د مشاورى د مجلس اعضا.

٤۱ ماده: د دولت د شورى او د مشاورى د مجلس طبیعه او منتخبه اعضا.

٤۲ ماده: د دولت د شورى او د مشاورى د مجلس اضافي وظایف.

٤۳ ماده: د مشاورې د مجلس فقرو ته رسیده ګي.

٤٤ ماده: د دولت د شورى په ارتباط د مشاورې د مجلس صلاحیت.

٤٥ ماده: د دولت د شورى صلاحیت.

٤٦ ماده: د دولت د شورى اشتراك په تقنین ( کودیفیکاسیون ) کی.

٤۷ ماده: د دولت د شورى غیرطبیعی اعضا.

٤۸ ماده: د دولت د شورى صلاحیت د دولت د عمومي بودجې په تدقیق کې.

٤٩ ماده: د دولت د شورى صلاحيت د خارجي معاهداتو په تدقيق کی.

ځرنګه چی د دی عناوينو د مطالبو له کلياتو څخه ځرګنديږي دا نوي مطالب دي، چی د اروپا له حقوقي نظامنامو نه په غيرمستقيم ډول د هيواد د شرايطو په مطابقت را اخيستل شوي او د شکل له نظره غواړي، له شاهي قدرت څخه بهر حکومت د يو غيرمطلقه حکومت په خوا بوزي و ښه به وي چې دا مطالب دلته د هرى يوى مادې په توضيح کی مطالعه کړو.

**۳۹ ماده** ـ د دولت شورى او د مشاورى مجالس:

**«د دارالسلطنه په مرکز کې د دولت د شورى يو هيئت، او په نائب الحکومګيو او اعلى حکومتونو کی اوله درجه، دويمه درجه او دريمه درجه حکومتيو او په علاقه داريو کې يو يو د مشاورى مجلس موجود دی».**

د دی حکم په اساس د دولت شورى د هيواد په مرکز او د مشاورى مجالس په ټولو اداري واحدونو کې چې له مرکز څخه بهر دي، پيشبينی شوي دي. د دې اساسي نظامنامی او د تشکيلاتو د نظامنامې په اساس د دولت شورى ته دوه وظيفی سپارل شوي دي: د قوانينو تسويد او د ملکي مامورينو محاکمه. د دې وظايفو د انجام لپاره د دولت شورى دوه ډوله اعضا لري او هغه طبيعه او منتخبه اعضا دي.

طبيعي اعضا هم په دوو ډلو ويشل کيږي: دايمي او موقتي.

دايمي غړي د اعليحضرت د لزوم ديد په اساس تعينيږی او موقتي غړي يی له عاليرتبه مامورينو په ملکي کې د حاکم اعلی تر درجې

او په نظامي کې د لوا مشر (دګروال) تر درجې، چې د جرم د اتهام په اثر له وظیفې برطرف شوی نه وي ټاکل کیږي.

د شورى منتخبه غړي د هر يو ولايت او د هر يو اعلى حکومتی د اولس له خوا انتخابیږی.

د طبیعه او منتخبه اعضاوو تناسب له يو بل سره مساوي وي. د شورى رئیس او درى معاونان د شورى د غړو له خوا انتخاب او د اعلیحضرت له خوا منظوریږي. د شورى منشي د رئیس له خوا انتخاب او د اعلیحضرت له خوا منظور او د شورى سرکاتب او کاتبان د شورى د معاونانو له خوا انتخاب او د شورى د رئیس له خوا مقرریږي.

دریم معاون د شورى له دوو نورو غړو سره د مامورینو ابتدایی محکمه او دویم معاون د شورى د نورو څلورو غړو سره د مامورینو د مرافعي محکمه، د شورى رئیس او لومړی معاون د شورى له نورو پنځو غړو سره د دولت د مامورینو د محکمي د تمیز هیئت تشکیل کوي. د کودیفیکاسیون یعنی د قانون جوړولو او د قوانینو د تفسیر چارى د دولت د شورى د ټولو اعضاوو له خوا داسې ترسره کیږي چې د قانون مسوده د وزارت خانی یا مستقلی ادارى له خوا د دولت شورى ته راجع کیږي او شورى له تدقیق او لازم تعدیلاتو وروسته هغه د وزیرانو مجلس ته تقدیموي. کله چې مسوده د وزیرانو د مجلس له خوا تصویب او د اعلیحضرت منظورى ته ورسیږى نظامنامه نافذه او متعلقه وزارت ته سپارله کیږي او د تطبیق مورد ګرځي.

د دولت د شورى رئیس د وزیرانو هیئت کې شامل دی.

**٤٠ ماده** ـ د دولت د شورى رئیس د مشاورې د مجلس اعضا:

**«د دولت د شورى او مشورې د مجلس اعضا له طبيعه او له منتخبه اعضاوو څخه جوړوي»**

د مشورې مجالس هم له طبيعه او منتخبه اعضاوو څخه په ولاياتو اعلی حکومتيو، لويو حکومتيو او محلي حکومتيو کې جوړ دی. د ولايت او د اعلی حکومت د مشورې مجلس د نائب الحکومه او د اعلی حاکم تر رياست لاندې له طبيعه اعضاوو چې غړي يی (مستوفي، د مکتوب ليکلو سرکاتب، د معارف مدير، د گمرك مدير، د زراعت مدير او د خارجی مامور ) او له منتخبه اعضاوو، چې غړي يی (د ولايت او د اعلی حکومت) ماليه ورکوونکی اهالي دي، جوړ دي.

د ولايت، د اعلی حکومت، لوی حکومت، د محلي حکومت او د علاقه داريو منتخبه غړي د انتخاباتو له اصولو سره سم، د دريو کلو لپاره د ماليه ورکوونکو اهاليو له خوا انتخابيږی.

د لوی حکومت د مشوری مجلس له طبيعه غړو (مديرانو، د مکتوب کاتب، د خارجی مامور او د گمرك مامور) او د منتخبه غړو ( يو يو وکيل د تابع حکومتيو له اهاليو او يو غړی چې د لويې حکومتي د مرکز له اهاليو انتخاب شوی وي ) د لوی حاکم له رياست لاندې دايريږي. د لويې حکومتی د مشوري د مجلس وظايف او صلاحيتونه عينا د ولايت د مشوری د مجلس په شان دي. په محاکماتي امورو کې د لويې حکومتی د مامورينو د جنحی او جنايت د فيصلو صلاحيت لري. د محلي حکومت او د علاقه داری د مشوری مجلس د حاکم او علاقه داريو تر رياست لاندی منعقديږي او د لويې حکومتي د مشوری د مجلس په شان يا پورته له هغه د مشوری د مجالسو په شان له طبيعه او منتخبه اعضاوو جوړ وي. د دې مشوری مجالسو طبيعه اعضا د ماليې او د نفوسو ماموران او منتخبه اعضايې ۱۲

نماینده گان دي، چې د انتخاباتو د اصولو په اساس هری تابع علاقه داریو یو نماینده او یو نماینده د حکومتي او د علاقه داری د مرکز له اهالیو انتخابیږی. د محلي حکومت د مشورې د مجلس صلاحیت د خپلی حکومتی او علاقه دارئ په امورو محدود وي. د مامورینو په مسایلو کې صرف د تباهی په ساحه کې تصمیم نیولی شي چې هغه هم د مافوق مقام منظوري غواړي.

**۴۱ ماده** ـ د دولت ار د مشاورې د مجلس وظیفه او منتخبه اعضا:

**«د مشاوری د مجلس طبیعه اعضا له هغو مامورینو تشکیل کیږي چې د اساسیه تشکیلاتو په نظامنامی کی ذکر شوی دي. د دولت د شوری طبیعه اعضا د منتخبه اعضاوو سره برابر د قرین الشرف همایوني اعلیحضرت له خوا ټاکل کیږي. منتخب اعضا ټول د اولس له خوا تعیین او مقرریږي. د هغوی د انتخاب د څرنګوالي په برخه کې د اساسیه تشکیلاتو په نظامنامه کې ځانګړی مواد موجود دي.»**

د ولایاتو د مشوری د مجالسو د طبیعه غړو شمیر بیا د علاقه داریو د مشوری د مجالسو د طبیعه اعضاوو تر شمیره چې له ٤ غړو زیات او له یو غړي لږ نه دي، د اساسیه تشکیلاتو د نظامنامې په مختلفو مادو کی له (۱۱۱ مادی ۱۱۸ مادې، له ۱۲٤ مادی نه تر ۱۳۵ مادې او له ۱۳۷ مادې تر ۱٤۹ مادې) کې راغلي او توضیح شوي دي.

د مشورتي مجالسو منتخبه غړي د اساسیه تشکیلاتو د نظامنامې. ۲۳۶ مادې نه تر ۲٤۱ مادې په اساس د مالیه ورکوونکو اهالیو له خوا انتخابیږی. د مالیه ورکوونکي عبارت د هغو خلکو لپاره یو خاص قید دی چې دوی په کلي یا ښار کې د یوه منقول یا غیرمنقول ملکیت خاوندان وي. دوی حق لري چې د نماینده په انتخاب کې ګډون وکړي. هغه څوك چې نه د مځکي او نه د کور مالیه ورکوي او نه د

مواشی کومه مالیه دهی لري او نه د معاش او تجارت مالیه دهی هغوی د نماینده په ټاکلو کې د ګډون حق نه لري.

قانون جوړوونکی غوښتی په دې برخه کې دا مطلب څرګند کړی چې د اولس له رفاه او آسایش سره هغه خلك علاقمند دي چې دوی په محل کې یو د مالیې وړ ملکیت، یو شته، یوه دارایی یا یوه د مالیه وړ پیشه او وظیفه لري. او هغه خوار او ناداره خلك چې دوی ته د مالیې ورکول نه راجع کیږي، هغوی د اولس له رفاه سره کومه علاقه هم نه لري او د هغوی ګډون ته په انتخاباتو کې ضرورت هم نه لیدل کیږي او ګډون هم باید ونه کړي.

د دولت د شوری د طبیعه او د منتخبه غړو وظایف او صلاحیتونه، څرنګه چې اشاره ورته وشوه، د اساسیه تشکیلاتو له نظامنامې په ٦٣ مادې نه ٧٥ مادی پوری توضیح شوی دي.

**٤٢ ماده** ـ د دولت د شوری او د مشاورې د مجالسو اضافي وظایف:

**«د مشاوری مجالس او د دولت شوری سربیره پر هغو وظایفو چې د اساسیه تشکیلاتو په نظامنامې کې ذکر شوي دي د لاندنیو وظایفو په اجرا هم مؤظف دي:**

**الف: د صنعت، تجارت، زراعت، معارف په برخه کې کوم تکالیف چې لازم بولي باید دولت ته یې په عرض ورسوي.**

**ب: د مالیاتو او محصولاتو او د حکومت د نورو معاملاتو په برخه کې که د نظامنامو له اصولو سره مخالف کوم چې ویني د هغوی د اصلاح په منظور هغه مطالب باید حکومت ته عرض کړي.**

**ج: د هغو حقوقو، څه د دې نظامنامې په اساس خلکو ته ورکړل شوي دي، اخلال او اضاعه ویني، صلاحیت لري چې حکومت ته**

**استغاثه وکړي.»**

دا ماده یوه ډېره ضعیفه ماده ده چې د مطبوعاتو آزادی تضمینیږي هلته دا د الف، ب او ج د اجزاوو صلاحیت د هیواد هر یو فرد ته شته او ضرور نه ده چې دا د داسې لویو حقوقي مؤسساتو له انحصاري صلاحیتونو وګڼل شي

**٤٣ ماده** - د مشاورې د مجالسو فقراتو ته رسیده ګي:

**«کوم فقرات چې د ولایاتو او محلاتو د مشاورى مجالس د نایب الحکومه ګانو او حاکمانو حضور ته عرض او تقدیموي هغه چې اجرایې د نایب الحکومه ګانو او حکامو په صلاحیت کی وي، هغوی یی اجرا کوي او مافوق له هغه یی د شعبی منصوبه وزارت ته راجع کوي. منصوبه وزارت هم چې څه اجرا کولی شي اجرا کوي یې او غیر له هغه ۳۰ مه ماده تعمیلوي، او که چیری مسأله قانونیه مواد وي هغه د دې نظامنامې د ٤٦ مې مادې په اساس اجرا کیږي.»**

په دې ماده کې دا مطلب توضیح کیږي چې د مشورې د مجالسو عرایض او فقرات څرنګه نایب الحکومه ګانو او حکامو ته وړاندی کیږي او بیا نو وروسته له هغه اساساً د نایب الحکومه ګانو او حکامو کار دی چې له خپلو صلاحیتونو او وظایفو سره سم څرنګه اجراآت کوي.

**٤٤ ماده** - د مشورې د مجلس د مراجعی صلاحیت د دولت شوری ته:

**« هغه فقرات چې د مشاورې د مجلس له خوا نایب الحکومه یا محلي حکامو ته په عرض رسول کیږي او د هغوی له خوا تر یوې میاشتی نتیجه او ځواب نه څرګندیږي، د مشاوره مجلس صلاحیت**

**لري چې د دولت شورى ته عرض وکړي.»**

په دې ماده کې د مشاوره مجلس ته د موضوع د تعقیب یو حق ورکړل شوی چې وروسته له یوې میاشتې د دولت شورى ته مراجعه کوي او د خپلو هغو عرایضو او فقراتو یادونه کوي چې دوی نایب الحکومه یا محلي حاکم ته یوه میاشت پخوا تسلیم کړي او نتیجه یې نه ده معلومه شوی. دا چې د دولت شورى په دې برخه کې څه کولی شي هغه به په لاندې مطلب کې ذکر شي.

٤٥ **ماده** - د دولت د شورى صلاحیت:

**«کوم فقرات چې د مشاورى مجلس یې د شکایت په توګه د دولت شورى ته لیکي، د دولت شورى خپل نظر په هغه برخه کې مربوط وزارت ته وړاندې کوي، که د مربوط وزارت له خوا د هغي مسألی په اجرا کی معطلی پیښه شي، د دولت شورى هغه فقره همایونی حضور ته تقدیمولی شي.»**

له دې بیان څخه په وضاحت ښکاري چې د دولت شورى کوم اجرائیه یې صلاحیت نه لري. یوازې دومره کولی شي چې د مشورتی مجلس شکایت له خپل نظر سره غبرګ مربوط وزارت ته راجع کړي او منتظر پاته شي چې نوموړى وزارت په دې برخه کې څه کوي. که د نوموړي وزارت له خوا په اجراآتو کی معطلی راغله او نتیجه یی ښکاره نه شوه نو د دولت شورى کولی شي چې موضوع د اعلیحضرت حضور ته عرض کړي. دا صلاحیت په حقیقت کې د شکایت د وړاندې کولو صلاحیت دی، هغه مراجع چې د یوې وظیفې په اجرا مامور دی، لکه نایب الحکومه یا مربوط وزیر او هغوی هغه وظیفه نه اجرا کوي او د مشاورې د مجلس په سویه یوه غونده له هغه شکایت لري او د دولت شورى هم د دې شکایت رغ تر

اعليحضرت پورې رسوي او بيا نو معلومه نه ده چې څه کيږي؟

دا خو د قانون پرمخ ليکل شوی مطالب وو او په عمل کې مګر دا هم ښکاره نه ده چې څومره داسي شکايتونه به تر اعليحضرت پوری رسيدلی شوو. د مشاوری مجالسو به څو وارې دا اجراآت کړي وي چې د نايب الحکومه له لاسه شکايات د دولت شوری ته ورسوي او د دولت شوری به څو ځله دا اجراآت کړی وي چې د وزير له لاسه اعليحضرت ته شکايت وړاندې کړي؟

مګر څرنګه چې غبار *( په افغانستان در مسير تاريخ )* کې وايی، دا معلومه ده چې د اعليحضرت د سلطنت په وروستيو کلونو کې د خلکو حتی د منورينو او خپله د اعليحضرت د دوستانو او د هغو خلکو له خوا د وزيرانو پر ضد د شکايت بږغ پورته شو چې اعليحضرت او وطن او اولس پر هغوی ګران و، مګر د اعليحضرت د سلطنت په اوږدو کې هيڅ يو وزير مسؤول ونه بلل شو. *(نوموړی اثر ٣ ١ ٨ مخ)*.

**٤٦ ماده** ـ په تقنين کی د دولت د شوری ګډون:

**«د دولت نظامات د دولت د شوری له خوا تدقيق او د وزيرانو مجلس ته تقديمږي او د وزيرانو د مجلس له تصويب او د شاهانه حضور له منظوری وروسته اجراآتو ته سپارل کيږي.»**

دا ماده د نورو احکامو له جملې څخه ده چې وروسته له دې دا حکم د يو نيك سنت په حيث تعقيب شو. د قوانينو وضع او جوړيدل په هيواد کې، يوه معين مقام ته چې هلته د ملت نماينده ګان هم پکې شامل وو وسپارل شو. د يادونې وړ ده چې دې مقام وروسته تغيير وموند او د وروستيو انکشافاتو په اساس د قوانينو د جوړولو وظيفه پارلمان يعنی ملی شوری او د اعيانو مجلس ته وسپارل شوه.

په استثنايي حالاتو کې چې د قوانينو، تقنيني فرامينو او نورو تقنيني اسنادو د مسودې کار، چې د اجرائيه قوې له خوا تر سره کيده، دا وظيفه د عدليې وزارت او په خاص ډول د قانون جوړولو او د علمي حقوقي تحقيقاتو انستيتوت ته سپارل شوې وه، چې له دې لارې تقنيني اسناد د وزيرانو مجلس يا د وزيرانو شورى ته وړاندې کيدل. په دې اساس د هغې زمانې د دولت د شورى کار د تقنين په برخه کې د نوموړي انستيتوت کار ته نږدې شباهت درلود نظر دى ته چې د پارلمان کار ته ورته وي.

**٤٧ ماده** ـ د دولت د شورى غيردايمي طبيعي غړي:

**« د دولت د شورى د دايمي طبيعه غړو برسيره ملکي مامورين له نايب الحکومه ګانو ونيولې تر اعلى حکامو او د عسکرى د منصب خاوندان تر لوامشره، چې له ماموريت څخه وزګار شوى له هغو کسانو پرته چې تر محاکمې لاندى وي، د نوي ماموريت تر تعينيدلو د دولت د شورى په طبيعه غړو کې په مؤقتي ډول داخليداى شي.»**

په هغه زمان کې په ملکي برخه کې د وزګارشوو نايب الحکومه ګانو او اعلى حکامو او په نظامي برخه کې د فرقه مشرانو او لوامشرانو شمير چې په موقتي ډول له کار څخه وزګار شوي او کوم لوى کار ته دې په نظر کې وي، ډير لږ و. نو قانون جوړوونکي غوښتي چې د دوى له تجاربو هم ګټه واخيستله شي او دا لار يې خلاصه پريښي ده چې دوى دى د دولت د شورى موقتي طبيعه غړى وګڼل شي.

دا چې هغه زمانه کې به کوم ملکي او کوم نظامي د منصب خاوندان د دولت د شورى موقتي طبيعه غړى شوى وي نه ده څيړل شوى. وروسته د نظامنامې له دورې له يوې خوا د ملکي مامورينو کميت ډير شو او له بلې خوا په عسکري قوانينو کې داسې تعديلات راغلل

چې د عسکرې منصب خاوند به د موقتې وزګارې په دوره کې احتیاط ته سوق کیده. علاوه له دې وروستې دورې کې خپله د دولت شورې هم له منځه ولاړه او په ځای یې ملي شورې او د اعیانو مجلس جوړ شو.

د سردار محمد داؤد خان د جمهوریت په دوره کې (۱۳۵۲ ـ ۱۳۵۷) د دولت د شورې له دې مفکورې، چې د وزګار شویو نایب الحکومه ګانو او اعلی حکامو له تجاربو څخه یې استفاده کوله، یو وار.. بیا استفاده وشوه، د داخله وزارت ټول پخواني والیان د پلان په ریاست کې هره ورځ په منظم ډول راغونډیدل او د ملکي اداري چارو په برخه کې یې مجالس کول. دا کار موقتې و، کوم قانونې بنیاد یې پیدا نه کړ.

**۴۸ ماده** ـ د عمومي بودجې تدقیق:

**«کلنۍ بودجه چې د مالیې په وزارت کې تنظیم او ترتیب کیږي، د عمومي بودجې له نظامنامې سره سم د دولت په شورې کې تدقیق کیږي.»**

دا ماده هم د دولت د مهمو اصلاحاتو له جملې د غربې جهان له اساسي قوانینو یو ګټور ریفورم او په ځای اخیستنه او اقتباس دی، چې د ملت استازو ته د دولت په مصارفو کې د اشتراك حق ورکوي. په بعدي انکشافاتو کې دا صلاحیت د قانون له مخې د غربې دولتونو له قوانینو سره سم د هیواد پارلمان ته ورکړل شو.

**۴۹ ماده** ـ د خارجي معاهداتو تدقیق:

**« کوم مقاولات او تعهدات چې له اجنبیانو سره منځ ته راځي د دولت په شورې کې پر هغو مذاکرې او تدقیق کیږي.»**

دا ماده هم يو نوی مطلب په حقوقو کې يوه ښه اصلاح او ريفورم دي چې د غربی جهان له حقوق را اخيستل شوی دی. دا ماده د ملت استازو ته دا حق ورکوي چې په ټولو مقاولاتو او معاهداتو کې چې له خارجي هيوادونو او بين المللی مؤسساتو سره کيږي، مذاکره وکړي او هغه ښه تدقيق کړي چې د ملت او هيواد په ضرر او تاوان نه وي.

کله چې د دولت شوری خپل ځای د هيواد پارلمان ته پريښود دا حق هم پارلمان ته منتقل شو.

خپله پارلمان البته له يوه خارجي هيواد يا بين المللی شخصيت سره مقاولی يا معاهدي ته نه کښيني، بلکه، معاهدات او مقاولات په لومړی مرحله کې د حکومت د داسې يوه نماينده له خوا منځ ته راځي، چې هغه ته صلاحيت ورکړی شوی وي او له قانون سره سم د حکومت له خوا داسې يوه اعتبارنامه په لاس کې ولري. د صلاحيت او اعتبارنامې خاوندان کولی شي چې يوه معاهده يا مقاوله عقد کړي مگر دا تر هغه زمانه اعتبار نه لري چې د هيواد پارلمان يعنې د ملت د ارادې ممثل ارگان يې تصويب او د هيواد قانون او د دولت رئيس يې توشيح نه کړي؛ دا د غربي جهان د حقوقو له مهمو اصولو څخه د معاهداتو په برخه کې يو اصل دی، چې په دې مورد کې د غربي جهان د حقوقي سيستمونو بيلوالی، د کامن لا سيستم يا د روم، جرمن سيستم سره کوم توپير نه لري.

دا اصل لومړی ځل په غرب کې منځ ته راغی انکشاف يې وکړ او بيا وروسته له هغه په ۱۹ پيړۍ کې د مخ په ودې هيوادونو په قوانينو کې په شکلي ډول راو اخيستل شو.

# شپږم فصل
# محاکم

تر پورتني عنوان لاندې د هیواد په لومړني اساسي قانون کې شپږ کلي مطلبه په لاندې ډول ثبت شوي دي:

٥٠ ماده: د محاکماتو علنیت.

٥١ ماده: له مشروعه وسایلو د استفادی جواز.

٥٢ ماده: د محاکمو مکلفیت.

٥٣ ماده: له مداخلاتو د محاکمو آزادي.

٥٤ ماده: د محاکمو صنوف، درجات او صلاحیتونه.

٥٥ ماده: د فوق العاده محاکمو عدم جواز.

د پورته ذکر شوو پرنسیپونو له جملی، د محاکماتو علني توب. له مشروعه وسایلو د استفادې جواز، د محاکمو مکلفیت او له مداخلاتو د محاکمو آزادي هغه مسایل دي چې د اسلام په صدر کې په خاصه توگه او وروسته له هغې هم د عادي اسلامي پیشوایانو په دوره کې د هغو رعایت کیده.

د محاکمو صنوف، درجات او صلاحیتونه یې هغه مسایل دي چې د اسلام په اوایلو کی دی تفکیك ته ضرورت نه لیدل کیده او وروسته نظر ضررت ته دا تفکیک معمول شو. د فوق العاده محاکمو عدم جواز له عدالت او مساوات سره سم یو اصل دی، چی پر بشري حقونو بنا تولنې دا فوق العاده محاکم نه مني او زموږ د هیواد لومړی اساسي قانون هم دا اصل تسجیل کړی دی.

د قضا وظیفه د مهذبو او د لوړ کلتور خاوندو ټولنو له مهمو لرغونیو وظایفو څخه ده، چې د اسلام په حقوقو او هم زموږ په هیواد کې حتی پخوا له اسلامه هغې ته په درنه سترګه کتل شوي او دا وظیفه هغو اشخاصو ته سپارل شوې ده چې په پوهې، علم، تقوی او نورو عالي انساني اوصافو کې د خپل عصر له ممتازو اشخاصو ګڼل کېدل.

د کابل شاهانو په قلمرو کې، د چیني زوار په حواله، عادلانه جزایي قوانین او محاکم موجود وو.

څرنګه چې وویل شول په ټولو هغو دورو کې چې حق او عدالت ته اهمیت ورکول کېده د محکمې مقام او شخصیت به هم لوړ او ممتاز و. د استبداد په دورو کې، حق او عدالت له خپل لوړ مقام څخه لویدلی؛ قضا او محاکم هم د مستبد حکمران د لاس آلې شوی دي. د حکمران غوښتنې او ارادې د حق او عدالت او د قاضي او د محاکمو ځای اشغال کړی دی.

په دې اساس په قضا او محاکمو پورې اړوند مطالب، چې د اسلام د شریعت او هم د غربي منکشفو هیوادونو له حقونو سره مطابق وو، یو په ځای ریفورم و چې په بعدي اساسي قوانینو کې اساساً هغه مطالب اقتباس شول. په لاندې مطالبو کې به د دې فصل هر یوه ماده په ځانګړي توګه توضیح شي.

**۱۰۵ماده** ـ د محاکمو علنیت:

**« په عدلیه محاکمو کې هر راز محاکمات په علني توګه اجرا کیږي ځیني فقرات چې په خاصي نظامنامې کې ښودل شوي، قاضي کولی شي د هغو محاکمه په خفیه توګه اجرا کړي»**

په دې حکم کې علنیت، د محاکمو یو اصل او یو پرنسیپ دی او

سريت د محاكماتو يو استثنايي حالت دی، چې د هغه موارد هم خپله قانون ښودلي دي او قانون د ټولنې او د ټولنيز ژوند خير په هغه کې ليدلی دی. داسي موارد په ټولنيز ژوند کې ډير دي چې د مناقشاتو حل او فصل يې د سريت ايجاب کوي، لکه د ميړه او د ميرمنې ترمنځ د مناقشې حل او فصل په هغو مواردو کې چې علنيت يې ناوړه عواقب ولري.

**۵۱ماده** ـ له مشروعو وسايلو د استنادی جواز:

**«د محاكمو حضور: هر څوك د خپلو حقوقو د محافظې لپاره ټول مشروعه وسايل پيشنهادولی شي.»**

د دعوی دفع، د شاهدانو راوړل، د قسم توجه دا د حقوقو د محافظې لپاره د هغو مشروع وسايلو له جملې دي چې د اسلام د حقوقو په اساس له سلګونو کلو را په دې خوا په اسلامي ټولنو کې معمول دی. د دعوی لپاره د وکيل د نيولو حق د اساسي تشكيلاتو د نظامنامې د ۲۰۷ مادی په اساس پر دې مشروط ګڼل شوی چې خصم رضايت ولري يا دا چې شرعي عذر موجود وي.

**۵۲ ماده** ـ د محاكمو مكلفيت:

**«عدليه محاكم د هغو دعواوو په روايت او فيصلو کې چې د هغوی د وظايفو په داخل کې دي، معطلی او فاصله نشي کولی.»**

د دې حكم په اساس عدليه محاكم مكلف دي هغه دعاوې چې دوی ته راجع شوي او د دوی د وظايفو په چوکاټ کې دي، بې له کومې معطلی فيصله کړي او هغه دعاوی چې د هغو رسيده ګي او فيصله د هغوی له وظايفو او صلاحيتو خارج دي، هغه دوی نشي کولی. د اساسي تشكيلاتو نظامنامه د هيواد محكمې په څو برخو چې هغه

اصلاحیه محاکم، ابتدائیه او مرافعه محاکم دي ویشي. اصلاحیه او ابتدائیه محاکم په محلي حکومتیو، په لویو حکومتیو، په ولایاتو او د سلطنت په مرکز کې موجود دي او د مرافعي محاکم په محلي حکومتیو کې نشته. له ټولو محاکمو لوړه د تمیز د هیئت محکمه ده. دا ټول محاکم د خاصي نظامنامي په اساس خپل وظایف اجرا کوي *(ودی لیدل شي د اساسي تشکیلاتو نظامنامه له ۲۰۴ - ۲۲٦ مادې).*

**۵۳ ماده** ـ له مداخلاتو د محاکمو آزادي:

**« ټول محاکم له هر راز مداخلې آزاد دي.»**

محکمې او قاضیان د قضا په چارو کې، غیر د قانون او د شریعت له امره بل د هیڅ یوه مقام او شخص د امر په رعایت مکلف نه دي. هیڅ یو څوك او هیڅ یو مقام نشي کولی قاضي او محکمې ته هدایت ورکړي او یا په کوم ډول خپله اراده په هغوی تحمیل کړي. دا آزادي د اسلام په حقوقو کې موجوده وه؛ د اسلام په صدر او په ټولو هغو زمانو کې چې حکمدارانو او امراوو د اسلام د حقوقو رعایت کاوه، د دې اصل تابع وو مگر په هغو دورو کې چې په اسلامي ټولنې مطلقه حکومت حاکم و او د پادشاه اوامر، اراده د حق او باطل تعیین کوونکې وو او قاضي هم د قضا په مسند کې او یا خارج له هغه په شرعي مسایلو کې د مطلقه آمر او پادشاه د غوښتنو تابع و، څرنگه چې د ۸ می نکاح په برخه کې د اعلیحضرت امان الله له قوله روایت وشو، د قضا او د محاکمو د آزادئ د اصل رعایت نه کیده.

د روم د جرمن د سیستم او د کامن لاو سیستم هیوادونو کې د قاضي استقلال او آزادی ته لوی اهمیت ورکړل شوی دی؛ دا د قاضي استقلال اندازه په هغو هیوادونو کې تر هغه حده رسیدلی ده چې بې

د هغه له خوښي د يو قاضي تغيير او تبديل د قضا به استقلال او آزادی کی مداخله ګڼله کيږي او دا کار څوك نشي کولی.

د قضا د آزادئ او استقلال اصل يو له هغو اصولو څخه دی چې د اسلام حقونو هغه منلی او د عادلو حکومتونو په دوره کې د هغه رعايت شوی دی. د غربی جهان په پرمختللو هيوادونو کې دې اصل يا په سنتی ډول انکشاف کړی او يا په اساسي قوانينو کی را اخيستل شوی او په نورو په انکشافه هيوادونو، لکه زموږ هيواد، دا اصل په خپلو اساسي قوانينو کې اقتباس کړی دی.

**٥٤ ماده** ـ د محاکمو صنوف او درجات او د هغوی صلاحيتونه:

**«د محاکمو صنوف او درجات او د هغوی صلاحيتونه د اساسي تشکيلاتو په نظامنامه کې توضيح شوي دي.»**

د محاکمو صنفونه او درجې د اسلام په صدر کې موجودې نه وی. په وروستيو دورو کې چې د اسلام د قلمرو ساحه پراخه شوه، د عدالت د لاښه تأمين د ضرورت په خاطر، د محاکمو صنفونه او درجې ومنلی شوی.

په غرب کې هم دا اصل له همدې وجې منل شوی دی. زموږ د هيواد اساسي تشکيلاتو نظامنامی ( له ٢٠٤ ـ ٢١٦ مادی ) په دې اړوند اصلاحيه محکمی، ابتدائيه محکمې، مرافعه محکمی او د تميز عاليه هيئت پيژني.

اصلاحيه محاکم د سلطنت په مرکز، د ولاياتو په مراکزو، اعلی حکومتيو، لويو حکومتيو او محلي حکومتيو کې يوه يوه محکمه موجوده وي. د دې محاکمو رئيسان، د هغو اشخاصو له جملې چې په اولس کې د حرمت او اعتماد خاوندان وي، د کابل د والي، نايب

الحکومه ګانو، اعلی حاکمانو او لویو حاکمانو له خوا انتخابیږی او وروسته له دې چې د عدلیی وزیر په دې برخه کې غور او تدقیق وکړي د اعلیحضرت په منظوری مقرریږي.

د کابل د ولایت اصلاحیه محکمه له یو رئیس، غړو او یو سرکاتب څخه جوړه ده او د نورو ولایاتو محاکم یو یو رئیس، دوه دوه غړي او یو یو سرکاتب لري.

اصلاحیه محاکم ټول حقوقي او تجارتي اختلافات د دعوی دواړو خواوو په رضا فیصله کوي. وروسته له دې چې یوه دعوی هلته فیصله او امضا شوه، بیا نو دا دعوی په نورو محاکمو کې نه اوریده کیږي. که چیرې دعوی په اصلاحیه محکمی کی فیصلی ته ونه رسیږي نو اصلاحیه محکمه هغه ابتدائیه محکمی ته لیږي.

ابتدائیه محاکم د ولایاتو په مراکزو او حکومتیو کې موجود دی او د ټولو حقوقي او جزایی دعواوو د فیصلو صلاحیت لري. ابتدائیه محاکم حقوقي او تجارتي دعوی چې له یوې روپۍ تر درې سوو روپیو وي ( ۱- ۳۰۰ روپیو) په قطعي دول فیصله کوي چې بیا نو هلته د مرافعي حق موجود نه وي. دا محاکمې هغه حقوقي او تجارتي دعوی چې له ۳۰۰ روپیو اضافه وي او د جزائیه دعوی ټول ډولونه هم فیصله کولی شي.

د ابتدائیه محکمې په هغو فیصلو چې اعتراض موجود وي د معین مدت په داخل کې د مرافعي محکمي ته وړاندې کیږي یا ابتدائیه محاکمو کې یو قاضي او دوه کسه مفتیان موجود وي. کله چې یو مفتي نه وي نو د محکمې کاتب د هغه په عوض کار کوي.

د مرافعي محاکم د کابل په مرکز او په ولایاتو کی، اعلی حکومتیو او لوي حکومتیو کې موجود دي. د مرافعي محکمه کولی شي چې د

ابتدائیه محکمې مخالف یو حکم را وباسي. که چیرې دواړه خواوې د دعوی په دې حکم راضي وي هغه اجرا کیږی. که یوه خوا پر هغه حکم اعتراض ولري د ۱۵ ورځو په ترڅ کی باید د مرافعي محکمی یا د کوتوالی قوماندانی، یا حکومت ته د تمیز غوښتلو استدعا وکړي او دا هم کولی شي چی برابر تمیز ته خپله د تمیز غوښتنه وړاندې کړي.

که چیرې د ۱۵ ورځو په ترڅ کی د تمیز غوښتنه ونه کړي، د مرافعي حکم پر هغه چا چې حکم شوي تطبیقیږي او وروسته له دې چې هغه حکم تطبیق شي نو د تمیز د موعد تر اکماله پورې چې تمیز حق لري. یوازې په هغو مواردو کې چې حکم حبس دوام یا اعدام وي، که محکوم علیه اعتراض هم ونه کړي. حکم باید د تمیز د عالیه هیئت له خوا تدقیق شي. وروسته له دې چې هغه د تمیز عالیه هیئت تدقیق کړ او هغه یې له شریعت او نظام سره موافق وباله، د عدلیې د وزیر له خوا هغه حکم د منظورۍ لپاره د اعلیحضرت حضور ته وړاندې کیږي.

د مرافعي په محاکمو کې یو یو قاضي دوه دوه مفتیان او سرکاتب موجود وي.

د تمیز عالیه هیئت، چې د هیئت د رئیس له ریاست لاندې منعقدیږي یو رئیس او ٤ غړي لري. د تمیز عالیه هیئت، د مرافعه محکمو، د ابتدایی محکمو او د اصلاحیه محکمو په شان خپل وظایف د خاصې نظامنامی له احکامو سره سم اجرا کوي.

شرعیه محکمې په جزائیه امورو کې د عمومي جزا د نظامنامي له احکامو سره سم او په حقوقي او تجارتي امورو کې د ( تمسك القضاة الامانیه ) د مجلې په اساس فیصلې را باسي.

**۵۵ ماده** - د فوق العاده محکمو عدم جواز:

**«هیڅ څوك له عدلیه محاکمو بهر، د ځینو خاصو فقراتو د فیصلی لپاره، یو فوق العاده محکمه جوړولی نشي».**

د دې حکم په اساس د هر راز محاکمو تشکیل، د حقوقي، تجارتي او جزایی محاکمو له عدلیه محاکمو بهر، چې د اساسی تشکیلاتو په نظامنامه کې راغلي دي، منع شوی دي، د هیڅ څوك کلمه دلته په عام ډول استعمال شوې ده، چې دواړه ډوله شخصیتونه، حقیقي او هم حقوقی اشخاص، احتوا کوي. نه یوازې حقیقي اشخاص خاصې محکمې نشي جوړولی، بلکه حکومت هم نشي کولی چې له عدلیه محاکمو بهر خاصه محکمه د کومې حقوقي، تجارتي، یا جزایی مسألي لپاره جوړه کړي. دا اصل د غرب له حقوقو یو نیك اقتباس او یو پراګراماتیك اصل دی، چې په عمل کې ډیره توجه ورته نه ده شوې.

# اووم فصل
# عالي ديوان

د اساسي نظامنامې تر دې عنوان لاندې يوازې دوه مادو کې، د عالي ديوان د مطالبو خاصوالي او د دې ديوان د تشکيل طرز، بيان شوی دی.

دا مطالب د هيواد په قديمو حقوقو او سنتونو کې نه وو موجود او د غربي اروپا له حقونو يو اقتباس و چې په عمل کې تطبيق نه شو او په راوروسته اساسي قوانينو کې هم اساساً توجه ورته ونه شوه. دلته به لاندې هره يوه ماده وڅيړله شي:

**٥٦ ماده** ـ د عالي ديوان خاص والی:

**«عالي ديوان خاص د دولت د وزيرانو د محاکمې لپاره عندالاقتضا په موقتي توګه تشکيل کيږي او فسخ کيږي.»**

په دې ماده کی دوه مطالبه څرګنديږي. يو مطلب دا چې عالي ديوان يوه دايمی مؤسسه نه ده او يوازې د ضرورت په وخت کې د يوې خاصی وظيفې د انجام لپاره جوړيږی او کله چې وظيفه انجام شوه بيرته ړنګيږي. دا خاصه وظيفه هم د وزيرانو محاکمه ده.

عالي ديوان له کومه وخته چې جوړ شو او بيا رنګ شو هيڅ کله داير نه شو.

**٥٧ ماده** ـ د عالي ديوان د تشکيل طرز:

**«د عالي ديوان د تشکيل طرز او د هغی د محاکمی اصول د خاصی نظامنامې مطابق اجرا کيږي»**

د عالي ديوان د تشکيل طرز او د هغې د محاکمې د اصولو په باره کې د اساسي تشکيلاتو نظامنامه، درې مادې (۱۸۶ ـ ۱۸۸ ) د عالي ديوان د غړو شمير، د ديوان د برخو او د ديوان د حکم په موضوع کې ارائه کوي.

د عالي ديوان اعضا:

د دولت د شورى د طبيعه او انتخابيه او د تميز له هيئت څخه ۱۵ کسه، د ضرورت په وخت کې د اعليحضرت همايوني په ارادې انتخابيږي، د دې هيئت وظيفه يوازې د وزيرانو او د مستقل مدير د محاکمې اجرا ده، چې په خپلو رسمي وظايفو کې تر محکمې لاندې راغلي دي.

عالي ديوان په دوو برخو ويشل شوى دى، چې يوه برخه يې د اتهام او تحقيق اداره ده او بله يې د حکم ديوان، د تحقيقاتو او اتهام اداره له ٦ کسو جوړه ده. دا اداره ابتدايي تحقيقات ترسره کوي او د اتهام په صورت کې د محکمې لزوم د حکم ديوان ته سپاري. د دې هيئت هيڅ يو غړى د حکم په ديوان کې د شرکت حق نه لري.

د حکم ديوان: دا ديوان له ۹ غړو جوړ دى. د حکم ديوان هغه متهمين تر محکمې لاندې نيسي چې د ابتدائيه تحقيقاتو او د اتهام له دايرې دلته راجع شوي دي. د حکم د ديوان فيصلې د مرافعې او تميز وړاندې مني. دلته مرافعه او تميز غوښتل کيداى نشي او وروسته د اعليحضرت همايوني له امضا څخه اجرا ته سپارل کيږي.

# اتم فصل
# مالی امور

تر پورتني عنوان لاندې په اساسي نظامنامه کې پنځه کلی مطلبه په لاندی توگه بیان شوي دي:

۵۸ ماده: د دولتي محصولاتو اخیستنه.

۵۹ ماد. بودجه.

۶۰ ماده: قطعی محاسبه.

۶۱ ماده: د سنجش دیوان.

۶۲ ماده: د بودجې د قطعی محاسبې نظامنامه.

په دې برخه کی یو مثبت، پراخ او عمیق ریفورم پیښ شو، چې دا لاره وروسته تعقیب شوه او انکشاف یې وموند، دا مطلب په دې معنی چې د افغانستان دولتونو پخوا له مالي امورو کومه آگاهی نه لرله. هیون تسنگ چینی زایر چې د ۹ هـ کال په حدودو کې یې د دې هیواد حکمرانان او اداره لیدلې وه، د هغوی له اداري تشکیلاتو، له مالي چارو له تنخوا لرونکو عساکرو، له حاکمانو، وزیرانو او قاضیانو او نورو دولتي مامورینو له ایله جاری اجیرو قواوو، د پلونو او سرکونو له خرچگیرانو، صحبت کوي *(افغانستان بعد از اسلام ۱۰ مخ)*.

د اسلام د خلفاوو په دوره کې د مالي امورو د خراج عامل د سیاست د چارو د عامل تر ځنگ لوړ مقام درلود.

د اموي او عباسي خلفاوو په دورو کې چې د ولایاتو د ادارې لپاره د عامه امورو کوم مؤظفین تعیین شوي وو په هغو کې:

۱- خراج او د بیت المال عامل: ۲ - قاضي؛ ۳ - د لشکر قاید: ٤ - د شرط خاوند پولیس او پنځم د صلاة (لمانځه) عامل *(ودې لیدل شي نوموړی اثر ۲۰ ۵ مخ)*. همدا مالي اصول د افغانستان د ملي سلاطینو په دورو کې هم تعقیب شول. د امیر شیرعلی خان په دوره کی د مالی امورو اصلاح ته هم توجه وشوه، د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې د دولت عمده مالي ادارات، د استیفا د نظام نوی دفتر، د سنجش دفتر (د محاسباتو کنترول) د مال شماری دفتر او اداری، ډاګ (پوسته)، راهداری (پاسپورت) کوتوالي (امنیه پولیس)، مالیات، حیاتی (د معاش خورو د حیات مصدق) او صکوك وو. *( ودی لیدل شي، غبار افغانستان در مسیر تاریخ ٦٤٤ مخ )*

د اعلیحضرت امان الله خان په دوره کې د مالي امورو د تنظیم په برخه کې چې کوم ریفورم راغی هغه ته به د دولت د محصولاتو اخیستلو د نظامنامې په ترڅ کې اشاره وشي.

**۵۸ ماده** - د دولت د محصولاتو اخیستل:

**«د دولت ټول محصولات د خاص قانون مطابق اخیستل کیږي.»**

د اساسي قانون د دې مادې د حکم په اساس د دولت د محصولاتو لپاره قوانین وضع شول، لکه د محصول مواشی نظامنامه، د للمی زمکو نظامنامه، د ګمرکي محصول نظامنامه.

د مالیاتو وضع، د ملت له نماینده ګانو سره مطرح شوه او د ملت د نماینده ګانو په موافقه د مالیاتو او محصولاتو قوانین وضع شول. اعلیحضرت په دې برخه کی د ملت نماینده ګانو ته مفصل بیانات ورکول، هغوی ته به یې قناعت ورکاره او یا به یې د هغوی په دلایلو قناعت کاوه.

**۵۹ ماده** - بودجه:

**«هرکال د دولت بودجه د وارداتو او مصارفو لپاره یوه بودجه تنظیمېږي. دا بودجه د دولت د وارداتو او مصارفو لپاره اساس دی، ټول واردات او مصارف د هغې له مخې اخیستل کېږي او په مصرف رسېږي.»**

څرنگه چې وړاندې اشاره وشوه چې د بودجې تنظیم د امانیه د دورې له ابتکاراتو څخه دی او دې خبرې ته اعلیحضرت په نوموړې لویې جرگې کې گوته ونیوله او وی ویل: «د اعلیحضرت امیر شیرعلی خان په زمانه کې سنجش وشو چې دا معلومه کړي چې خرڅ له دخله زیاتی نه وي، مگر په دې کار موفق نه شول. همدارنگه د ضیاالملت والدین په دوره کې هڅه وشوه چې د حکومت دخل او خرڅ معلوم شي او وروسته له ډیرو هلو ځلو دوی یو طرز پیدا کړ چې هغه ته یې (خلاصه لیکل) ویل. د دې طرز په اساس دوی ټولو ولایاتو ته د دې طرز پاڼې ورولیږلې خو یوازې د هرات له ولایت څخه د دخل او خرچ پاڼې راورسیدې او نورو ځایونو ونشول کولی چې خلاصه نویسی جوړه کړي. ما عاجز کوششونه وکړل شپه او ورځ مې کار وکړ څو مې دا بودجه ترتیب کړه او په خپل مقصد کې بریالی شوم... که اوس څوك وغواړي چې د بودجې په برخه کې خبرې وشي، څرنگه چې پخوا له تاسو چا دا غوښتنه کړې وه زما په خیال په دې موقع کې به دا موزون نه وي او دا په دې چې موږ بودجه د کال له شروع د ۱۳۰۲ له پیله ترتیب کړې ده او په هغه وخت کې همدا وکیلان او همدا وزیران موجود وو او وروسته د هغوی له تصویبه ما امضا کړه او اوس چې د کال نیمایی دی هر څه چې شوي په هغوی کې تغییر او تبدیل نشي راتلای بیا هم که څوك غواړي په دې برخه کې بحث وشي وروسته له دې چې کافي معلومات په دې ارتباط

لاس ته راوړي د کال په ابتداء کې حاضر يم چې له هغه سره بحث وکړم او شبه به يې رفع کړم. *(ودې ليدل شي د ۱۳۰۳ لويه جرگه ۱۹۲ مخ)*

د عمومي بودجې نظامنامه د ۱۳۰۱ ه ش د حمل په ۲۳ مه کې په (۵۰) مادو کې تدوين او تر ۱۳۰۵ پورې درې وارې چاپ شوه، چې وروستی طبع يې د رفيق د شرکت په مطبعې کې وه. د عمومي بودجې دا حسنه ريفورم له هغې زمانې د يوه نيك سنت په حيث پاته شو او تر ۱۳۵۲ کال را ورسيده او وروسته له هغې د عمومي بودجې او د دولت د دخل او خرج مخ د ملت استازو ونه ليد.

**۶۰ ماده** - قطعي محاسبه:

**«د کلنی بودجې له تطبيق او اجرا څخه وروسته يوه قطعی محاسبه تنظيميږي او دا قطعي محاسبه د کال د حقيقي وارداتو او صرفياتو د مقدار حاوي وي »**

په دې برخه کې د امير عبدالرحمن خان په دوره کې لومړی قدمونه اوچت شوي وو او د اعليحضرت امان الله په زمانه کې يې نور هم انکشاف وموند. څرنگه چې په ٦٢ ماده کې راغلي دي، د دې لپاره يوه خاصه نظامنامه هم تدوين شوه.

**۶۱ ماده** - د سنجش ديوان:

**«د دې مسألي تحقق او تدقيق لپاره چې (د دولت واردات او مصارف د بودجې له نظامنامی سره سم ايفا شوي او که نه) د سنجش يو ديوان تشکيل کيږي (د سنجش د ديوان په برخه کې يوه خاصه نظامنامه موجوده ده).»**

په دې برخه کې څرنگه چې وويل شول، د امير عبدالرحمن خان په

زمانه کې ریفورم منځ ته راغی. اما په دې دوره کی د اروپایی حقوقو د تجاربو نه په استفاده، د دې منظور لپاره، یوه نظامنامه تدوین شوه.

د اساسي تشکیلاتو د نظامنامې په اساس، د سنجش دیوان له یوه رئیس او له ٦ اعضاوو څخه جوړ دی او دا ټول د اعلیحضرت له خوا تعینیږی او په هیڅ یوې وزارتخانې اړه نه لري او صرف اعلیحضرت ته مسؤول ګڼل کیږي. د مالیی وزیر او د محاسبې عمومي مدیر د سنجش دیوان ته دا مسؤولیت لري چې هرکال حسابي پاڼې له جزئیاتو او فروعاتو سره په هغه معین موعد کې چې په نظامنامه کې ټاکل شوی دی، د سنجش دیوان ته ور ورسیږي. د سنجش دیوان دا تدقیق کوي چې د دولت ټول مصارف له معتبره اوراقو سره او د نظامنامی له احکامو سره سم شوي که نه؟ د بودجې یوه حقیقي موازنه چې د مالیې وزارت له خوا تنظیمیږي له تدقیقاتو وروسته د اعلیحضرت حضور ته تقدیمږي.

**٦٢ ماده** ـ د بودجې د قطعی محاسبی نظامنامه:

**«د قطعی محاسبې د تنظیم او د بودجې د تنظیم او د هغې د تطبیق او اجرا لپاره مخصوصه نظامنامه موجوده ده.»**

دا مطلب د دې دورې له ابتکاراتو څخه دی چې د عمومي بودجې له نظامنامې علاوه د محاسبې د تصفیې د اجراآتو نظامنامه د قطعی محاسبې او د بودجې نظامنامه تدوین شوی چې دا د بعدي انکشاف اساس ګرځیدل دي.

## نهم فصل
## د ولایاتو اداره

تر دې عنوان له ( ٦٣ مادې څخه تر ٦٧ مادې ) پورې پنځه مطلبه په لاندې توګه بیان شوي دي:

٦٣ ماده: د ولایاتو د ادارې اصول.

٦٤ ماده: د کار د اجرا لومړی مرجع.

٦٥ ماده: وروستی مرجع.

٦٦ ماده: ښاروالي.

٦٧ ماده: د عسکري حکومت اعلان.

د پورتنیو مطالبو تنظیم په قانون کې یوه نوی موضوع ده، مګر مطالب یې په هیواد کې تازه ګی نه لري.

د چینی زایر هیون تسنګ په حواله زموږ هیواد په لرغونو زمانو کې مکمل دولتي تشکیلات لرل. د خراسان حکمرانانو د اسلام د ظهور په زمانه کې درې مطلبه د اداری او حکومت کولو لوازم ګڼل او د هغوی د عقیدې په اساس همدا درې مطلبه د عجمیانو د فتح او نصرت عوامل وو. د اسد بن عبدالله د بلخ د حکمرانی په دوره کې له ۱۲۰ هـ تر ۲۳۷ هـ د هرات یو دهقان د اسد دربار بلخ ته راغی. د مهرګان د جشن په مناسبت یې هدایا امیر ته وړاندې کړل او په خپله وینا کې یې وویل: «خدای دې امیر ته خیر په نصیب کړي. موږ عجمیانو څلور سوه کاله په داسې حال کې چې ناطق کتاب او مرسل نبی مو نه درلود یوازې په حلم او عقل او وقار (په برده باری.

هوښیاری او سنگینی ) مو دنیا ونیوله او هر چا چې په دې دری خویونو هرې خواته مخه کړی ده خدای بری ور په برخه کړی دی *(پوهاند حبیبی: افغانستان بعد از اسلام لومړی ټوك، ۱۱ ٥ مخ.)*،

په اسلامي دوره کې د اسلام خلفاوو اجرائیه او قضائیه قوې په خپل لاس کې لرلی، او له خپلی خوا به یې یو څوك د «عامل، په نامه مفتوحه ولایاتو ته لیږه. په وروستیو کلو کې « عامل، د والي په نامه یادیده او امیر به هم ورته ویل کیدل.

د والي یا امیر وظایف: په لمانځه کې امامت، د دعاویو حل او فصل، د لشکر قیادت، پر نورو عاملانو نگرانی وه او د خراج عامل د والي ترځنگ کار کاوه، داسې چې والی سیاست اداره کاوه او مالي امور د خراج د عامل په لاس کې وو.

د اموي او عباسي خلفاوو په دورو کې د ولایاتو اداره کوونکي دا کسان وو:

۱- د بیت المال خاوند او د خراج عامل.
۲- قاضي.
۳- د لشکر قاید.
٤- د شرطی خاوند (پولیس ):
٥- د لمانځه عامل

په وروستیو دورو کې، چې د خلفاوو له سلطې هیواد آزاد و، لږ او ډیر همدې اداري اصولو رواج درلود.

د درانیانو په دوره کې یو څه ترکی اصول او نومونه، لکه: شاآقاسی د هیواد د اداري چوکاټ ته راننوتل. د امیر شیر علی خان په دوره کې چې کوم عمومي ریفورم شروع شو په هغه کې اداري ریفورم

هم شامل و.

دې اداري ريفورم د اعليحضرت امان الله خان په دوره په يو ډول نه يو ډول ادامه لرله او د امان الله خان په دوره کې د لوی حقوقي ريفورم په ترڅ کې اداري هم په اروپايی مدل تغيير وموند. د اداری شکل او د اداری صلاحيتونه په اساسي نظامنامه او د اساسي نظامنامې په مکملو نظامونو کې تنظيم شول.

د اساسي تشکيلاتو نظامنامې اداري هيئت توضيح کړی دی. په لومړي فصل کې يې د مرکزي ادارې په باب خبرې شته او په دوهم فصل کې يې له ( ۸۱ مادې تر ۱٤٥ مادې ) د ولاياتو اداره، بيان کړې ده. په دې مواردو کې د نايب الحکومه گيو، اعلی حکومتونو، د مشورې د مجالسو، د لويو حکومتيو، د محلي حکومتيو او د علاقه داری تشکيلات، صلاحيتونه او وظايف په گوته شوي دي.

دا ټول هغه مثبت او گټور ريفورمونه دي چې د بعدي دورو د کار او چارو اساس پرې ولاړ دی.

دا ريفورم مگر متأسفانه يوه شکلي ريفورم او يو له پاسه د کښتی خواته ريفورم و. د پادشاه اراده دا وه چې د پرمختللو ټولنو په شان يوه د ملي او وطني منافعو اداره جوړه کړي مگر اداری کادر له محدودو اشخاصو پرته دا فکر او دا ملي او وطني ضرورت نشو درك کولای.

د ريفورم په سلسله کې پادشاه د مامورينو او د اداري کادر کالی په دريشي او لونگی په شپو بدل کړای شول، مگر دی د دريشی او خولۍ بدلون د دوی فکر او ذهن، د دوی احساس او وجدان بدل نه کړای شو. يو فرانسوي حقوق پوه رنه داريد چې کله د فرانسی اداری حقوق ستايي او د دې حقوقو د ستاينې شواهد د انگليسی منابعو په

حواله وړاندې کوي، د خپلو حقوقو ضعيف ټکی بيانوي او ادامه ورکوي: برسيره پر دې ضعفونو چې د دوی په حقوقو کې موجود دي، بيا هم په اداره کې چې رسوايي گانی ډيرې نه پيښيږي علت يې دا دی چې د فرانسې د اداري مقاماتو د وظيفې پيژندني احساس او د هغوی وجدان لوړ دی او که داسې نه وای، نو اداري حقوق په يوازې توگه د حقوقي رسوايي گانو مخه نشي نيولی.

يو انگريز فيلسوف هاينکس نظر خپله قانون ته د هغه اجرا کوونکی ته اهميت ورکوي او وايی: « بايد وليدل شي چې قانون د کومو اشخاصو په لاس او څرنگه اجرا کيږي او بايد دا څرگنده شي چې د قانون د اجرا کوونکو نيت او قصد څه دی؟ حکومت کول او هم د هر قانون اجرا د اجرا کوونکو په حسن نيت يا سؤنيت او هم د هغوی د ذکاوت او درايت له اندازې سره ارتباط لري.

يوازې د قانون جوړول کوم اهميت نه لري. ډير داسې ليدل شوي چې يو ضعيف قانون، د داسې مجريانو په لاس کې چې نيك نفس او حسن نيت لري، د سعادت او ترقی، موجب گرځيدلی او داسې هم ليدل شوي چې يو کامل او تر ټولو جامع قانون د ناصالح اجرا کوونکو په لاس کې د ظلم، د سؤ استفادې او د تخريب په وسلې بدل شوي دي. د فرانسوي او خصوصاً د انگليسی پوه ويناوې زموږ په حال ډير ښه صدق کوي. د موضوع د اختصار په منظور د دې مطالبو څيړنه او تطبيق د هيواد په پخوانيو او اوسنيو حالاتو کې خپله لوستونکی ته پريږدو او د اساسي نظامنامې د مادو سلسلې ته، د ادارې په برخه کې، بيرته راگرځو.

**۶۳ ماده** ـ د ولاياتو د ادارې اصول:

**«د ولاياتو د ادارې اصول په دريو اساسي قاعدو ولاړ دي:**

١. د مادونیت پراختیا.
٢. د وظایفو تفریق
٣. د مسؤولیت ټاکل.

**د نومړو قواعدو پر بنا د ولایاتو د مامورینو وظایف له وضع شویو نظاماتو سره سم تعیین او تفریق شوي دي او د مامورینو اختیارات هم له خاصو نظاماتو سره سم محدود شوي او هر مامور په خپلو وظایفو کې د مراتبو له سلسلې سره سم خپل مافوق ته مسوول ګڼل کیږي»**

دا حکم، چې د اداری اجراآت د آمر د عندی ارادې، د هغه د نفسی یا ذوقي غوښتنو له ساحې را باسي او د مامور وظایف او صلاحیتونه د یوه سلسله داسې تجربه شویو قانوني پرنسیپونو تابع ګرځوي چې هغه د شخصی مطالباتو ماوراء او په آفاقي توګه له علمی اصولو سره سم د ټولنې د فرد فرد د خیر په منظور جوړ شوی، د اروپا له حقوقو یو مهم او په ځای اقتباس ګڼل کیږي.

**٦٤ ماده ـ د کار د اجرا لومړی مرجع:**

**«په ولایاتو کې د هر یو وزارت بیل مامورین مقرر دي. خلك د خپلو کارونو د اجرا او د خپلو ضروریاتو د انجام لپاره باید د وزارتونو د شعباتو مامورینو ته مراجعه وکړي.»**

په ولایاتو، اعلی حکومتیو، لویو حکومتیو او له هغو راکښته د محلي حکومتیو او علاقه داریو کی د وزارتونو شعبات موجود وو چې د نایب الحکومه یا له هغه راکښته د منطقي د حکامو تر اثر لاندې یې له خپلو نظامنامو سره سم اجراآت کول.

د مثال په توګه په هرې نایب الحکومګی یا منطقه یی واحد کی د

داخلي د وزارت، د معارف د وزارت، د ماليې د وزارت، د عدليې او د تجارت د وزارت شعبې موجودې وې او خلك د خپلو كارونو د اجرا لپاره هغو شعباتو ته ورتلل. همدارنگه په يوه محلي حكومت كې هم د ماليې د وزارت شعبه د ماليې د ماموريت په نامه، د داخلي وزارت شعبات د احصائيې او ثبت نفوس ماموريت او د پوليسو قوا، د معارف د وزارت شعبه د مكاتبو د امورو د تنظيم لپاره موجود وو چې دې شعباتو د مراجعينو ستونزې د لومړۍ مرجع په صفت لږ او تخفيف كولې. كله به چې د دوی ستونزه هلته حل نشوه نو دوی كولی شول بلې له هغې لوړې مرجع ته مراجعه وكړي.

دا ماده له تشكيلاتي لحاظه يوه نوې ماده وه چې پخوا تر دې په عمل كې نه وه، مگر دا سنت موجود و چې كه د چا بازخواست به په محلي اداره كې ونه شو نو له هغې لوړ مقام ته به يې مراجعه كوله.

**٦٥ ماده** ـ د مراجعې بعدي مرجع:

**« كه د خلكو كار په ماموريتونو كې اجرا نشي او يا مامورين د هغوی په برخه كې د دولتي نظاماتو خلاف رفتار وكړي، د خلكو افراد كولی شي د هغوی له ناوړه رفتار يا دا چې په كار كې ځند راوړي له ضرورت سره سم مافوق آمرينو، نايب الحكومه او اعلی حاكم ته استغاثه وكړي.»**

په دې ماده كې يو لوړ مقام ته د خلكو مراجعه په درو مواردو كې په نظر كې نيول شوې ده: يو په هغه مورد كې چې لومړنی ماموريت د موضوع د رسيده گۍ صلاحيت ونه لري نو له هغه لوړ د صلاحيت خاوندی مرجع ته به مراجعه كيږي. دوهم دا چې ابتدايي مرجع به د كار د اجرا صلاحيت لري، مگر دا چې دا مرجع به له قوانينو عدول كوي په كار كې به ځنډونه اچوي د كار په اجرا كې به ځني راوړي

او غواړي به چې سو استفاده وکړي نو دلته هم له ضرورت سره سم مافوق آمر، نایب الحکومه یا اعلی حاکم ته شکایت کیږي. د مراتبو د سلسلې د رعایت له نظره دا حکم هم یو نوی حکم نه دی مگر د قانونی صلاحیت د تفکیك له نظره یو په ځای ریفورم دی او دا اصل ترهغه وخته چې په هیواد کی مرکزی اداره موجوده وه، نافذ و او رعایت یی کیده.

**٦٦ ماده** - ښاروالي ( بلدیه ):

**« د ښاروالی ( بلدیې ) د دوایرو تشکیل او وظایف په خاصی نظامنامی کی توضیح شوی دي»**

د بلدیی یا ښاروالی تشکیلات او اجراآت له قانون سره سم له غربي حقوقو یوه ډیره په ځای اخیستنه وه او هم د ولسواکی د تربیې یوه ښه وسیله. د ښار ټولي صحي، تنظیفاتی، تنویري چارې، د ابتدایی خوراکی او مصرفی اموالو تهیه کول او د صنفی نماینده گانو په مرسته د هغو د نرخ کنترول د ښاروالی له وظایفو وو. د ښاروالی رئیس، معاونان او نور مامورین خپله د ښار د نواحیو له خوا انتخابیدل. په دې توگه چې د ښار د نواحیو نماینده گان د ښاریانو له خوا، په یوه آزاده دموکراتیکه فضا کې، انتخابیدل او هغوی بیا په یوې بلې دوهمې انتخاباتی غونډې کې له خپله منځه رئیس یا ښاروال، معاون، منشی، د ښاروالی د انجمن غړي او د ناحیو مامورین انتخابول.

بلدیه یا ښاروالی په انتخاباتو او د ښار د اولس په خوښه ولاړ ارگان و، چې په هرو څلورو کلو کې به بیا دا انتخابات کیدل. د خلکو د خوښی، دموکراتیکی او آزادی ښاروالی د کار نتیجه هغه وخت نه څرگندیدای شي چې ښار له تحول سره مخامخ شي، لکه: د دیپلوم

انجنیر غلام محمد فرهاد، څلور کلنه دوره چې د کابل د ښار په څیره کی عظیم بدلون راوست. په تش لاس د خلکو په شور او جوش د میوند د جادې ( لومړۍ برخه ) په ۱۵ ورځو کې، له وعدې سره سم، هواره او د ترافیك د تګ وړ شوه. د کابل ښار، چې د شرق له خوا تر بالاحصار د غرب له خوا تر ماشینخانې د شمال له خوا تر ده افغانان او د آسمایی غره تر درمسال او د جنوب له خوا تر شیر دروازې رسیده، تقریباً اوسنیو حدودو ته ورسید. دې ستر کار او د کابل د اولس عالی سیاسي شعور او صحیح انتخاب د قدرت د لیونیو حسادت را وپاراوه او په بعدي دورو کې یې د آزادو انتخاباتو مخه ونیوه او د ښاروالۍ غیرمرکزی دموکراتیکه انتخابي مؤسسه بیرته په یوه دولتی انتصابی مؤسسي بدله شوه.

له ۱۳٤٤ وروسته بیا هم د خلکو د خوښی ښاروالی ته توجه وشوه.

٦٧ **ماده.** عسکري حکومت:

**« کله چې د هیواد په یوې برخې کې د عصیان او بغاوت څه داسې آثار، چې د عمومي امنیت مخل وی، حس شي، دولت عسکری حکومت اعلانوي او عسکری اداره تشکیل کیږي.»**

د اساسي تشکیلاتو د ۸۹ مادی په اساس د عسکری حکومت د اعلان صلاحیت، په خاصو مواردو کی له نایب الحکومه سره دی مګر د عسکری حکومت د اعلان اساسی صلاحیت په پادشاه پورې اړه لري. د عدلیې د وزارت د عرض او ګزارش په اساس او د شاهانه ارادې پر بنا یوه بیان نامه خپریږی چې د دا لاندې خصوصیاتو محتوی وي. *(ودې کتله شي د اساسی تشکیلاتو نظامنامه له ۱۵۰ مادې تر ۱٦۲ مادې.)*

په نوموړو مواردو کې ټول هغه مطالب چې په عادي حالاتو کې د

خلکو د آزادئ او حقوقو مظهر دی، په عسکری حکومت کې په استثنایی توگه محدودیږي. دا احکام د هغو مثبتو حقوقي ریفورمونو له جملې څخه دي چې له غربي حقوقو، اعم له رومي، جرمني یا د کامن لا له هیوادو را اخیستل شوی او د ۱۳۰۹ کال په بعدي اساسی قانون کې دا عنوان حذف او د ۱۳٤۳ په اساسي قانون کې د اضطرار د حالت تر عنوان لاندې دی ته ورته احکام راغلي دي.

له لومړي اساسي قانون یا اساسي نظامنامی د مخه د اهالی یا خلکو حقوق نه پیژندل شوي وو او نه یې محدودیت په اضطراري حالاتو کې کوم مفهوم درلود.

# لسم فصل
# متفرقه مواد

تر پورتني عنوان لاندې له ٦٨ مادې تر ٧٣ مادې پورې دا لاندې مطالب ذکر شوي دي:

٦٨: جبري تحصيل.

٦٩ماده: د احکامو انفاذ

٧٠ ماده: د احکامو تعديل.

٧١ ماده: د احکامو تشريح او تفسير.

٧٢ ماده: د احکامو تنظيم.

٧٣ ماده: د مراسلاتو يا ليکونو مصؤونيت.

د دې عنوان ټول مطالب د شکل او محتوی له نظره نوي مطالب دي. د غربی اروپا له ليبرالي حقوقو يو په ځای اقتباس دی. دې حقوقو زموږ په هيواد کې پخوانۍ سابقه نه لرله. دې احکامو زموږ په هيواد کې د عمومي حقوقو له مخې د ټولنې د اجتماعي، مدني، فرهنگی او حقوقي انکشاف لار پرانيستله، بعدي قوانينو که غوښتل او يا يې نه غوښتل، له دې اصولو څخه يې عدول ونشو کولای، او هغه يې حفظ کړل. خو په بعدي اساسي قوانينو کې، متفرقه مواد يا متفرقه احکام، يا نهايي احکام دومره متنوع نه وو چې په دې برخه کې دی. اجباري تحصيل، د مراسلات مصؤونيت او د احکامو انفاذ او تعديل له دې عنوان لاندې راوستل شي. په لاندې کرښو کې به د عنوان هر يوه ماده په ځانگړي ډول لږ او ډير په تفصيل له نظره تيره کړو.

۶۸ **ماده** - اجباري تحصيل:

**« د افغانستان د اتباعو لپاره ابتدايي تعليم حتمي او اجباري دی. درجې او تفرعات يې په يوې مخصوصی نظامنامې کې تعيين شوي چې له هغې سره سم عملي کيږی.»**

د دې مادې حکم ټول د يوه معارف پرور غوښتونکي نظام ابتکار دی چې پخوا تر دې يې زموږ په هيواد کې سابقه نه لرله. البته پخوا تر دې ديني دولتي مدارس او دينی غيردولتی مدارس موجود وو، چې هغو اجباري خصلت نه درلود او اختياري وو. همدارنګه د امير حبيب الله خان په دوره کې د حبيبيی مکتب په ۱۹۰۳ م کال کې له څو ابتدايي ښوونځيو سره په کابل کې تأسيس شول، چې هلته د معارف پروګرام په اروپايي دود تطبيق کيده او د دولت د مامورينو اطفالو په دې مکاتبو کې درس وايه. د عادي خلکو هلکان دې مکاتبو ته نه تلل. د کابل دې څو ښوونځيو د ابتدايي اجباري تعليم توان نه درلود او دولت هم نه غوښتل چې تعليم اجباري کړي. د امير حبيب الله خان د دورې دې څو محدودو مکتبونو د مشروطه غوښتونکو د نفوذ په سبب، چې په مکاتبو کې يې درلود، لويه صدمه وليدله.

د حبيبيی مکتب چې په ۱۹۰۳ م کال کي تأسيس شو، شپږ کاله وروسته په ۱۹۰۹ م کال کې چې متعلمين يې شپږم صنف ته رسيدلي وو، د مسلح سري حزب يو لست، چې د مکتب منسوبين هم پکې وو د مشروطه خواهانو له خوا د امير لاس ته ورغی. د دې حزب هدف د امير حبيب الله وژل او د مشروطه حکومت تأسيس و. د دښووني هندي او افغاني معلمينو د مشروطه خواهی د افکارو په خپرولو کې عمده نقش درلود. د دې حادثې په اثر د معارف په برخه کې د امير عکس العمل دا شو، چې د معارف او ښوونځيو له خپريدو يې مخ واړاوه. د حبيبيی د ښوونځی له ۲۶۹ او د نورو مکاتبو له ۱۵۳٤

متعلمینو څخه ۱٦ کاله وروسته یوازی ۲۰ کسه تر بکلوریا رسیدلي وو. *(غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ص ۷۰۲.)*

د ٦۸ مادې په اساس ابتدائی تعلیم تر څلورم صنفه پورې په ټول هیواد کې اجباري شو. د دې هدف لپاره په ټول هیواد کې ابتدایی مکاتب جوړ شول او دارالمعلمینونه تأسیس شول. خو دا عالی هدف د صالح اجرا کوونکو مامورینو د فقدان او د فاسدو عناصرو د ناوړو اعمالو او د هیواد دښمنو د دسایسو له امله نه یوازې ترسره نشو، بلکه د خلکو نفرت یې هم د معارف په مقابل کې را وپاراوه. همدا وجه وه چې کوم وخت سپاه سالار محمد نادرخان د هیواد د نجات په منظور پکتیا ته راغی، د خلکو له خوا ترې دا تعهد واخیست شو چې دوی ته به مکتب او سرك نه جوړوي. برسیره پردې د اساسي نظامنامې دا د اجباری تعلیم حکم په بعدي اساسي قوانینو کې هم را واخیستل شو او حتی د ابتدائی تعلیم درجه له څلورم صنفه د شپږم صنف تکمیل ته جگه ولاړه. خو بیا هم د اجباري تعلیم حکم د یوه پراگراماتیك حکم په شکل باقی پاته شو او تر نن ورځې حکومتونه په دې موفق نه شول چې هیوادوالو دی هرومرو ابتدایی تحصیل کړی وي.

دا خبره د توجه وړ ده چې په دې ٦۸ ماده کې یوازی ابتدایی تعلیم اجباري گڼل شوی او له ابتدایي لوړ متوسطه او عالي زده کړې تر دې حکم لاندې نه راځي او هغه اختیاري زده کړې دي. هغه څوك چې د متوسطو او عالي زده کړو توان لري هغه دا زده کړه کولی شي. له توان څخه منظور دلته مالي او مادي توان نه دی دا ځکه چې زمور په هیواد کې حتی د پوهنتون تحصیل هم وړیا دی او له دې برسیره محصل ته یو اندازه جیب خرچ هم د حکومت له خوا ورکول کیده.

۶۹ **ماده** ـ د احکامو انفاذ:

**«د دې اساسي نظامنامې یوه ماده په هیڅ سبب او حیثیت تعطیل یا د اجرا حکم یې نه ساقط کیږي.»**

د قانونیت او مشروعیت له نظره دا حکم نه یوازې یو په ځای حکم دی، بلکه د تعمیل وړ هم دی. دا چې دا حکم یو بدیهي مطلب دی نورو بعدي اساسي قوانینو دا نه دی را اخیستی او صرف نظر یې ورڅخه کړی دی. مگر په عمل کې حکومتونو دی حکم ته توجه نه ده کړې. د اساسي قانون ډیر احکام د حکومتونو له خوا له نظره غورځول شوي دي. که په اساسي قانون کې بیگار منع وو، حکومت په خلکو بیگار کړی دی، که په اساسي قانون کې زهر ورکول او شکنجه کول منع شوي وو حکومتونو هغو احکامو ته اعتنا نه ده کړې، داسې چې هغه یې په عمل کې نافذ نه دی گڼلی. د دی علت دا دی چې حکومت ځان مجبور نه دی بللی او د خپلو اعمالو د کنترول او نظارت قدرت یې په خپل مخ کې نه دی لیدلی.

۷۰ **ماده** ـ د احکامو تعدیل:

**« د ایجاباتو له مخ که چیری د دی اساسی نظامنامی د مندرجو موادو د تغییر او تبدیل ضرورت پیښ شي د دولت د شوری د دوو ثلثو آرا او د وزیرانو د عالي مجلس تصویب واخیستل شي او بیا د اشرف همایونی په حضور عرض کیږي. او د شاهانه حضور له منظوری وروسته د هغې تغییر او تبدیل ممکن دی.»**

دا حکم د نوو احکامو له جملې او د روم ـ جرمن له حقوقو یو اخیستنه ده. پخوا تر دې له داسې حقوقو سره زموږ هیوادوال آشنا نه وو خو وروسته تر دې د اساسي قانون د احکامو تعدیل زموږ ، په هیواد کې معمول شو، مگر شکل یې هسې ساده نه و، لکه چې په دې اساسي

نظامنامه کې راغلي دي. د نظامنامو د دورې له ختم سره د دولت شورى هم له منځه ولاړه او په بعدي اساسي قانون کې یې ځای ملي شورى او د اعیانو مجلس او وروسته له هغه ولسي جرګې او د مشرانو جرګې ونیو او د اساسي قانون د مادو د تعدیل او تغییر پروسیجر ځان ته اشکال غوره کړل او د لویې جرګې له صلاحیت څخه وګڼل شو.

**۷۱ ماده** - تشریح او تفسیر:

**«د دې اساسي نظامنامی یا د دولت د نورو نظاماتو د یوې مادې تشریح او تفسیر که لازم ولیدل شي، د دولت شورى ته حواله کیږي او د دولت د شورى له توضیح او د وزیرانو د عالي شورى له تصویب څخه وروسته طبع او خپریږی.»**

دا حکم هم د نوو احکامو له جملې څخه و او د روم - جرمن له حقوقو اخیستنه ده. دا اصل په بعدي قوانینو کې له تغییراتو سره را واخیستل شو. د عادي قوانینو تشریح او تفسیر د ملي شورى له صلاحیته او د اساسي قانون د تشریح او تفسیر مسأله تصریح نه شوه.

**۷۲ ماده** - د نظاماتو د تنظیم په وخت کې:

**«د نظاماتو د تنظیم په وخت کې د اهالیو معاملات او د زمان غوښتنی مخصوصاً شرعی احکام په دقت په نظر کې نیول کیږي.»**

د دې اصل په اساس دولت تعهد کوي چې د قانون جوړولو په وخت کې به د خلکو ترمنځ جاري معاملات، خصوصاً شرعی احکام په نظر کی نیسي او د هغو له رعایت سره سم به نوي قوانین جوړوي. د دی مطلب رعایت د اعلیحضرت امان الله خان له خوا کیده.

په لومړی مرحله کې د عصر ځینو مشهورو علماوو د قانون په

جوړولو کې برخه لرله او وروسته د هغوی له نظره د قانون تکمیلي مرحلې طې کیدی. نو له دې جهته د شرعي اساساتو مغایر کوم قانون نه جوړیده خو که بیا به هم د ځینو علماوو په نظر کوم قانون شرعي صنوف درلود، له هغه قانون څخه صرف نظر کیده. د دې مطلب د پوره درک کولو لپاره به دلته د صغیرې د نکاح موضوع د مثال په توګه راوړله شي.

د نکاح نظامنامه چې په ۱۳۰۱ ه ش کال کې نافذه شوې وه او په هغې کې د صغیری نکاح منع شوې وه. دا نظامنامه د ۱۳۰۳ هـ ش کال په لویه جرګه کې بیا هم مطرح شوه او ځینو علماوو له اعلیحضرت څخه وغوښتل چې د صغیرې نکاح باید منع نشي، امیر امان الله خان د هغوی په ځواب او د صغیرې د نکاح په منع کې مفصله بیانیه ورکړه چې دلته به یې ځیني مطالب په اختصار راواخیستل شي:

«... څرګنده ده چې په افغاني خاوره کې ډیرې دښمنۍ او بدۍ د صغیرې له نکاح را پاځي. دوه کسه په یوې بیوزلې نجلۍ چې د هغې زړه د هغو دواړو غوښتونکی نه دی، دعوه کوي او هر یو د خپلې مدعا د ترلاسه کولو لپاره جایز اور ناجائز وسایل استعمالوي.

دا چې دا مظلومه نجلۍ په صغارت کې په مشروع او یا نامشروع توګه له دې دوو کسو یوه ته په نکاح ورکړل شوې او یا هیڅ یوه ته په نکاح نه ده ورکړل شوې مګر یوه په ناحقه توګه د نجلۍ د ګټلو لپاره دعوه وړاندې کړې ده. له ډیرو مصارفو او مناقشاتو وروسته دعوی ګټي او نجلۍ نکاح کوي. د دې برې او کامیابی اثرات د هغه حریف، چې ښځه یې بایلودلې دی مجبوروي چې هغه ته بل سرې ته مالي او ځان تاوان ور ورسوي او دا مسأله ورځ په ورځ وخیمه کیږي. له بلې خوا مظلومه منکوحه چې جبراً د پیسو شاهد او محکمې

په زور د هغه سړي ښځه شوی او طبعاً او قلباً هغه د اکراه په نظر ګوري او له هغه سره مینه نه لري د هغوی ژوند خوار او په مال او اولاد کې یې برکت نه دي. په دې ارتباط اعلیحضرت نورو هغو نقصانونو ته اشاره وکړه چې د نجلۍ د صغارت په وخت کې موجود نه وو خو د کبارت په زمانه کی هغه نقصانونه منځ ته راغلي دي او نارینه مجبور دي چې له هغې سره واده وکړي او یا عکس د دې د نارینه په ژوند کې نقصانونه وړاندې شوي او د نجلۍ شتمنه کورنۍ د نارینه له خواری کورنۍ سره د خپشی رضایت نه لري او دا د مناقشاتو موجب ګرځي. په پای کې اعلیحضرت دا وغوښتل چې په آینده کې باید د صغیرانو نکاح ته اقدام ونشي.

د لویې جرګې نماینده ګان دیني علما ځینی د اعلیحضرت پر خوا او ځیني د هغه په خلاف ودریدل او خبرې یې وکړې. حضرت صاحب وویل: «...د صغیری نکاح د فقه له مهمو مسایلو ده... حتی ځینی مرتاضینو د صغیری نکاح، پر دې دلیل چې حضرت رسالت پناهی ام المؤمنین حضرت عایشه صدیقه (رض) په صغارت کې نکاح کړې ده، مسنون هم بولي. نو له دې کبله رجا کیږي چې د صغیری نکاح جایز او دعاوې یې په محکمو کې منع شي » *(لویه جرګه، ۱۳۰۳ ص ۱۸۳)*

مولوي عبدالواسع د اعلیحضرت په خوا را پاڅید او وې ویل: « کوم حکم چې د صغیرې د نکاح په منع کې راغلی صحیح دی. د اولو الامر امر په داسې مسایلو کې د وجوب حکم لري. دا ځکه چې دا د اصولو مسلمه مسأله ده چې ضعیف قول او قیل لفظ د اولوالامر امر د وجوب مرتبې ته رسوي، حال دا چې د صغیری نکاح مباح ده.

دا چې د مباح له فعل سره د اولوالامر امر یو ځای شي ظاهراً د وجوب حکم پیدا کوي. دا چې د صغیرې نکاح د فقهې په کتابونو کې

صرف جواز لري او دا چې د هغې په خلاف د همايونی حکم صادر شوی، ظاهراً او شرعاً ممنوع گرځيدلی دی. *(لويه جرگه، ۱۳۰۳، ص ۱۸٤)*

د مولوي عبدالواسع خبرې وروستۍ خبرې نه وي د هغه په خلاف هم نور دلايل وويل شول او په آخره کی اعليحضرت د صغيری د نکاح له منع کولو صرف نظر وکړ او وی ويل:« شرعيه امور چې په دې نظامنامې او په نورو نظامنامه کې راغلي دي تميز يې په دې علماوو پورې اړه لري چې د تاسې په حضور کې حاضر دي او ما دوی ته ويلي وو چې هيڅ داسې يو مطلب چې له شرعيت څخه خلاف وي پرې نږدي چې په نظاماتو کې داخل شي ». *(لويه جرگه، ۱۳۰۳، ص ۱۸۷ ـ ۱۸۹).*

۷۳ **ماده** ـ د مراسلاتو مصؤونيت او د دی نظامنامی د اجرا احکام:

**« د مکاتيبو مصؤونيت د اولس له حقوقو دی، د ولس ټول هغه مکاتيب او محصولی مراسلات چې پوستی ته توزيع کيږي، تر څو د يوې محکمې له خوا د تجسس اجازه ورنه کړه شي، په هيڅ يوې پوسته خانې يا کوم بل ځای کې خلاصيدای نشي او هماغسې سر تړلی مرسل اليه ته تسليميږی.»**

د ليکونو او مراسلاتو مصؤونيت چی د اولس د حقوقو له جملی دی بايد د اولس د حقوقو تر عنوان لاندې بيان شوی وای نه په نهايی احکامو کی چی دلته يې د شکل له نظره مناسب ځای نه و، په هرحال دا حکم د نوو احکامو له جملې او د بشر د حقوقو له جملی څخه دی. تر دې د مخه په هيواد د اولس لپاره نه داسې يو حق موجود و او نه داسې يوه دستگاه. د امير شيرعلی خان په دوهمه دوره کې د داسې يوی دستگاه جوړيدلو ته اقدام وشو؛ ډاگخانه پرانيستل شوه خو دا

اقدام یو محدود اقدام و او هغه دوره یوه لنډه دوره وه، چې بیا یې دروازه وتړل شوه .خو د اعلیحضرت امان الله خان په دوره کې د اساسي نظامنامې د پورتني حکم په اساس دا حق خلکو ته ورکړل شو د خلکو د مراسلاتو فزیکی مصؤونیت چې د خلکو لیکونه او لیږل شوي پارسلونه به د پستي له لارې صحیح او سالم مراجعو ته رسیږی او دا د مراسلاتو او پارسلونو د محتوی مصؤونیت چی څوك به یې خلاصوي او مینځ به یې نه ګوري، د اساسي قانون په حکم تضمین شو.

دا پوسته چې د اولس لیکونه یو بل ته رسوي، او هر څومره چې یوه ټولنه پرمختللی او مترقي وي. دا پوستی ارسال او مرسول وسایل هومره پراخ وي او شبکه یې له ښارو وتلی او تر کلو هم رسیږی او په نسبي بیرته پاته ټولنو کې یوازې لوی ښارونه پسته خانی لري، باید د پخوانیو شاهانو له دولتي پوستو سره مغالطه نشي.

چینی زایر هیون تسنګ چې د اسلام له خپریدو پخوا زموږ هیواد ته راغلی و په دې ارتباط لیکي: « په هر ولایت کې داسې ماموران دي چې د ښو او بدو وقایعو آفاتو او داسې نورو مطالبو خبر ورکوي او دا د وقایعو د ضبط او لیږدلو دفتر ته (نی - لو - پی - چا وایی ) یعنی آسمان رنګه حفظیه Blued Post چې باید د مسوداتو حفظیه ورته وویل شي ». (افغانستان بعد از اسلام، ٥٤٧ مخ.)

اسلامی خلفاوو دا دستګاه برید بلله او هغې ته یې لوی اهمیت ورکاره. منصور د عباسیانو خلیفه ویل: « زما دربار څلورو کسو ته ضرورت لري: داسې قاضي چې د خدای په لار کې د خلکو له ښکنځلو ونه ډار شي، د شرطی خاوند (پولیس) چې ناتوانه له توانا وساتي، د خراج اخیستونکی چې پر رعایاوو ستم ونه کړي او د برید خاوند

چې د دې دریو اخبار په صحیح توګه ماته را ورسوي. (*افغانستان بعد از اسلام، ص ۱٥٤.*)

د پخوانیو شاهانو او خلفاوو د زماني پستي خاص حکومتي اخبار و چې د مامورینو په برخه کې یا د هیواد د اوضاعو په اړوند معیني مامورینو پادشاه یا خلیفه ته یې احوال ورکاوه. دا د خلکو ترمنځ د لیکونو د ارسال او مرسول دستګاه نه دی. پوستي ته په اوسني مفهوم د امیر شیرعلی خان په دوره کې اقدام وشو او د اعلیحضرت امیر امان الله په زمانه کې د لیکونو او مراسلاتو ارسال او مرسول د یوه حق په شان د اساسي قانون په حکم تضمین شو.

د ۷۳ مادې په وروستی برخه کې، د مراسلاتو له مصؤونیت سره سم، د اتهامی حکم، چې په څرګنده توګه د شکل له نظره په مناسب ځای کې نه دی راغلی او د مراسلاتو له مصؤونیت سره هیڅ یو منطقی ارتباط نه لري، داسې راغلي:

«د دې نظامنامې مواد چې د دولت د وزیرانو او د ملت د وکیلانو د آراوو په اتفاق، چې د سمت مشرقی په لویه جرګه کې د افغانستان د علیه دولت د اساس لپاره تصویب شوی د پغمان د لویې جرګې په عالي مجلس کې هم عیناً قرائت او د دولت د وزیرانو او د ملت د وکیلانو او علماوو ساداتو او مشایخو له خوا منظور شوی دی. مورخ ۸ دلو ۱۳۰۳ د اعلیحضرت په مهر کې دا مطلب لیدل کیږي. «په دې کړن وشي.»

د مشرقی په لویه جرګه کې چې هلته ۸۷۲ کسو اعیانو ګډون کړی و جریانات په پښتو ژبه درج شول او بیا له پښتو ترجمه شول. چې دا مطلب خپله له اساسي نظامنامی څرګندیږي، دا چې په مشرقي کې د مجلس جریانات په پښتو و علت یې واضح دی چې هلته ډیر خلك

په دری ښه نه پوهیدل او دا د ضرورت ایجاب و نه د سیاست.

له دې لومړی اساسي قانون څخه وروسته څو نور اساسي قوانین هم چې هر یو یې د خپلې زماني د سیاسي، اجتماعي اوضاعو ښکارندوی دی، منځ ته راغلل، هیله ده داسې امکانات میسر شي چې د هیواد په اړوند هم یو څه معلومات د دی مطالبو د علاقمندانو خدمت ته تقدیم شی.

**ماخذونه:**


۱. د ۱۳۰۳ کال لویه جرگه، کابل.
۲. غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، کابل
۳. محمود طرزی، سراج الاخبار، کابل.
٤. پوهاند حبیبی، افغانستان بعد از اسلام، کابل
٥. د هیواد اساسي نظامنامه او ځینې نورې نظامنامی، اصولنامې او قوانین، کابل.
٦. داکتر پارزگارد، تاریخ فلسفه سیاسی، تهران.
۷. انیس، غلام محی الدین، بحران او نجات، کابل
۸. کشککی برهان الدین، نادر افغان، کابل.
۹. د آلمان او سویس د مدنی، د جزا، د افلاس د پروسیجر او متنی قوانین، (برلین )
۱۰. هانس کوهن. په شرق کې ملي پاڅونونه، ( برلین ).
۱۱. شلیکل برگر، د افغانستان حقوق، ( برلین ).
۱۲. کاالگون، داکتر ویکتور گریگویج، افغانستان در سالهای ۲۳، ترجمه صدیقی، کابل.
۱۳. لیدی سیل، شبخون افغان، ترجمه بیغم، کابل.
١٤. کارل، ل، بکروفریدریك (تکاف) سرگذشت تمدن، ترجمه زهما، کابل.
١٥. مولوی عبدالواسع، تمسك القضات الامانیه، دوهم جلد، کابل
١٦. اوسکارفون نیدرمایه، برلین.
۱۷. هندالك ویلم وان اون، د بشر داستان ترجمه جمال زاده، تهران.
۱۸. یاورسکی، سفارت روسیه تزاری، به دربار امیر شیرعلی خان، ترجمه بریشنا، کابل.

۱۹. آنه، دارید اوگراسمان، د معاصر جهان لوی قرتی سیستمونه، برلین.
۲۰. بورگی، د حقوق او زنده گی مجله، کال ۱۳۹۰، شماره جوزا او سنبله، کابل.

راه پرچم

**د مؤلف لنده پيژندنه**

زه د لوگر د ولايت، د محمدآغي د ولسوالی د بورگ په کلي کې زوکړی يم. پلار مي يو نظامي منصبدار و. تخمين سل کاله پخوا زما پلار له کلي د کابل ښار ته راغی او په عسکری کې شامل شو. د استقلال د استرداد په جگړه کی (۱۹۱۹ م ) د جنوبی محاذ په نظامی قواوو کې، د سر سرنگ کميدان و. د استقلال له گټلو وروسته د اعليحضرت امان الله له خوا تقدير او کنډك مشر شو او له کنډك مشری غنډمشری ته ورسيد او د وطن د نجات د جگړو په پای کې لومړی فرقه مشر شو.

زما د مرحوم پلار محمد ابراهيم راتگ کابل ته او بيا د هيواد په پلازمينه کې د هغوی ميشته کيدل د دی سبب شو چې د زده کړې او تحصيل امکانات زمور. کورنۍ ته ميسر شي. همدا و چې د نجات د ليسې له فراغت او د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي له تحصيل وروسته د دولت مامور شوم.

ځلور کاله د ده سبز او د پغمان ولسوال وم. د پغمان په ولسوالی کې ماته د شرعياتو په پوهنځي کې د حقوقو د تدريس د استادی افتخار هم حاصل شو.

په ۱۹٦۳ کال کې له داخله وزارت څخه بيرته د معارف وزارت ته راغلم او دوه کاله وروسته په آلمان کې د عالي تحصيلاتو شرايط را ته په برخه شول. په ۱۹۷۱ کال کې مي د هامبورگ د پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې د داکتری ديپلوم ترلاسه کړ او هيواد ته راوگرځيدم.

په کابل کې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استادی را په برخه شوه. ډیره موده نه وه تیره چې د استادۍ د حقوقو په حفظ د عدلیې په وزارت کې د قانون د جوړولو د ریاست چارې هم راوسپارل شوې.

د ثور د انقلاب د کدرونو په تصفیې کې د قانون جوړولو په ریاست کې غړی شوم. کله چې انقلاب په شا ولاړ زه د اساسي قانون د جوړولو او د علمي حقوقي تحقیقاتو د انستیتوت د چارو رئیس شوم او د حقوقو په پوهنځي کې د حقوقو د تدریس چارې راوسپارل شوې. په نوموړو وظایفو کې تر هغې مصروف وم، چې د تنظیماتو د جګړو په سبب زموږ د استوګنې په سیمه کې د اوسیدو مجال نه و او قسمت تر پېښوره را ورسولم.

زما کوم ادبي، علمي لیکنې او ترجمې چې چاپ او خپرې شوې هغه دا دي:

۱. د کوتفرید کلر، سویسی لیکوال د ناول ترجمه « کالی سړی جوړوي، یعنې خلك پر سړي د کالیو له مخې قضاوت کوي. دا اثر د اصلاح د ورځپاڼې په یو سلسله ګڼو کې په پښتو ژبه خپور شو.
۲. د کارل ایوار، جرمنی لیکوال د ادبي، تاریخی ناول د پښتو ترجمه « دوه بول » تر عنوان لاندې، چې د انسان تکامل د یوې قصې په توګه بیانوي، د کابل د مجلې په یوه سلسه ګڼو کی چاپ شو.
۳. د آلمانی مشهورو شاعرانو، لکه ګویته او شیلر، اشعار او اجتماعي آثار په پښتو ترجمه او د هیواد په جرایدو کې خپاره شول.

٤. دوه لنډې قصې د« سيلاب، او «در زير کافی مهتاب» تر عنوان لاندې د اصلاح او انيس په ورځپانو کې په دري ژبه خپرې شوي.
٥. د « خانګل » تر عنوان لاندې يوه لنډه قصه په پښتو ژبه د کابل په مجله کې خپره شوه.
٦. د مليت علمي تشريح او د ماديت او معنويت تر عناوينو لاندې دوه تحقيقي مضمونونه لومړی يې په پښتو ژبه په اصلاح او دوم يې په دري ژبه د انيس په ورځپانه کې خپاره شول.
٧. « د پغمان اجتماعی او حقوقي پيښې، د حقوقو په مجله کې خپور او په انيس کې اقتباس شو.
٨. د آلمان د کلاسيکو ليکوالو پيژندنه او د آثارو نمونی اثر چې په آلمان کې په دري ژبه خپور شوی. د هغه اثر يوه برخه بورګی ترجمه کړې ده.
٩. په افغانستان کې د غربی حقونو اخيستنه رساله چې په آلمانی ژبه ليکل شوی او په آلمان کې خپره شوې ده.
١٠. زموږ په هيواد کې نافذ حقوقي سيستمونه، د حقوق او زنده ګی د مجلې په يو لړ ګڼو کې په دري ژبه خپاره شول او د مجلې د سقوط په اثر نيمګړی پاته شول.
١١. د افغانستان د مامورينو د قانون سيستماتيکه څيړنه، په پنځو ټوکونو کې په دري ژبه د سترې محکمې له خوا له چاپ لاندې ونيول شول، څلور ټوکه يې چاپ او پنځم ټوك يې د دولتي مطبعې د حريق له کبله له مينځه ولاړ.
١٢. د معاصرې نړۍ مهم حقوقي نظامونه د داويد رنه او ګراسمان اثر، له آلمانی ژبې په څلورو ټوکونو کې په پښتو ترجمه او چاپ ته سپارل شوی دی.

۱۳. د مقايسوی عيني حقوقو درسي کتاب چې د کابل د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي له خوا خپور شوی دی.
۱٤. يو لړ اجتماعي مقالې په پښتو ژبه چې د وفا د جريدې او د خپلواکی د مجلې له خوا خپرې شوی دي.